# سپین بیرغ بیا په رپېدو شو

س ــــــــــ

تاسو به له مطبوعاتو څخه اوریدلي وي، چې دوه اونۍ وړاندې قطر کې داسلامي امارت خپل دفتر خلاص کړاو د دفتر په انګړ کې یې په رسمي توګه خپل سپین بیرغ چې سپیڅلې کلمه پرې لیکلې وه پورته کړو. که څه هم بظاهردیوه بیرغ پورته کیدل، یا د دفتر خلاصیدل څه اهمه خبره نه ده، هر چیرته داسي کارونه تر سره کیږي، خو د سپین بیرغ پورته کول بیا ګڼ مهم ټکي اوځانګړتیاوي لري، هغه داسي چې دښمن د همدې بیرغ د ښکته کولو لپاره د دنیا له ګوټ ګوټ نه ۱۳ کاله وړاندې فوځونه را ټول کړل، تر څو همدا بیرغ ددوی په اټکل سرنګون !کړي، دوی طالبانو ته په هیڅ بشري ارزښت قائل نه و، له مرګ څخه پرته یې ورته بل علاج نه در لود، یرغلګرکه څه هم په خپل اټکل دیوڅوشپوورځوپه مخ دکامیابۍ غورځې پرځې وکړي ، دوي په لاس په ټول هیواد کې سپین بیرغونه ښکته کړل شول ځای یې د امریکا د لاسپوڅو او متحدینو بیرغونو ونیو.

د دوه زره یو کال خبره ده، امریکایانو اوبه خړې کړې او په افغانستان یې حمله وکړه، په افغانانو او په ځانګړي توګه په طالبانو پسې یې وحشت اوبربریت ټول نیرنګونه اوحربې په کارواچولې !

د دښمن حمله سخته وه، مطبوعات یې هم په واک کې وو، شمالي ټلوالې یې هم پوره مرسته کوله، ګڼو تش په نامه جهادي ډلو هم ورته ښه راغلاست وویل، د نړۍ ټول هیوادونه ورسره ملګري و، د وخت فرعون بش اعلان وکړ، چې نړیوال هیوادونه باید یا خو له موږ سره ملګري شي او یا دې جګړې ته ځان چمتو کړي. همداسي د امریکا د د فاع وزیر اعلان وکړ، چې طالبان له مرګ څخه پرته بل علاج نه لري، ځکه خو یې د جنګې په کلا کې په زرګونو طالبان شهیدان کړل. ټولو اسلامي هیوادونو ورته له ډاره سر ټیټ کړ او خپله مرسته یې ورسره اعلان کړه.

که څه هم یوشمیرمسلمانان له سختې نا امیدۍ سره مخ شوو، ځیني تر دې حده پورې نا امیده شوو، چې په اوتو بوتو سره شوو، ځینو به ویل د طالبانو سنه ختمه شوه بیا به څوک د ملا عمرمجاهد نوم هم وا نخلي، یا دا چې نړیوال طالبان بالکل نه شي زغملای، داسي کسان هم په دې ګډوډوویلو کې شریک وو، چې تر یو حده پورې حساب هم پرې کیدو.

ولې د اسلامي امارت مشرتابه له خپل اسلامي دریځ څخه په شا نشوه، په کلکه یې د مقاومت هوډ وکړ، له هرقسم مشکلاتو او قربانې سره سره یې له پنځوسو څخه زیاتو هیوادونو مشترک یرغل ته غیږ ورکړه، د هیواد مسلمان او متدینو خلکو هم د دوی مقاومت او جهاد ته ښه راغلاست وویل، هر راز مرسته یې ورسره پیل کړه، دا مقاومت نړیوالو داسي انګیرل لکه د میږتون او فیل مقابله او چندان د اهمیت په سترګه یې ورته نه کتل، ولې په دوهم کال دښمن ته ثابته شوه چې طالبان ختم شوي نه دي، او له نظره نشي غورځیدای، طالبانو خپلو غلچکې او فدایې بریدونو ته زور ورکړل چې دښمن سخت وارخطا شو، د پنځوسو هیوادونو په متحد لښکر کې شکست ګډ شو، یو یو د تېښتې لار غوره کړه، د صلیبیانو سوچ هله سر ته راغی چې اوبه له ورخه تیري وې، نو لومړی یې د خپل شکست د تور داغ پټولو له پاره مختلف قسم تبلیغات وکړل، د طالبانو په منځ کې د اختلاف اچولو کوششونه یې وکړل، پخوانې مجاهدینو څخه یې د طالبانو په خلاف ګټه پورته کړه او د اربکیانو په نوم یې ملیشه را منځته کړه، خو د الله تعالی په فضل د دوی دا ټولې هڅې ناکامې شوې، نه په طالبانو بر لاسي شوو، نه یې په هیواد کې امن تامین کړ، نه یې هیواد له اداري فساد څخه وژغوره او نه یې د ترقي په لوري د یادونې وړ مهم کار تر سره کړل، لنډه دا چې یرغلګرپه هر محاذ کې له شکست سره مخ شول، نو اخیر مجبور شو د خپل شرم پټولو په خاطر د مذاکراتولارغوره اودخبرومیزته راشي، هما غه ووچې د قطر په پلازمینه دوحه کې یې اسلامی امارت ته د دفتر د خلاصیدو اجازه ورکړه او د دیارلس کلونو له وقفې څخه وروسته یو ځل بیا سپین بیرغ په هوا کې په داسي توګه وزري ووهلې چې د ټولې نړۍ د مطبوعاتو د پام وړ وګرځیدواو ان شاء الله نزدې ده چې په ټول هیواد کې یو ځل بیا د پخوا په څیر سپین بیرغونه ورپیږي.

دا بیرغ نه د چا په ډپلوماسي رپیدلی، نه د چا په دریم ګړیتوب، نه د چا په هوښیاري، نه د چا په سیاسي منډوتړلو، بلکې علت د رپیدو او د دفتر خلاصیدو یواځې د امارت واضح اسلامي دریځ ، د سنګر د خړو طالبانو سرښندنې او د فدایانو قربانیانې او تندریز بریدونه دي.

همدې بیرغ په خپلو رپیدو سره د فیل په غوږ کې ویده اسلامې نړۍ ته پیغام ورکړ، چې له خوبه را پاڅیږئ، له کافرانو څخه ځان خلاص کړئ، له هغوی څخه د خلاصون اونجات یواځینی لاره علمی مبارزه ده ، که جهاد مو خپل کړ، د الله لپاره مو قربانی ورکړه، نو که

# ارګ ته د سپین بیرغ د مشروعیت او قابلیت پیغام !

خبیر احمدم

دکابل دارګ شغالانو او داریاناهوټل دسی ای اې جنایتکارانو دافکر کری وو چې که بله هره سیمه او مرکز داسلام د سرښندونکو او هدفمندو اتلانوله لوري هدف ګرځیدای شي ، دوی اوو دانی یې لدې امله مصؤنې او بې خطره دی چې له شاوخوانه دڅوامنیتي کمربندونو په توسط کلک څارل کیږي اوپه غزیدلو لاروپرته له وزیرا و امریکایی جنرالانوهغه هم په هغه صورت کې چې مخصوص کمپیوټري کارډونه ورسره وي بیا سفر کولای شی؛ خو دعزم او قربانی لښکرو دغلیم داورو ستی ځآله او تکتیک هم دایمان په وسله ناکاره ، تول امنیتي خنډونه یې ګانته مسخر او تاریخي ګوزاریې سرته ورساوه .

دراپورونو له مخې څو تنه اتلان چې په درنو وسلو ، مهماتو او په خاصو تکتیکو نو او مهارتونو پوښلي وو دسهار په ٦ نیمو بجو الله تعالی ورسره داعنایت وکړچې رومبی داریاناهوټل چې دامریکااستخباراتي شبکې له تیرو ١٣ کلونو راپه دې خوالوی مرکز دی تر بریدلاندې ونیسي او دڅوچاودنو په توسط دهوټل تولې دروازې اوشیشې والوزوي او تر څو ساعتونو پورې یې په تورولوخرو کې ایسار وساتي تاسې خپله باورو کړی چې په دغسې یوحالت اوبریدکې به موجودوامریکایانو ته څومره زیان اومرګ ژوبله اوښتي وي ،اسلامي امارت ته دموثقوراپورونو په توسط معلومه شوې چې په هوټل کې د٢٠ تنو په شاوخوا کې دسی ای اې جنایتکاران وژل شوي اودوه برابره نورتپیان شوي ، ځکه چې له پیښې ورسته ګڼو امبولانسي چورلکو له هوټل نه مړه اوتپیان دبګرام په لوریوورل

دغه راز اتلانو وکړای شول چې پرمخ ولاړ شي دنوروچاودنو په زریعه دارګ دشمالي برخي دخاصې لارې مهم پلتنې ګای اوچک پوست په بل مخ واړوي چې دمعلوماتو له مخې جګړه دومره نیږدې وه چې په ارګ کې هغو خبریالانو چې دکرزي او دامریکادخاص نماینده (جیمز دابینز) ترمنځ دکیدونکي خبري کنفرانس په هیله هلته جمع اووربلل شوو ګینو خبریالانو دنومونو دنه خپراوي په شرط داسلامي امارت خبري سرچینوته ویلي چې دزې دومره نیږدې وي چې مونږ فکروکړ طالبان دارګ دننه ننوتلي ، ځکه له ارګ نه

هرچاهڅه کوله چې پيښي سپکې کړي اوياچيرته دکومې ونې اوديوال شاته ځان خوندي کړي ، دخبريالانوپه ويناهماغه وه چې دډزوله لړ‌ارامې ورسته يوه تن ماموروله ګل خانی مانی په ډيرې ورخطايي راغی اووي ويل چې په اصطلاح ولسمشرخوندي ځای ته ولاړ خبري کنفرانس لغوه اوعلت يې په ارګ ننی بريدپه ګوته شوی .

دکابل امنيتي اوبګيلوچارواکوبياڅوساعته ورسته په داسې حال کې چې دپيښې له ځای نه دليدنې اجازه يې يوه خبريال ته هم ورنکړه صرف همداتکي يې اخواديخواکول چې بريدکونکی يې تول له پښو اچولي ، چارواکو اوامنيتي موظفينوته هيڅ زيان ندی رسيدلې اوجګړه پای ته رسيدلې .

خوخلک پوهيږي چې بريدکونکي شپږ ياتته تنه وه اومقابل شميره يې ۴ زره تنه چې په هوايی ځواک اوهرډول وسلواووسايلو سمبال ول اوله بلې خواله ۸ مجاهدينوسره هومره وسلې اومحدودمهمات په لاس کې ول چې ايله يې دوه ساته پرې جګړه پرمخ بيولي وای اوله بل لوري دهغوی هدف داوه چې دجګړي په دوران کې به دشهادت جام په سراړوي ، ځکه تللي اودومره خطرونه يې منلي دهمدې مقدسې هيلې لپاره وو، نواوس دې دجنګ اوپوځي چاروبې غرضه ماهرين ووايي چې جګړه چاوګټله ۸ تنو اوکه ۴ زروتنو !!؟

دفارس نيوز دراپوراوتحليل له مخې که څه هم دبريدوکونکوشمير ۸ تنه ووخو نيږدې ۲ ساعته دارياناهوټل اودارګ په شمالي دروازو کې له خاصو امريکايي عسکرواوداخلي قواووسره لاس په لاس درنه اوخونړی جګړه ترسره کړه اودغه لږشميري بريدکونکي په دې وتوانيدل چې له ۱۲ کلونوورسته ځان دارګ دروازوته ورسوي اوهلته داڅرګندپيغام پريږدي چې دوی څومره غښتلي اوبرلاسي دي

په ارګ ،ارياناهوټل اودډفاع وزارت په مانی دمجاهدينودغه ورستی بريد له دې امله ډيرمهم اوپريکنده وو چې دکابل رژيم اودارګ واکمنوپه قطرکې داسلامي امارت دبيرغ اولوحې په وړاندې يوډول مزاحمت اوګستاخی ته ملاتړلې وه ، رژيم نړی ته داويل غوښتل چې دافغانستان داسلامي امارت په نوم دوی څوک نه پيژني ؛ خودکابل په ارګ بريد په ډاګه کړه چې سپين بيرغ اوداسلامي امارت نجات بښونکی نوم اوعنوان له څومره مشروعيت اوقابليت څخه برخمن دي ، که له يوې خوادسياست اوديپلوماسی په ميدان کې داسلامي امارت نوم کارولی اوسپين توغ رپولی شي ، له بل لوري دارګ په مستحکمې کلا اودروازوکې هم داسلامي امارت دقوت اوشتون ثبوت په ډاګه کولای شي

دکتونکوپه اند که يوبل داسې ګوزار داسلام دسرسپارلو اتلانو له لوري دکابل شريدلې اداره ته ورکړل شو دلوی خدای ج په نصرت به ډيرژراعلان وکړي چې سپين بيرغ هم مني ، داسلامي امارت نوم اوعنوان ته درناوی هم کوي؛ خوپام چې نوردغسې قيامت خيزه بريدونه ورابانـدي تکراراوترسره نکړی !

ياده دې وي چې دکابلدورستيو فدايي شاځلميانوپه کتارکې يوتن سرسپارلی مجاهد حافظ شفيع الله جان هم وو دغه اتل دافغانستان په سطحه دروحانيت ، تقوااوعلم دمنل شوي اومشهوري کورنی ( دکابل دموسهی دسهاکواخندزاده صاحب شيخ الحديث والقران مولانامحمدنبي جان رحمه الله لمسی ، دشيخ الحديث والقران مولاناعبدالقدوس جان رحمه الله وراره اودشيخ الحديث مولانافيض الله اخندزاده صاحب دزړه ټوټه ځوی وو، الله تعالی دنومورې خاندان فيوضات اوبرکات نورهم ساري اودايم ولري اودغه ستره قربانی دې ورته قبوله وګرځوي ( امين )

د عـــــــــــا :

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:
د پنځو کسانو دعاګانې په خاص ډول سره قبليږي . د مظلوم دعا څو پورې چې هغه بدله واخلي ، د حج کوونکي دعا څو پورې چې کور ته نه وي راغلی ، د مجاهد دعا څو پورې چې شهيد او ددی دنيا نه رخصت شوی نه وي ، د مريض دع...ا څو پورې چې جوړ شوی نه وي او د يو ورور د بل ورور د پاره غايبانه دعا): رواه البيهقي فی دعوات الکبير

# د قطر دفتر هيلې او ننګوني!

عبدالرحيم ''ثاقب''

دروان کال دغبرګولي دمياشتې په ۲۸ نيټه دسه شنبې په ورځ ديولړ ديپلوماتيکومراسمو په ترڅ کې په قطرکې داسلامي امارت سياسي دفترپرانستل شوچې دغه افتتاحي مراسم دقطر هيواد دبهرنيو چارو وزارت تر اشراف لاندې ترسره شول.

کله چې دلومړي ځل لپاره دطالبانو او امريکايانو ترمنځ په قطرکې دمذاکراتو اعلان وشو زياتره محللين په دې باوروول چې طالبان به په دغو مذاکراتوکې دامريکايانو په مقابل کې دتنازل او انعطاف پذيري له مخې له خپلو يولړ لوړو غوښتنو څخه لاس په سر شي ، خو ددغه دفتر په پرانستونکې وينا کې طالبانو په ښکاره وضاحت سره دخپلو محوري غوښتنو په يادولو سره په دې خبره ټينګار وکړ چې ددې دفتر له ايجاد څخه يې اصلي موخه دهيواد اشغال پای ته رسول او له هغه وروسته ورکې ديوه خپلواک اسلامي نظام رامنځته کول دی.

دقطر دفتر دتأسيس ضرورت.

کومه اساسي ستونزه چې له تيرو ۱۲ کلونو راهيسي طالبان ورسره مخ ول هغه د دوئ لپاره ديوه داسې ادرس نشتون وه چې دهغه له سياسي اوديپلوماتيک حصانت نه په استفادې سره نړيوالو ته خپلې مشروعې غوښتنې او پيغام ورسوي.

له همدې کبله د۱۲کلن مقاومت په جريان کې ځينې داسې مهمې پيښې رامنځته شوې چې هغه ددغه شاني يو ديپلوماتيک دفتر دنه شتون له وجې له ډيرو مشکلاتو سره مخ وې.

دبيلګې په توګه په کال ۲۰۰۷ کې دطالبانو دپنځوتنو لوړرتبه مشرانو دتبادلې په مقابل کې دايټالوي ژورنالسيت دانييلي ماسترو جاکومو دتبادلې پيښه ، همداشان د۲۰۰۷ کال دجولای په مياشت کې په غزني کې دطالبانو او کوريا هيواد دلوړرتبه چاروا کو ترمنځ د۲۳تنه کوريايي اتباعو درهايي موضوع اوداسې نورې په لسګونو دبهرنيو اسيرو

اتباعو له متبوعو هیوادونو سره دهغوئ درهايي پروسې چې زياتره يې تراوسه هم دطالبانو ديوه مشخص سياسي دفتر دنه شتون له امله له مشکل سره مخ دي.

چې ددغه سياسي دفتر په ايجاديدلو سره به دخپلو نورو فعاليتونو ترڅنګ داشانی ستونزوته هم په خپل وخت سره رسيدګي کيدای شی.

د قطر دفتر دطالبانو غوښتنه که دامريکايانو ضرورت ؟

امريکايانو د نړيوال پوځي ايتلاف او ناټو ترڅنګ په مستقيمه مرسته پوره دولس کاله دطالبانو دله منځه وړلو لپاره پوځي هلې ځلې وکړې، خو په طالبانو يې هيڅ بری ترلاسه نکړای شو او دتريلونو ډالرو له خساري اولسګونو زره پوځيانو له وژل کيدو او زخمي کيدو وروسته يې په ناچاره توګه راتلونکی ۲۰۱۴ کال له افغانستان څخه دټولو بهرنيو ځواکونو دبيرته ايستلو نيټه اعلان کړې.

داچې امريکا او ناټوترڅنګ دنړۍ په کچه ترټولو مقتدر پوځي طاقتونه او اوس دخالي لاسه طالبانو لخوا له يوې ښکاره ماتې سره مخ دی نو هغوئ له همدغه فضاحت څخه دخلاصيدو لپاره په سياسي اوپوځي لحاظ داسې يوه جوړجاړي ته ضرورت لري چې دهغه په وسيله ځانته دختو پوزي په ښودلو سره نور له دې تباهی نه ځان وباسي.

دقطر دفتر ايجاد تصادفي پيښه نه بلکې امريکايانو دهغه دايجادولو لپاره له ډيره وخته راهيسې له مختلفو جهتونو او هيوادونو سره مشترکې هلې ځلې په کار اچولې وې.

په دې اړه دالقاعده تنظيم دريم نمبر شخص او ددغه تنظيم دشرعي کميټې مشر ابو حفص الموريتاني کوم چې دامريکايانولخوا دهغه په سر ۲۵ ميليونه ډالره انعام ټاکل شوی وه او اوس په موريتانيا کې په خپل کورکې تر څارنې لاندې ژوندکوي له الجزيره شبکې سره په خپلې وروستۍ مرکې کې داسې وايي:

زه چې کله له ايران څخه دموريتانيا هيواد په وساطت خپل هيواد اوکورته راوستل شوم امريکايي استخباراتي چارواکي ماته کورته راغلل او راته ويې ويل چې مونږ اوس پوهيدلي يو چې په طالبانو باندې زمونږ پوځي بريا ناشونې ده، نو مونږ اوس څه وکړو چې له افغانستان څخه زمونږ لپاره دسوله ايزپرشاتګ تضمين وکړي؟

ابوحفص وايي چې ماورته وويل چې دطالبانو په خلاف ستاسې ټولې پوځې هڅې بيځايه او بې ګټې دي ستاسو لپاره دحل اساسي لاره داده چې تاسو له طالبانو سره کينئ له هغوئ سره خبرې وکړئ او دهغوئ مشروعې غوښتنې ومنئ !....

همداراز په قطرکې دطالبانو ددفتر تر پرانيستنې يوه ورځ مخکې رويټرآژانس رپوټ ورکړ چې دناروې هيواد دبهرنيو چارو وزير Aspen Barth ددغه هيواد حکومتي ټلويزون ته په خپلو څرګندونوکې وويل چې امريکايانو په سرې توګه په ناروې هيواد کې دطالبانو له چارواکو سره پټ مذاکرات درلودل چې په ترڅ کې يې دقطر ددفتر پرانيستلو ته زمينه مساعده کړای شوه.

دقطر دفترپرانيستلو په اړه دنړيوالو غبرګون.

دقطر دفتر له پرانيستنې سره سمدستي دامريکې ولس مشر باراک اوباما او دبريتانيا لومړي وزير ډيويډ کميرون خپل غبرګون څرګند کړ او ددغه دفتر پرانيستنه يې په افغانستان کې دسولې ټينګښت لپاره يو مهم اقدام وباله.

همداراز روسيې هند اوپاکستان ددغه دفتر افتتاح د افغانستان او سيمې د سولې لپاره ګټور بللی دی.

ناروی ،جرمني او قطر هيوادونو هم په خپل رسمي موقف کې ددغه دفتر تاسيس دسولې دتأمين په لاره کې يو مثبت اقدام بللی.

همداشان په کابل کې دملي جبهې وياند په قطر کې د طالبانو د دفتر له جوړېدو څخه خپل مشروط ملاتړ اعلان کړ

اودا لـومړی ځـل دی چې د حکومـت سیاسـي اپوزیسـون لـه طالبانو سره د سولې د خبرو ملاتړ کوي.

خو ددغه دفتر دافتتاح په اړه دنړیوالو دمثبت غبرګون ترڅنګ دکرزي رژیم موقف بلکل منفي او پـه دې خبره یې سخت اعتـراض څرګنـد کـړ چـې ولـې دغـه دفتـر د اسـلامي امارت دسیاسي دفتر په نوم اعلان شو.

دقطر د دفتر دندې او مسؤلیتونه.

طالبـانو پـه خپلـه پرانیسـتونکې ویناکې ددغـه دفتـر اهداف او دندې په لاندې توروکې مشخصې کړې:

۱- دنړۍ لـه هیوادونـو سـره دتعلقـاتو دښـه کولـو لپـاره افهام او تفهیم او خبرې کول.

۲ -د یو داسې سیاسي او سوله ایز حل ملاتړ کول چې پـه هغه کې دافغانستان داشغال خاتمه، او هلته د یـو خپلـواک اسلامي نظام قایمېدل، او واقعي امنیت راتلل چې دټول ملت غوښتنه او هیله ده یقیني وي.

۳ - د وخت له مقتضی سره سم لـه افغانانو سره لېدنې کتنې تر سره کول.

۴- له ملګرو ملتونو، نړیوالـو او سیمه ایزو سـازمانونو او غیر حکومتي موسساتو سره تماس نیول.

۵ .د اوسـنیو سیاسـي حـالاتو پـه اړه سیاسـي بیانونـه دمطبوعاتو په اختیار کې ورکول.

که څه هم چې امریکایانو یـواځې داغوښتل چې لـه دغـه دفتـر نـه دطالبـانو لپـاره دیوه ادرس پـه توګـه کـار واخلي خو طالبـانو هغـه دادرس پـه توګـه نـه بلکـې د اسـلامي امـارت دسیاسـي دفتـر پـه حیث اعـلان کـړ چـې پـه هغـه کـې بـه لـه امریکایـانو سـره دمـذاکراتو ترڅنـګ طالبـان خپـل سیاسـي فعالیتونه هم همزمان پرمخ بیایي.

د قطر دفتر له افتتاح سره دکرزي دمخالفت لامل.

سـره لـه دې چې لـه تیـرو ۸ کلونـو راهیسـې کـرزي لـه طالبانو سره د سولې شعار زمزمه کوي او ددې کار لپاره یې دسـولې شـورا هـم ایجـاد کـړې خـو نـن چـې پـه واقعـي توګـه دسولې دیوه مؤثر مرکز رامنځته کیدلو زمینه مساعده شوه کرزي ورسره خپل مخالفت اعلان کړ.

او هغه له دې وجې چې هم دکرزی مخالفینو (طالبانو) او هم یې مؤتلفینو( امریکایانو) نوموړی نسیا منسیا ددفتر په پرانستلو کې له پامه وغورځاو، همدا لامل وه چې نوموړي یـې پـه اعتـراض کـې پـه نمایشـي ډول لـه امریکایـانو سـره داستراتیژیک تړون په سر خبرې وځنډولې.

په افغانستان کې هم چې کله امریکایان په دې وپوهیدل چې دکرزي دفاسد اوناکام حکومت پـه موجدیت کـې نـور دهغوئ مصالح دتحقق چانس نه لري هماغه ده چې له پامه یې وغورځاوه.

خبـره یـواځې دکـرزي پـه لـه پامـه غورځولـو کې هـم نـه خلاصیږي بلکې که امریکایان لازم وګڼي دکرزي په خلاف بـه له هغه افشن نه کار اخیستل هم دریغ نه کړي کوم چې روسانو په کال۱۳۵۸ هش کې دخپل خلاق رهبر نورمحمد تـره کي او حفیظ الله امین په خلاف تري کار واخیست.

ددقطر دفتر دایجاد لپاره ولې دغه وخت وټاکل شو ؟

که څه هم چې دقطر دفتر دایجادولو لپاره لـه تیـرو دریـو کلونو راهیسـې دطالبـانو او امریکایـانو تـرمنځ هلـې ځلـې روانې وې خو پـه دې وروسـتیو کې چې کله دایران دولت پـه رسمي بلنه دطالبانو یو لوړ پوړی پلاوی تهران ته سفر وکړ او هالته یې له ایراني چارواکو سره پـه ځینو موضوعاتو خبرې وکړې دی جریان له امریکایانو سره دا اندیښنه پیدا کړه چې ښـایي امریکایـان پـه افغانسـتان کـې لـه طالبـانو څخـه دامریکـایي مصـالحو پـه خـلاف داسې استفاده وکړي لکـه څرنګـه چـې یـې امریکایـان پـه سـوریه کـې دبشـار الاسـد دراپرځولو په غرض له سوریایي وسله والو څخه کوي.

په تیره کله چې د ایران په انتخاباتو کې حسن روحاني بریالیتوب ته ورسیدو او هغه اعلان وکړ چې مونږ د سوریې دلانجې حل یواځې په دې کې وینو چې د سوریې له مشروع حکومت (بشارالاسد ) سره خبرې وشي دي اعلان نور هم امریکایان له تشویش سره مخ کړل او په مقابل کې یې د سوریایي وسله والو مخالفینو د پوځي مرستي او مسلح کولو پریکړه وکړه.

طالبانو ته د ایران رسمي دعوت او بیا د ایراني رسنیو لخوا د هغه اعلانول هم د امریکایانو د تنبیه کولو په غرض ترسره شول.

هماغه وه چې امریکایانو هم د موضوع د حساسیت په درک کولو سره بالمقابل له طالبانو سره د تفاهم او سیاسي جوړجاړي په غرض د قطر دفتر د پرانیستلو پروسه چټکه کړه ، د اسې عاجلانه چټکتیا چې د جانبینو ترمنځ یکې ځیني مهم ټکي مبهم پاتي شوول چې وروسته وربانديې د دواړو لوریو ترمنځ اختلافات هم راپیدا شول او د طرفینو ترمنځ یې د ترسره کیدونکو مذاکراتو جریان ترپیلیدو له مخه له خنډ سره مخ کړ.

د قطر دفتر او په افغانستان کې د جګړې د ختمولو په لاره کې د هغه موثریت.

د قطر دفتر د افغانستان په لانجه کې د دوو مهمو لوبغاړو (طالبانو- او امریکایانو ) د دوه اړخیز توافق په منځ کې



تاسیس شوی ، دلته به د ترسره کیدونکو مذاکراتو او اجرآتو اصلی ترکیز له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو په وتلو باندې وي او د دې په څنګ کې به په خپل وخت او زمان کې طالبان خپله سیاسي تګلاره او د افغانستان د جریاناتو په اړه خپل مواقف هم له دغه دفتره نړیوالو ته اعلاموي.

داچې په افغانستان کې د نا امني اصلي لامل بهرنی اشغال دی طالبانو هم د دفتر په پرانستونکې اعلامیې کې ترټولو له مخه د اشغال خاتمه د خپلو لومړیتوبونو په سر کې ځای کړې او د دفتر د ایجاد اصلي هدف یې هم دغه ټکی ټاکلی.

د قطر د دفتر ایجاد په آنی ډول په افغانستان کې د طالبانو او بهرنیو ځواکونو په پوځي مقابلې په سوړوالي او کموالي هیڅ تاثیر نشی غورځولی ، چې د دې ادعا ښکاره ثبوت د طالبانو لخوا په بګرام باندې د هغه توغندویي برید ترسره کول دي چې د دفتر د پرانیستنې په سهار ترسره او په ترڅ کې یې څلور امریکایي پوځیان ووژل شول.

د قطر د دفتر اصلي رول له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو او د بندیانو د تبادلې په پروسه متمرکز دی، چې پورتنې د واړه عوامل په افغانستان کې د جګړې اساسي وجوهات بلل کیږي او په له منځه تللو سره یې په طبیعي ډول سولې ته په خپله زمینه مساعده کیږي.

د قطر دفتر د طالبانو که د اسلامي امارت سیاسي دفتر؟

هغه څه چې د دغه دفتر په مقدماتي اجرآتو کې د جانبینو ترمنځ په ابهام کې پاتې دې هغه د دفتر نوم او د هغه کاري اجرآت دي.

طالبانو په لومړئ ورځ دغه دفتر د اسلامي امارت په نوم اعلان کړ او په دغه دفتر کې ترسره کیدونکي فعالیتونه یې هم په **۵** نقطو کې مشخص کړل ، خو وروسته چې د کرزي حکومت په همدغو مشخصاتو سره د دفتر په موجودیت امریکایانو ته خپل شکایت وکړ نو د امریکې د بهرنیو چارو وزیرجان کیری قطري چارواکوته دستورورکړ چې د هغه له

مخه قطري چارواکو له دفتر څخه د اسلامي امارت دلوحې اوبيرغ ليري کولو خبر په رسنيو کې نشر کړ.

نړيوالورسنيو د اسلامي امارت د بيرغ ښکته کولو او لوحې ليرې کولو خبر په داسې حال کې نشر کړچې هغوئ د دغې صحنې هيڅ ډول ژوندي ثبوت ندی ورسره نشر کړی او نه د دغې ليکنې ترليکلو پورې په حقيقت کې د اسلامي امارت بيرغ او لوحه ليرې شوې يا ښکته شوې.

هغه څه چې په دې اړه واقعا ترسره شوي هغه دا چې بيرغ يو متر ترپخواني حال راښکته او لوحه هم د دفتر د بهرنې ديوال په ځای د دفتر د حريم په داخلي ديوال نصب شوې.

خلاصه:

د افغانستان جګړه د امريکايانو لپاره تر ټولو اوږده او له پوځي او اقتصادي تلفاتو ډکه جګړه بلل کيږي، په همدغې جګړې کې د امريکې په تاريخ کې دلومړي ځل لپاره د امريکايي پوځ مربوط يو سرتيری( بوبرګډال ) د افغانانو لخوا اسير کيږي او د خلاصولو لپاره يې امريکايان هيڅ وس هم نه لري.

دا هغه وجوهات دي چې امريکايان يې په سر بد اله ډول نور د دغې ملاماتوونکي او شرموونکې جګړې د پايته رسولو هڅه کوي، د قطر د دفتر هم د دغه اساسي هدف لپاره د امريکايي مقاماتو په توافق جوړشوی د ابه وروسته وليدل شي چې امريکايان په خپل د غه هدف کې ترکومه حده بريالیتوب ته رسيږي، هغه څه چې په او سنيو شرائطو کې د افغانستان په پوځي صحنه کې ليدل کيږي هغه دا چې د امريکايانو په مقابل کې جنګيدونکي طالبان دلوړ پوځي مورال په درلودلو سره د بهرينو په خلاف خپل مقاومت ته دوام ورکوي او د بهرنيانو له بې قيد او شرط وتلو پرته په هيڅ شي پخلاکيدلو ته زړه نه ښه کوي.

**هغه کسان چې له يخو اوبو سره مينه لري حتماً دی يې ولولي.**

ترډوډۍ وروسته هرکس دا غواړي چې يو ګيلاس يخې اوبه وڅيښي خو کله چې يخې اوبه تاسو وڅيښی نو هغه غوړ مواد چې په غذا کښې دی هغه کلکوی چې ورسره دهاضمی پروسه کمزوری کوی بيا کله چې همدا غوړ له ...تيزابونو سره تعامل وکړی پارچه کيږی ترغذايی موادو مخکی دوی جذبيږی دکولمو په ديوالونو کښی ځای نيسی او په وازګی بدليږی او د سرطان سبب کيږی .

بهتره داده چې تر ډوډۍ وروسته معتدل حرارت لرونکی اوبه وڅيښی په ژمی کښی داوبو رسولو پيپونه ولی ماتيږی ؟

کله چی جامده ماده په مايع اړوو نو انرژی بايد ورکړل سی ترڅو په مايع واوړی خو کله چی مايع په جامد اوړی نو خپله انرژی ازادوی او هغه انرژی ديوبل جسم اويا دهوا اتموسفير ته جذبيږی .

کله چی اوبه ګنګل... کيږی نو جسامت يی ۹ څخه تر ۱۰ سلنه جګيږی ځکه داوبو دهرو ځلورماليکولوونو ترمنځ خاليګاه رامنځته کيږی نو همدی وجه ده چی جسامت زياتيږی په همدی وخت کښی خپله انرژی ازادوی کله چی اوبه په پيپ کښی وی او بيا ګنګل کيږی نو داجسامت زياتوالی پر پيپ ډيرزيات فشار راوړی چی په نتيجه کښی دپيپ دماتيدو سبب کيږی.

هيره دی نوی ديو کيلو ګرام داوبو دګنګل او يخی کيدو په مرحله کښی **۵۵،۳۳۳** ژوله انرژی ازاديږی چی همدانرژی هم پرپيپ ماليکلونو باندی فشار رواړی او ماتوی يې.

# روژه

تعالی Ψ له نعمتونو څخه لذت واخلو
او که مو همدا موسم هم تش د تېر په
شان له لاسه ووت نو په دې باید
وپوهیږو، چې خپل عمر مو ضایع کړ
او نېکمرغي مو په برخه نه سوه.

امام ابن الجوزي ﷺ فرمایي:

مولوي سید محبوب

## د رحمت، برکت او مغفرت میاشت

ګرانو مسلمانانو!

مخکې تر دې چې دا مبارکه میاشت راورسیږي، راځئ چې په بشپړه امانتداري او رښتینولي له ځانه سره ځینې پوښتنې مطرح کړو، تر څو دا میاشت بې له خالصې توبې، طاعت او عبادت څخه زموږ د لاسه ولاړه نه سي او د هغې قیمتي شېبې وړیا ضایع نه سي. خدای Ψ خبر چې بل کال به موږ او دغه د برکت، مغفرت (بخښنې) او رحمت میاشت سره مخ سو او که نه.

آیا موږ په همدغه مبارکه میاشت کې د توبې ایستلو عزم کړی دی؟ آیا له ګناهونو او منکراتو څخه مو د لاس د اخیستلو او د کایناتو د لوی پروردګار سره د نیکو اعمالو د سرته رسولو او د یوې نوې صفحې د پرانیستلو اراده کړې ده؟

آیا موږ د دې مبارکې میاشتې د ورځنې عبادت لپاره یو منظم تقسیم اوقات برابر کړی دی، چې د هغه له مخې د همدغه مبارک موسم د شپو او ورځو هرکلی وکړو؟

که موږ رښتیا هم پر تېر وخت پښېمانه یو، چې هسې مو له لاسه ووت او په راتلونکې کې د ګناهونو او شرعي مخالفتونو د پرېښودلو هوډ مو کړی وي نو رښتیا هم چې موږ د ژوندانه په ارزښت پوه سوي یو او نور به خپله آینده رغوو، په همدې شکل به موږ له معنوي سکون او د الله تعالی له نعمتونو څخه لذت واخلو او که مو همدا موسم هم تش د تېر په شان له لاسه ووت نو په دې باید وپوهیږو، چې خپل عمر مو ضایع کړ او نېکمرغي مو په برخه نه سوه.

انسان ته په کار دی، چې د خپل وخت عزت او قدر وپېژني او یوه شېبه هم د الله تعالی د رضاء د لاس ته راوړلو څخه پرته په بل څه کې ضایع نه کړي او یو تر بل غوره او نېک کارونه او نیکې خبرې ځان ته خپلې کړي او تل یې د خیر د کارونو داسې پوخ نیت کړی وي چې کله هم پکښې سستي او ستوماني محسوس نه کړي.

له عامر بن قیس ﷺ څخه نقل سوی دی، چې یو چا ورته وویل: خبرې راسره وکړه، هغه په جواب کې ورته وویل: د یو څو شېبو لپاره لمر ونیسه زه به خبرې درسره وکړم.

### رښتیا هم چې عمر ډېر په چټکۍ روان دی.

هغه څوک چې دنیوي کاروبار او تجارت کوي یوه شېبه هم د یوه ډېر نږدې ملګري لپاره وخت نه ضایع کوي او که کله هم د ګټې یو چانس ورته په لاس ورسي نو پالتو یې له لاسه نه ورکوي او که یې له لاسه ووزي ډېر وربا ندې خواشینی او غمجن وي. موږ داسې اخروي موسمونه چې په هغه کې د الله تعالی سره تجارت زموږ لپاره زیاتې ګټې لري ولې په پام کې نه نیسو، تر څو د نیکو عملونو او عبادتونو لورته ګړندي سو او هغه

ستري ګټي چي د الله تعالی له لوري ثوابونه او اخروي بې شمېره نعمتونه او دنیوي نېکمرغی دي لاس ته راوړو.

دغه د روژې میاشت هغه لوی فرصت دی، چي نېکان ورته تیاری نیسي او پرهېزګاران ډېر ورته خوشحاله وي او ویښ مسلمانان یې په ډېر مینه انتظار باسي. دا میاشت د ګناهونو د بخښلو، د جنت د ګټلو او د جهنم له عذابونو څخه د نجات موسم دی، خو د هغه چا لپاره چي زړه یې روغ، اندامونه یې په شرعي موازینو برابر وي او د همدغي مبارکي میاشتي ورځي په خوب کولو او شپه یې په قطعه بازی، د تلویزوني فلمونو او ډرامو په کتلو او په بې ځایه محفلونو تیري کړي نو د روژې نیولو له اجر او ثواب څخه بېشکه بې برخي سو.

دا د ګوتو په شمېر یو څو شپې او ورځي دي، چي کله میاشت راد بره سي وربه ندي پوه نه سو، چي څرنګه ووتله نو راځئ چي له دې اخروي تجارتي موسم سره په هغه شکل تعامل وکړو لکه د دنیا د تجارت له موسمونو سره چي یې کوو، که رښتیا مو په دې یقین وي چي یوه ورځ له دې فاني نړۍ څخه تلونکي یو او هلته موږ د نیکو اعمالو سرمایي ته اړتیا لرو.

رسول الله ρ فرمایي:

عن ابي هريره τ قال: قال رسول الله ρ رغم انف رجل ذكرت عنده فلم يصل علي ورغم انف رجل دخل عليه رمضان ثم انسلخ قبل ان يغفر له ورغم رجل ادرك عنده ابواه الكبر فلم يدخلاه الجنة . (رواه الترمذي)

ترجمه: له ابوهریره τ څخه روایت دی، چي رسول الله ρ وفرمایل: د هغه چا دي پزه په خاورو سپېره سي، چي زه یې په مخ کي یاد کړل سم او پر ما درود ونه وایي او د هغه چا دي پزه په خاورو سپېره سي چي د روژې میاشت ورته راغله او ورڅخه ووتله مخکي له دې چي د ده ګناهونه پکښي وبخښل سي او د هغه چا دي پزه په خاورو سپېره سي چي په ژوند کي یې مور او پلار سپین ږیري سي او دی جنت ته نه ننه باسي (یعني د هغوی خدمت ونه کړي).

## د روژې فضایل

د رمضان د میاشتي روژه نیول د هجرت په دوهم کال کي د شعبان د میاشتي په دریمه د دوشنبې په ورځ فرض سوه. د هغې فرضیت په قرآنکریم او نبوي احادیثو او د امت په اجماع سره ثابت سوی دی، په قصد سره یې خوړل لوی جرم، کبیره ګناه او ډېر خطر ناک کار دی او منکر یې بې له شکه کافر دی، فرضیت یې په لاندي مبارک آیت سره ثابت دی، الله تعالی Ψ فرمایي:

♦×⇦♉🔔⅄✎✂ ⊠♑⑩③❒❄🕔♦③
❁🖬♉☝↗ ☎✂❑⇖☪♦👌✂◆↗
⇖🏳◆⓿⬁♉🕔♍✂ ⇖☠➔⌛⬂⓿■🖬♦⬂
❼■✍♦⇖ ❁🖬♉☝↗ ⊠☺⊠
♊♉👌 ▫⇦♉🔔⅄✎✂
⬀☠↗▤✦🖬⊠➔⬩♍ ⬀☠➔⌛🖬⬀🖮⬩🔔
سورة ⬅⬊♉⊠ ♦♌❑➔☽✸☝⬩✍
البقره-۱۸۳)

ترجمه: اې هغو کسانو، چي ایمان مو راوړی دی پر تاسو باندي روژه نیول فرض ګرځول سوې ده، لکه له تاسو څخه مخکي (پر امتونو، قومونو او پیغمبرانو باندي چي فرض کړل سوې وه) د دې لپاره چي ځانونه د ګناهونو څخه وساتئ او د تقوا خاوندان سئ.

په بل مبارک آیت کي الله تعالی Ψ فرمایي:

♦♌⬩♦👌◆❻ ⇖❷⬀&⊠✸
♉❍⑩♉▫ ♦✌⊠❽☼🡅🕮 ✓❽♉🔔⅄✎✂
❾☩⑨➔♎ ⇖♌✂◆↗⬀❷➔☽⬂♍✂
⬄❑❑✡🖬♉♍
⌘♊♉♓👌 🖴💣🕔❑✡♓❹♦◆❒
▤❽⊠⑨⇦♑⬂♍✂
🗐 ⬀♌⬩🔔⬀❷➔⬂♍✂◆❒
⇖☠↗▤✡♉👌 ⊠⑨&⊠✸ ♊⊠☺⬩▫

←❍⇧☺⋂⌚◆⑩▫◘•▫ ♦❷⬀&⊙☆✎
☎ (سورة البقره-۱۸۵ آیت)

ترجمه: د روژې میاشت هغه میاشت ده چې په هغې کې قرآنکریم نازل سوی دی، چې هغه (قرآنکریم) د خلکو لپاره هدایت، لارښوونه او ښکاره دلیلونه دي چې حق او باطل سره بېلوي، نو کوم مکلف مسلمان چې دا میاشت ولیدله نو ضروري دي د هغې میاشتي روژه ونیسي.

رسول الله ρ فرمايي:

عن بن عمر τ قال: قال رسول الله ρ: بنی الاسلام علی خمس شهادة ان لا اله الا الله و ان محمدرسول الله و اقام الصلاة و ايتاء الزكاة والحج و صوم. (صحيح البخاري)

ترجمه: د عبدالله بن عمر τ څخه روایت دی چې رسول الله ρ وفرمایل: د اسلام دین پر پنځو شیانو جوړ دی.

۱. دا شاهدي ورکول، چې د الله تعالی Ψ نه پرته بل څوک د عبادت وړ او لایق نسته، دا شاهدي ورکول چې محمد ρ د الله تعالی Ψ رسول او پیغمبر دی.
۲. او د لمانځه درول (کول).
۳. او د زکات ورکول.
٤. د حج اداء کول.
٥. د رمضان د میاشتي روژه نیول.

رسول الله ρ فرمايي:

عن ابي هريرة τ قال: قال رسول الله ρ من صام رمضان ايماناً و احتساباً غفر له ماتقدم من ذنبه. (صحيح البخاري)

ترجمه: د ابي هريرة τ څخه روایت دی، چې رسول الله ρ وفرمایل: چا چې له الله تعالی Ψ د اجر او ثواب د غوښتلو په نیت درمضان د میاشتي روژې د ایمان او عقیدې په رڼا کې ونیولې، نو د هغه تېر گناهونه به ټول وروبخښل سي.

په بل حدیث شریف کې راغلي دي:

عن ابي هريرة τ عن النبي ρ قال: اذا دخل شهر رمضان فتحت ابواب السماء و غلقت ابواب جهنم و سلسلت الشياطين. (صحيح البخاري)

ترجمه: حضرت ابوهريرة τ د پیغمبر ρ څخه روایت کوي چې هغه مبارک فرمایلي دي، چې: کله د رمضان میاشت داخله سي د آسمان دروازې خلاصي سي او د جهنم دروازې وتړل سي او شیطانان په ځنځیرونو وتړل سي.

د حضرت سهل τ څخه روایت دی، چې رسول الله ρ وفرمایل، چې په جنت کې یوه دروازه ده چې ریان نومیږي، روژه لرونکي به پر هماغه دروازه جنت ته ننوزي او بل به هیڅوک له هغې دروازې څخه نه ننوزي، اعلان به وسي، چې چیرته دي روژه لرونکي؟ هغوی به (جنت ته) ولاړ سي او بل به هیڅوک نه ننوزي چې کله هغوی (روژه لرونکي) دننه سي وبه تړله سي او په هغه دروازه به بیا هیڅوک جنت ته دننه ولاړ نه سي (یعني دا دروازه د روژتیانو لپاره ځانگړې سوې ده. (رواه البخاري)

همدا ډول په بل مبارک حدیث کې راغلي دي:

د حضرت ابوهريرة τ څخه روایت دی، هغه وایي چې کله د روژې میاشت راورسېدله نو رسول الله ρ وفرمایل:

تاسي ته یو داسي مبارکه میاشت راغله، چې د هغې د روژو نیول پر تاسي فرض گرځول سوې ده. په هغې کې د جنتو نو دروازې خلاصیږي او د دوږخ دروازې تړل کیږي او سرکښه شیطانان قیدکړل کیږي په همدغه میاشت کې یوه شپه ده چې تر زرو میاشتو غوره ده څوک چې یې له خیر څخه محروم سو نو هغه له هري گټې څخه بې برخې سو. (سنن النسائي)

په بل حدیث کې فرمايي: د ابو هريرة τ څخه روایت سوی دی، چې رسول

الله ρ وفرمایل: ستاپروردګار وایي: د هري نېکۍ بدله له لسو څندو څخه نېولې تر اوو سوو پوري کېږي، الله تعالی فرمایي چي روژه زما لپاره نیول سوې ده او زه به بنده ته د هغې بدله او ثواب ورکوم او روژه د اور څخه ډال دی او د روژاتي د خولې بوی الله تعالی ته د مشکو تر خوشبویي زیات خوشبویه دی، نو که یو ناپوه په جهالت سره په روژه لرونکي تېری کوي نو ورته ودي وایي چي زما روژه ده. (رواه ترمذي)

په بل حدیث کي فرمایي: د حضرت ابوهریرة τ څخه روایت دی، چي رسول الله ρ وفرمایل: چا چي (په روژه کي) دروغ ویل او د ګناه کارونه نه پرېښودل نو الله تعالی چا ته ضرورت نه لري. چي خوراک او څښاک ورته پرېږدي. (رواه البخاري)

## د روژه نیونکي لپاره دوې خوشحالۍ

امام بخاري په خپل کتاب د سند سره ذکر کړي دي: (للصائم فرحتان یفرحهما: اذا افطر فرح و اذالقي ربه فرح بصومه).

ژباړه: د روژه نیوونکي لپاره دوې خوشحالی دي، چي هغه خوشحاله کوي: کله چي ماښام روژه ماته کړي نو خوشحاله سي او کله چي د الله تعالی سره مخ سي نو بیا په خپله روژه خوشحاله سي.

## د روژه نیوونکي دعا نه ردیږي، یعني قبلیږي

د حضرت ابوهریرة τ څخه روایت دی چي پیغمبر ρ فرمایلي دي: د درو کسانو دعا نه ردیږي: عادل پاچا، روژه نیوونکی تر څو چي روژه ماته کړي او مظلوم. (سنن ابن ماجه)

## د قدر د شپې فضیلت

د قدر شپه د روژې په میاشت کي تر ټولو غوره او بهترینه شپه ده، الله تعالی Ψ په قرآنکریم کي فرمایي:

←❍🕔☐✡⬂🙦♦❽☼❒🕮 ✎🙤✵☼🙰🌒
🙽❻⇧⑨⬩🌒⬂🙦🙤✃ 🙾🕯⬩✃⬂⓿⬩🙦 ❼🙰🗴
✎🙤♦👌◆❒ ⮈⮊⮉
🡽🕯⬩✃⬂⓿⬩🙦 🙤♦👌 ⮹🖮🗁◆❻⬃⑩❒🕮
🙽⮈🙿⮉ ❻⇧⑨⬩🌒⬂🙦🙤✃
🙽❻⇧⑨⬩🌒⬂🙦🙤✃ 🡽🕯⬩✃⬂⓿⬩🙦
⮋✃⬂🙦❒🕮 ⇧♊🙾♓👌 ⮘❸⬀❷⮹🏵
✸⮹🙵⬀❷🙦 ⮈🙿⮉ (سورة القدر-۱، ۲، ۳)

ترجمه: موږ نازل کړی دی دغه (ټول قرآن) د قدر په شپه او څه شي پوه کړې ته (اې محمده) چي د قدر شپه څه ده (د عزت او شرافت له پلوه؟) د قدر شپه غوره ده له زرو میاشتو څخه (هغه زر میاشتي چي دغه د قدر شپه پکښي نه وي).

سبحان الله! ګرانو مسلمانانو تاسي زرو میاشتو ته حساب وکړئ چي څو کاله کېږي، یعني په دغه شپه کي طاعت او عبادت د زرو میاشتو تر عبادت هم زیات دی.

رسول الله ρ فرمایي: هغه څوک چي د ایمان او اجر له امله د قدر شپه ویښه کړي (عبادت پکښي وکړي) مخکني ګناهونه به یې ورته وبخښل سي... د حدیث نوره برخه مخکي ترجمه سوې ده. (صحیح البخاري)

## د قدر د شپې مخصوصه دعا

اللهم انک عفو تحب العفو فاعف عنا!

د روژې فضایل دومره ډېر دي که ټول حدیثونه یې را ټول کړل سي یو لوی کتاب ځني جوړیږي. دلته همدومره کفایت کوي په نورو کتابونو کي یې کتلای سئ.

## د روژې په قصداً خوړونکی لوی بدبخت دئ

د حضرت ابوهریره τ څخه روایت دی، چي رسول الله ρ وفرمایل: کوم سړی چي د شرعي عذر نه پرته د رمضان المبارک یوه روژه وخوري، نو که د روژې د میاشتي پرته ټول عمر روژه

ونیسي د هغې یوې روژې ځای نه نیسي. (رواه احمد، ترمذي و ابوداود)

ګرانو مسلمانانو وروڼو او خویندو!

په دې کې څه شک نسته چې رمضان مبارکه میاشت د اجرونو او ثوابونو میاشت ده. د الله تعالی نېک بندګان او د خیر غوښتونکي انسانان دغه میاشت یو طلایي فرصت ګڼي تر څو په دغه موسم کې د خپلو نېکیو په ذخیره کې زیاتوالی راولي ځکه خو هغوی د اجر او ثواب په کارونو کې دومره زیات مشغول وي چې هیڅ یوه دنیوي کار ته یې ور پام هم نه وي، هغوی نه یوازې دا چې دورځې لخوا روژه نیسي او اپه انساني ټوله نه کې د خیر او ثواب پروګرامونه پر مخ بیايي بلکې شپه یې هم ټوله په نفلونو او قیام او تلاوتونو او د خیر د کارونو د کولو لپاره په پلان ګذاري تېرېږي، خپله هم دیني علم حاصلوي نورو ته یې هم ورښيي، په دعوت او مجاهده بوخت وي، خلک په نېکیو امر کوي او د بدو څخه یې منعه کوي او د ستوماني احساس هم نه کوي، په مقابل لوري کې موږ داسې کسان هم وینو چې روژه خو نیسي او مسلمانان دي خو د زیاتي خوا شینی ځای دی چې په همدغه مبارکه میاشت کې یې د هغې له برکتونو څخه هیڅ ګټه نه وي اخیستې. معمول یې هم داسې وي چې د ورځې په معامله کې دروغ، قسم، په خبرو کې غیبت، ښکنځل، د مسلمان خطا ایستل، غبن فحش او شپه یې په کرم بوټي، شطرنج، قطعه بازۍ، فلمونو او ډرامو په کتلو او اورېدلو تېره سي، پېشلمې کړی یا نه کړی د سهار لمونځ کړی یا نه کړی په روژه مات دومره ډوډۍ وخوري چې بیا د ماخستن لمونځ او تراویح هم ورځني پاته وي.

دغه وروڼه او خویندي باید وپوهوو ځکه دا زموږ او ستاسې دیني مسئولیت دی او د الله تعالی په دربار کې د ځان او ټولو مسلمانانو لپاره د هدایت دعا وکړو.

نن چې د مسلمانانو ډېر بد حال دی او خصوصاً پر موږ افغانانو چې دا ډېرش کاله د الله تعالی مختلف عذابونه نازل دي او ورځې تر بلې په مختلفو مصیبتونو کې اخته کېږو د دې عذابو تر ټولو لوی سبب زموږ او ستاسې ګناهونه دي موږ او تاسې په شعوري او غیر شعوري توګه په مختلفو ګناهونو اخته یو، تر څو چې د الله تعالی په دربار کې په اخلاص توبه ونه کاږو تر څو چې د مسلمانانو په حیث خپل دیني او اسلامي مسئولیتونه ونه پېژنو او ورته متوجه نه سو نو خدای مه کړه دا عذابونه به نور هم زیات سي، نو راځئ چې په ګډه ټول هیوادوال ددغه الهي فرصت نه په استفادې سره په دغه مبارکه میاشت کې خپل پروردګار ته رجوع وکړو او په ټولیزه توګه په ډېر اخلاص، صداقت، رښتیني او نصوحاً توبه وکاږو، الله دې موږ او تاسې ته توفیق راکړي. آمین

## دروژې حکمتونه

د رمضان د مبارکې میاشتې روژې په اسلامي شریعت کې له یوې خوا د الله تعالی لخوا فرض کړل سوې عبادت او د اسلام دریم رکن ګڼل کیږي خو له انساني پلوه هم زیات حکمتونه او اضافي ګټې لري، چې په لنډ ډول اشاره ورته کیږي:

۱. د روژې روحي ګټه:

روژه د انسان روح تصفیه کوي او هغه ته صبر، قوت او استقامت وربخښي، د روژې د رواوالي خورا ارزښتناک حکمت د نفس او روح تزکیه ده، د روژې په واسطه کولای سو، چې پر نفس باندې غلبه حاصله کړو، او پر نفس باندې غلبه حاصلول او هغه په قابوکې راوستل او الهي حکومت او قانون ته د هغه چمتو کول او برابرول په اسلام کې د انسان څخه یوه حتمي او ضروري غوښتنه ده.

حضرت شاه ولي الله رحمه الله په خپل کتاب حجة البالغه کې لیکي: روژه پر نفس

باندي د غلبې لپاره روا سوي ده لکه الله تعالى چې فرمايلي دي: لعلكم تتقون! (ښايي چې تاسي پرهېزګاره سئ) او لکه چې رسول الله ρ فرمايلي دي:

فان الصوم له وجاء (يقيناً روژه د هغه چا لپاره چې جنسي غريزه او شهوت لري او د نکاح قوت نه لري د ناوړه شهوت له منځه وړونکي ده، يوه پوره او صحيحه روژه هغه ده، چې د ځيرونکو حيواناتو (ځناورو) د خويونو او شيطاني ناوړه شهواني اقوالو او افعالو څخه پکښې هم ځان وژغوري، ځکه چې دغسې افعال او اقوال نفس ته بد او ناوړه اخلاق او خويونه ور يادوي او فاسدو کارونو ته يې راباسي. (حجة البالغه، ۲/۱۲۵ مخ)

علامه ابن الهمام په فتح القدير کې په دې معنى ليکلي دي: الله تعالى روژه د ګڼ شمېر ګټو لپاره روا کړې ده، چې د هغې د ډېرو غټو ګټو څخه يوه دا ده چې پر بدو باندي امر کوونکی نفس آراموي او کنټرولوي يې.

۲. اقتصادي ګټي:

روژه د دې تر څنګ چې د الله تعالى يو ځانګړی عبادت دی. د روژه لرونکي لپاره اقتصادي ګټه هم لري روژه هغه ته د دې ښوونه کوي چې هغه بايد سپما وکړي او تل په مړه خېټه ونه ګرځي، هغه د دې پر ځای چې په څلېرويشت ساعتونو کې درې او يا څلور ځلې خپل خېټي ته خواړه ور کښته کړي کولای سي يو ځل او يا دوه ځلې يې په متوسطه توګه مړه کړي، په دې شکل روژه لرونکی کولای سي د خپل څلېرويشت ساعته د خوړو لګښت ۳۵% فيصده ته راکم کړي.

هغه سپمېدلي خواړه چې روژه يې د روژه لرونکي له خېټي څخه سپموي که روژه لرونکی د بېوزلي طبقې څخه وي کولای سي د هغه د معيشت معيار په دې وجه بهتر کړي چې د هغه د يوې ورځې د خوړو مصارف د روژې په برکت د درو ورځو لپاره کفايت کولای سي.

او که روژه لرونکی د شتمني طبقې څخه وي هم د روژې له برکته يې د سپما پروګرام د مساکينو او د هغه په څنګ کې د اوسېدونکو ګاونډيانو او بېوزلانو پر اقتصادي حالت مثبت اثرات پرېباسي هغه په دې شکل چې هغه خواړه چې هغه د خوراک څخه سپميږي کولای سي د دې پر ځای چې خراب سي پر نژدې ګاونډيانو مساکينو باندي ووېشي، بل دا چې هغه مصارف چې د يوه سرمايه دار په ورځني خوراک باندي دوه يا درې ځلي لګول کېدل اوس د روژې په برکت يوځل لګول کيږي، چې کولای سي د پېښلمي لپاره هم استفاده ورڅخه وکړي. دا سپمېدلي مصارف روژه لرونکی کولای سي د ټولني د لوېدلو افرادو د اقتصادي حالت د ښه والي لپاره ولګوي، چې يا خو هغوی ته خوراکي مواد په واخلي او يا ورته د کار او روزګار ځيني مواقع برابر کړي او يا يې يو بل اجتماعي مشکل ورباندي ختم کړي.

۳. اجتماعي ګټي:

همدا راز روژه هر مسلمان ته د شتمنی قدر ور پېژني، د الله تعالى بې شماره نعمتونه چې د انسان ډېر لږ ورته پام کيږي خو روژه يې ورته متوجه کوي چې د همدغو نعمتونو شکر ادا کړي، روژه امير او فقير، پادشاه او ګدا او د ټولني ټول طبقات په مساوي شکل د يوه او بل په څنګ کې د روي، روژه موړ انسان ته د لوږي تکليف ورپېژني او تږي مسلمان ته د اوبو اهميت ورپېژني، روژه سرمايه داران او بډايان پوهوي چې د ټولني لوېدلي طبقات چې د وسايلو د کمښت سره ټول ژوند لاس او ګرېوان وي څرنګه د لوږي له هغه مشکل سره ټول ژوند ډغري وهي کوم چې هغه يې د يوې ورځې لپاره د تحمل تاب نه لري. ځکه خو الله تعالى د هغې د فرضيت اصلي او اساسي مقصد دا ښودلی دی چې مسلمانان د تقوا خاوندان جوړ سي.

٤. د روژې روغتيايي ګټې:

پرمختللي انساني طب دا ثابته کړې ده، چې روژه معده هوسا کوي او د هاضمې سيستم منظم او فعاله کوي او د روژه لرونکي بدن له اضافي وازګو او چربيو څخه خلاصوي خو دا هغه وخت چې روژه لرونکي د روژه مات آداب په پام کې ونيسي، يو څو خرماوې او اوبه په روژه مات وخوري او کوم خوراک چې کوي په هغه کې د اعتدال لاره غوره کړي.

په حديث کې راغلي دي: عن ابي هريرة τ قال: قال رسول الله ρ: صوموا تصحوا. (ابن السني والطبراني)

ترجمه: د ابوهريره τ څخه روايت دی، چې رسول الله ρ وفرمايل: روژې ونيسئ چې صحت او روغتيا ومومئ.

روژه نيول د هغه چا لپاره چې د خوږې (Sugar) په ناروغي اخته وي طلايي چانس دی، چې د روژه لرونکي شوګر ادنی درجې ته راکښته کړي، په دې اساس د پنکرياس غدې ته د ښې هوساينې وخت ورکوي، پنکرياس د بدن هغه برخې دي چې انسولين توليدوي نو کله چې خواړه تر توليد سوي انسولين زيات و خوړل سي د پنکرياس غده د ستوماني سره مخامخ کيږي، چې نه سي کولای خپله دنده سر ته ورسوي، ځکه خو قنديات په وينه کې يوځای کيږي او درجه يې لوړيږي په نتيجه کې يې د خوږې ناروغي منځته راځي.

همدا راز روژه نيول د انسان د زيات وزن په راکمولو کې هم مؤثره ثابيتيږي ځکه په اوس وخت کې زيات وزن د ډيرو ناروغيو سرچينه ده خو په دې شرط چې د روژه مات او پېشلمې په خوراک کې د اعتدال لاره خپله سي.

روژه يوازينی هغه وسيله ده چې انساني جسم د زهرجنو موادو او له نقصاني او مؤذي ترسباتو څخه پاکولای سي، لکه چې يو امريکايي ډاکټر اډوارډبوای Edwar Boy وايي: هيڅ يوه داسې ناروغي او رنځ نسته، چې ځواک يې د روژې په وړاندې د مقاومت توان ولري.

شيخ الاطباء ابن سينا يوه ځانګړې طريقه درلودله، چې د ناروغيو په زياترو حالتونو کې به يې خپل ناروغ په دې مجبورولو چې درې هفتې روژه نيسي او بل دا چې روژه د مختلفو دخانياتو د استعمالوونکو لپاره ښه فرصت دی، چې خپل عمل لکه سګرټ، نسوار، چرس او نور خطرناک مخدارت په آسانه توګه پرېږدي. همداراز د روژې د روغتيايي ګټو په اړه ډېر کتابونه ليکل سوي او ځېرل سوي دي چې مؤلفين يې مسلمانان او غير مسلمانان دي او لوستونکي کولای سي مطالعه يې کړي، دلته همدومره کفايت کوي.

يادونه:

د روژې نيول کومې ګټې چې عصري او طب ښودلې دي دا د اسلام د حقانيت ثبوت او د دې دين تلپاته معجزې دي، چې د هرې ورځې په تېرېدلو سره يې نړيوالو ته حقانيت ښکاره کيږي خو موږ چې روژه نيسو هدف او موخه به مو يوازې د الله تعالی د حکم تعميل، د هغه بندګي او د رسول الله ρ د سنت مطابعت وي، نه دا چې د روغتيا يا د بدن د وزن د کمولو په نيت دا کار سرته رسوو، تر څو چې د اخروي اجر څخه محروم پاته نه سو، خو کوم څه چې موږ ذکر کړل دا د روژې اضافه دنيوي ګټې دي او د هغې د فرضيت ځيني الهي حکمتونه دي.

## د روژې رکن يا فرض

د نس او فرج د شهوتونو څخه لاسنيوی د روژې رکن دی. يا په بل عبارت د خوراک، چښاک او جماع نه کول په روژه کې فرض دي.

يعني هغه شيان چې رژه ماتوي د هغو څخه په کلکه ډډه کول فرض دي. په خوړلو او چښلو کې دا هم شامل دي چې معدې ته په يوه بله طريقه سره خواړه يا درمل ورسول سي او د ښځې سره په کوروالي کې هغه ټول صورتونه

شامل دي چي په هغه سره انسان په اراده سره نفساني خواهش پوره کړي.

## د روژې وخت

د صبح صادق څخه شروع او د ماښام د لمر لوېدو پوري ختميږي.

## د روژې مستحبات او آداب

۱. د لمر لوېدلو سره سم تر لمانځه مخکي روژه ماتول (ځنډول يې مکروه او بې ځايه بزرگي ده، البته چي وريځ نه وي). (شرح التنوير و ردالمختار، ج ۱، ص ۱۸۳)

۲. په لندو يا وچو خورما ګانو، او که هغه نه وي بيا په اوبو سره روژه ماتول، په مالګه سره ماتول صحيح دي خو ثواب نه لري. (بهشتي زېور د زيلعي، ص ۴۴۳، ج ۱ په حواله)

۳. په تاقو شيانو د روژې ماتول.

۴. د روژې ماتولو په وخت کي ماثوري دعاګاني ويل لکه (اللهم ان لک صمت و على رزقک افطرت).

۵. د پېشلمي په وخت کي د يو شي خوړل، که څه هم يو ګلاس اوبه يا شيدې وي.

۶. د پې شلمي ځنډول، خو دو مره ناوخته نه چي روژه په شک کي کيږي. (بهشتي زېور د مراقي الفلاح على حاشيه الطحطاوي، ۳۹۷ مخ په حواله)

۷. د چټي او بدو خبرو څخه د ژبي ساتل، (د بې کاره او ناروا شيانو د ليدلو څخه د سترګو ساتل لکه پرديو ښځو ته کتل، فلم کتل او داسي نور حرام کارونه لکه غيبت، دروغ، چغلي او داسي نور...) نو دا ټول په هر حالت کي حرام دي، او ځان ساتل ورڅخه واجب دي او په رمضان المبارک کي وربانديخاص ټينګار سوی دی.

۸. خپلوانو، غريبانو او اړو خلکو ته خيراتونه ورکول، په روغتونونو کي د مريضانو پوښتنه کول او د هغوی سره مالي کمک کول او تر خپله وسه د علم طلب کول، د ديني مدارسو سره مرسته کول، د قرآنکريم په تلاوت، په درود ويلو، په ذکر کولو او نورو عباداتو کي شپه او ورځ تېرول او اعتکاف کول. (کتاب الفقه، لومړی ټوک، ۹۳۷ مخ)

۹. په روژه کي د شطرنج په لوبه سره وخت تېرول د روژې ثواب له منځه وړي. (فتاوی دارالعلوم ديوبند، ۶ ټوک، ۳۴۰ مخ)

## نيت:

ځکه د نيت ځای زړه دی خو که په خو... دا

## دشپي تياره او دماشوم ډار!

ژ- ل عزم

له تياريکی څخه ډار دماشومانو په وړاندې يوځورونکی او وحشتناک څيز دی، دشپي په مهال چې کله تياره خوره شي ماشومان د۴ نه تر۵ کلونو پورې معمولا له دغه ډول ډار او بيم سره مخامخ کيږي چې په دې برخه کې دموراو پلار چلند ډيرمهم او حياتی دي چې هغوی کولای شي په خپل مهربان او حکيمانه برخورد سره دډار او ويره دغه حالت له ماشوم نه کم او يا بيخي له منځه يوسي.

ددغې ويرې اوډار مهم علت هغه تحولات دي چې دماشومانود خيال اوفکرپه وده کې له ۳ کلونو ورسته رامنځته کيږي، يعنې دماشومانودهغې قوې په وزرونوکې چې په دې دنياکې دڅيزونو او شخصيتونوخيالي دنيا ترسيموي موجوديږي.

ماشومان هغه څيزونه چې دورځې اورڼاپه مهال يې ليدلي اوکتلي وي اولذت يې ترې اخيستي وي، دشپي دتياري په وخت کې ورته ځان ډيرځله په بل رنګ اوډارونکي شکل اړوي اودتکليف او اذيت باعث يې ګرځي.

دماشومان درک او احساس او هغوته پاملرنه چې په رښتياهم هغه واقعي او ريښتونی دی يوه مهمه نکته ده چې موراو پلاراونور مشران ورته ځانګړې توجه واړوي اوداسې نه چې ماشومان له يوې خوادتياريکي ډاراوخيالي بلاووځپلي وي اوله بل لورې يې موراوپلار په داسې تهديدي کلمواوجملوباندې چې (خجالت وباسه وشرميږه، ولې ويريږي ) اوداسې نورو..... هغه دچاخبره له بدنه بدتراودويرې اوبيم فضايې په لوی لاس دوچنده وګرځوي ؟

رواني رنځپوهان وايي چې کله موماشوم وليدچې په خوب اويا په تياره کې وډارشو، بايدموريا پلاريې دغه حالت بې تفاوته پرينږدي ، بلکې ځانته دې ماشوم رانيږدې کړي په ډيرلطف اومرحمت دې ترې وپوښتي چې ګرانه ځويه، ولې وډارشوي اوڅه وويرولي، که يې علت ورته ووايه نوورته دې ووايي چې رازه دواړه ورشوچې ته چاوولې ووېرولې، له دغه ډول خبرواوجملوسره دماشوم تسکين کيږي اوډار ترينه څه ناڅه تښتي.

پوهان داهم وايي چې دماشوم په وړاندې دې موراوپلارهيڅکله دانه وي چې له فلاني ځايه ويريږي اويا هغه خونه اوبرنډه درنه اوپيريانی دی، ځکه په دغه خبروسره دماشوم په مغزوکې دويرې

# آتش در خرمن فرهنگ

جنگ بدون آتش همان تهاجم فرهنگی و استحاله کردن است. اساسا "تهاجم فرهنگی" در مقایسه با تهاجم نظامی یا اقتصادی، دارای ویژگی‌های منحصر به فردی است. تهاجم فرهنگی معمولاً نامرئی و نامحسوس است؛ دراز مدت و دیرپاست؛ ریشه‌ای و عمیق است؛ همه‌جانبه است؛ حساب شده و دارای برنامه و ابزارهای گسترده است؛ گسترده و فراگیر است؛ کارساز و خطرزا است.

علاوه بر این‌ها، "تهاجم فرهنگی" همانند کار فرهنگی، یک کار آرام و بی‌سر و صداست و قربانیان آن بیشتر قشر جوان هستند. در تهاجم نظامی، دشمن با تجهیزات و امکانات نظامی وارد معرکه می‌شود، اما در "تهاجم فرهنگی" نیازی به لشکرکشی و هزینه‌های هنگفت نظامی نیست؛ هم‌چنین دشمن در این تهاجم برای تحمیل حاکمیت فرهنگ خود از همه‌ی حربه‌های سیاسی ـ اقتصادی، نظامی، روانی و تبلیغاتی بهره می‌گیرد. در "تهاجم نظامی" تنها بخشی از مرزها و سرزمین‌های مجاور در تیررس مستقیم دشمن قرار می‌گیرد، اما در "تهاجم فرهنگی" سلاح‌های مخرب دشمن تا عمق خانه‌ها پیش می‌رود و ذهن و قلب انسان‌ها را نشانه می‌گیرد. به همین دلیل است که پس از جنگ جهانی دوم، آیزنهاور رئیس جمهور وقت آمریکا اعلام کرده بود که: بزرگترین جنگی که در پیش داریم جنگی است برای تسخیر اذهان انسان‌ها.

در یک نگاه کلی شیوه‌های تهاجم فرهنگی غرب را نیز می‌توان از دو بعد خارجی و داخلی مورد توجه قرار داد.

در بعد خارجی، مهاجمان با امکانات و موقعیت‌های مختلفی که در مجامع بین‌المللی در دست دارند، از طریق شبکه‌های گسترده‌ی بنگاه‌های تبلیغاتی و سخن‌پراکنی خود می‌کوشند با عناوینی چون نقض حقوق بشر، حمایت از تروریسم، وجود خفقان و سانسور، نبودن آزادی برای زنان و مطبوعات و نویسندگان، جنگ‌طلبی، ماجراجویی و... و با حربه‌های شناخته شده و تکراری، تصویری تحریف شده و ناخوشایند از فرهنگ مقابل در اذهان مردم دنیا ترسیم نمایند و طبیعی است که در این راه، زشت‌ترین و شیطانی‌ترین حربه‌ها را برمی‌گزینند.

در بعد داخلی تهاجم فرهنگی غرب در کشورهای اسلامی به دو شیوه‌ی زیر رخ می‌نماید:

۱ ـ ترویج افکار و اندیشه‌های غیراسلامی و حتی ضداسلامی، تبلیغ افکار التقاطی، تقدس زدایی و توهین به مقدسات، سست نمودن پایه‌های اعتقادی جوانان نسبت به برخی از اصول و آرمان‌ها.

۲ ـ تجددگرایی، علم‌زدگی و عقل‌گرایی افراطی، تلاش در راه تطهیر غرب و غرب‌گرایی، بی‌اعتبار نشان دادن علوم و معارف اسلامی به بهانه‌ی عدم تطابق با دانش‌های نوین بشری، طرح جدایی دین از سیاست، ترویج بی‌حجابی و بدحجابی و پوشش‌های مستهجن و خلاف شؤون اسلامی، رواج مدهای غربی و بی‌بند و باری، تهیه و پخش فیلم‌های

شدیدا ضد اخلاقی و یدئویی، نوار های کاست مبتذل از خوانندگان فاسد و توزیع عکس‌های مبتذل در سطح گسترده، تولید و پخش مشروبات الکلی و مواد مخدر در سطح جامعه، چاپ و نشر کتب و مجلات ضد اخلاقی، جنایی، عشقی و رمان‌های مبتذل، تشکیل مجالس لهو و لعب و…، مشتی از خروارها توطئه‌ی دشمن است. ابزار تهاجم فرهنگی تنها محدود به موارد فوق نیست، بلکه تمام موارد فرهنگ‌های مکتوب، شفاهی، عمومی و تصویری نیز از ابزارهای دیگر این تهاجم هستند. فرهنگ غربی با استفاده از ابزار فوق تخریب فرهنگ اسلامی را مد نظر قرار داده است. مواردی از قبیل تشکیک در حقانیت دین اسلام، انتشار کتاب‌های ضد دینی مانند آیات شیطانی، نفی مقدسات اسلامی و نیز تحدید دین و تلاش برای حذف دین از عرصه‌ی اجتماع از این موارد به شمار می‌آید.

(افغان تلکس)

لوی بری اولاسته راوړنه ده ،څنگه چي اسلامي امارت دهېواد دننه څرگند حقیقت دی

## دقطر سیاسي دفتر!

# دحساس سیاسي سفرپیل!

ابـــــــــ ظهیر.............................

## دذهانت اوفراست لویه ازموینه!!

بالاخر دعربي خلیج ،قطرهېواد په پلازمېنه "دوحه" کې داسلامي امارت سیاسي دفتر دښوشاندارومراسموپه ترڅ کې رسماً پرانستل شو، دپرانستلو څخه لږې شیبې وروسته هغې امریکا چې تل به یې د غرور اوکبرپه لهجه داسلامي امارت دجهادي اوسیاسي موقف له منلو انکار کاواوهمیش یې د خپل عصري ځواک په ژبه خبري کولي اعلان وکړ :" چې طالبانو سره دمخامخ خبرولپاره خپل مرکچیان دوحي ته لیږي!! اوباما هم چې د" جی ایټ" هېوادونو په غونډه کې و،داسلامي امارت دسیاسي دفتر پرانستل یې دمفاهمت په لورد لومړي گام په توگه یاد کړ".

دسیاسي چارو دکتونکو په اند:دطالبانو او امریکایانومخامخ ناسته یا په قطر کې داسلامي امارت په نوم دسیاسي دفتر رسماً پرانستل کوم معمولي بری یاپرمختگ ندی!! بلکې دایو حیراونونکی بری او تاریخي پرمختگ دی !پربل سپیناوي : دا یو له ستونزو څخه ډک سیاسي سفراو حساس دیپلوماتیک پړاوپیل دی، چې په ترڅ کې یې د دوه مخالفو لوریو (امریکا دمتحده ایالات اودافغانستان اسلامي امارت ) استازي دمخامخ ناستي او خبرو دپیل لپاره ځانونه چمتوکوي !

داسلامي امارت دسیاسي دفتر په نوم ددغه دفتر رسمي پرانستنه واقعاًپه سیاسي اودیپلوماتیک ډگر کې او په تیرو دولس کلو کې دامریکا دتیري په وړاندي دجهاد درهبری،دمقاومت د تنظیمولو او امریکا ته دشکست ورکولوو یاړ ور په برخه دی،په قطر کې ددفترپرانستلو بهیر وښوده چې له هېواده بیرون هم اسلامي امارت دیوه لوی سیاسي واقعیت په توگه ځان منلی ! په باورسره دغه بدلون به راتلونکي کې دهېواد دننه د سولي اوثبات په راوستو اوټېنگښت مثبت تاثیرات ولري.

که څه هم دې روان بهیرته په بشپړه توگه شفاف اودباور وړ جریان نشي ویل کېدای ولې ددواړو لوریو ترمنځ بې باوري هیڅکله کمه شوي نده اونه ددواړو لوریو ترمنځ دپاخه باور او اعتماد فضا شتون لري ؛ له دې وجې داپوښتنه تراوسه بې ځوابه پاتې ده چې ددواړولوریو ترمنځ دکېدونکي تفاهم اومصالحت بنه به څه وي ؟ خو بیاهم ددغه دفتر له لاري اسلامي امارت ته په نړیواله توگه دخپل سیاسي موقف دتشریح اوروښانه کولو فرصت په لاس ورتلل په سیاسي ډگرکې یوه لویه لاسته روړنه اوسیاسي بریاضرورده !اوپاتې شوه داپوښتنه چې ایا روان بهیر واقعبینانه دی ؟ یا په افغانستان کې دروان ناورین د پای

ته رسولو سره به مرسته وکړي کنه ؟ په دې اړه څه ویل ګران اوله وخت وړاندې دي !ولې تراوسه چې په کومه بڼه دقطر بهیر روان دی، هغه ته په کتو د کومې لوی خوشبینی تمه اوتوقع یا په اړه یې وړاندوینه کول انتظار غواړي !

ولې ښکاره ده چې دقضیې ددواړو طرفنیو (د امریکامتحده ایالات او اسلامي امارت ) ترجیحات سره ټکر او توپیر لري !البته دسیاستوالو په اند: دافهام اوتفهیم ددغه بهیر که څه هم متزلزل دی دتعمیري اهمیت نه یې انکار ناشونی دی دهغوئ په وینا: ترټولو دپام وړتعمیري بدلون چې په دوحه کې داسلامي امارت ددفتر پرانستلو وروسته څرګند او ولیدل شو ، هغه دقضیې ددواړو لوریو (اسلامي امارت اودامریکا متحده ایالات ) مخامخ خبرو اومذاکراتو ته رضاکېدل دیوه داسې پیغام اشاره ده چې ګواکې دواړه لوري دجنګ دپای ته رسولو په لور ګوري.. !!

هو! دامریکا یو شمېر څواکونه چې له افغانستانه دوتلو پر لار دي ، خو د۲۰۱۴زترپایه هغه (امریکا) پخپل ټول سیاسي اوپوځي توان به هڅه وکړي چې افغانستان کې دخپلو پوځی هډو جوړولوته لاره هواره کړي ، که په کې ورته بری ور په برخه شو خوښه...؛ اوکه نشو هغه (امریکا) د۲۰۱۴زترپایه خامخاخپل ټول څواکونه باسي ... خو دوتلو څخه وړاندې ضرور ځانته داوړو پوزه جوړوي چې : په راتلونکي کې باید دیوولسم ستمبر پشان بله پېښه تکرار نشي !! څوخپلو خلکوته ووایي چې :افغانستان نور ددوئ (امریکایانو ) لپاره ګواښ ندی ...پربل سپیناوي امریکابه له اسلامي امارت څخه ددې تضمین اووعده وغواړي :چې په راتلونکي کې دافغانستان خاوره ددوئ دګټو پر ضد ونه کارول شي ! داسلامي امارت دریځ ته په کتو ویلای شو چې هغه به په اسانه داتضمین اوژمنه و کړي چې دافغانستان خاوره به دامریکا په ګډون د هیڅ کوم بهرني هېواد په ضد نه کارول کېږي البته ددې ژمنې په بدل کې اسلامي امارت خپله دا لویه غوښتنه ( چې امریکا دې دافغانستان ازادي اومني ! خپل ټول ځواکونه دې سملاسي وباسي !دافغانستان ناروا اشغال دې پای ته ورسوي) په امریکا هم اومني ! دځینوکتونکو په اند:بالفرض که مذاکرات و هم نشي امریکا د۲۰۱۴ ترپایه داسلامی امارت داغوښتنه پوره کوي اوخپل ځواکونه و باسي !

دنړیوالو چارو څېړونکي د متقابلوخواوو لپاره دا غوره اوضروري بولي چې نړیواله ټولنه باید رسماً اسلامي امارت(طالبان) د قانوني اوحقوقي پلوه د مذاکراتو دبرخې په توګه اومني څوباور اواعتمادته لار هواره شي ،ولې د اسلامي امارت له لوري ددفتر پرانیستنې په ورځ دوه داسی مهمې خبرې د نړی په وړاندې راغلې چې امریکا اونړیوالې ټولنې دهغو غوښتنه کوله ، لومړی: اسلامي امارت تضمین ورکوي چې دافغانستان خاوره به دبهرنیو هېوادونو پر ضد نه کارول کېږي ! دویم :ظروفو او شرائطوته په پام دافغاني ډلوسره دتفاهم هوډ څرګندول ،اوس له دې وروسته دنړیوالو مسؤلیت دی چې په دې اړه مسؤلانه ګام پورته کړي او اسلامي امارت دحقوقي پلوه رسما دمذاکراتو دبرخې په توګه اومني ...

څنګه چې وړاندې په پیل کې اشاره وشوه چې دایوحساس اوله ستونزو د ډک سفر پیل دی ،طبعی ده چې په وړاندې یې ګڼ خنډونه او موانع جوړ شي ، خوددې باوجود دایقیني برېښي چې د مذاکراتوبهیر پیلیدونکی دی! ولې دامریکا په وړاندې ددې پرته بله لار پاتې نده ، خامخابه هغه دخپلو ځواکونو دانخلاء لپاره په یوه فارموله عمل کوي ، وړاندې په ویت نام کې چې

کله امریکا دشکست سره مخ شوه، دویت نام دازادۍ غوښتونکوسره مذاکراتو ته کیناسته، دهغو مذاکراتو په ترخ کې امریکا دویت نام ازادي اوخپلواکي اومنله، شمالي اوجنوبي ویت نام بیرته سره یو ځای شول، افغانستان کې هم په ورته توګه امریکادهغسی حالت سره مخ ده نو خامخاده چې امریکا دافغانستان ازادي اومني او ترې خپل ټول ځواکونه وباسي!

دکرزي رژیم چې په اوسني بهیر کې کومه فعاله ونډه نلري هغه له دې امله زیات خوابدی دی، چې په قطر کې داسلامي امارت په نوم دسیاسي دفتر پرانستل او هلته داسلامی امارت دبیرغ پورته کیدل هسی نه دمذاکراتو په نوم دامارت دا دفتر دسیاسي نماینده ګۍ او سفارت بڼه واخلي! بل که مذاکرات په کامیابی ترسره شول طبعي ده چې په نتیجه کې یې دپوځي ډګر ترڅنګ دکرزیانو سیاسي زوال هم پیل شي دغه وجه ده چې کرزی له لومړي سره دقطر په جریان خوښ نه دی او هڅه کوي چې له افغانستانه داشغالګرو ځواکونو دوتلو په وړاندې خنډونه پیدا کړي او هغوئ د۱۲کلو جعلي لاسته راوړنو په نوم دخپل ځان ددفاع لپاره نورهم تم کړي څود ځان دبقا لپاره افغانستان دڅونورو کلولپاره داشغال چوپړ ته تیل وهي.

دکتون کو په وینا: اګر که دقطر جریان ددغسي یوشمېر ستونزو سره لاس اوګریوان ښکاري، خو د سفارتي پلوه دیوه قوي بدلون نښه ضرور دی، چې هدف یې د۱۲کلن جنګ پای ته رسول دي

خو ددې هدف په اړه دامریکا کرداردېر شفاف نه برېښي، اودابا وردېرکم دی چې امریکا دې دسولي دواقعبینانه بهیرپه رامنځته کولوکې اخلاص اوښه نیت ولري له دې وجې داندېښنه شته چې هسی نه روان جنګ دناورین کوم بل پړاوته داخل شي! ځکه دامریکا تاریخ په دې شاهددی چې هرکله یې په پوځي ډګر کې خپله ماته لیدلي، نو مقابل لور یې د مذاکراتو اوخبرو په لومه کې ښکېل کړی، دفلسطین شخړه ددې ښکاره مثال دی، هرکله به هم هلته جهادي ځواک پیاوړی شو اود اسرایل غاصب وجود به یې وننګاو، امریکا به دفلسطین ازادۍ تحریک (الفتح) اویا سرعرفات په داسی جعلي ستونزو کې ښکېل کړل چې له امله به یې په اسرایل باندې فشار کم او دا صلي ستونزي نه په بل لوربه یې دهغوی پام واړوه، دادی نن دنیدمي پیړی نه زیاته موده وشوه چې الفتح هغسي دامریکایانو په لومو کې تړلي او دفلسطین مظلوم ولس دوسپنو نیدنې چیدچې، هو! دابه ګرانه وي چې امریکایان خپل دغه جعلي فرمول دالفتح پشان په طالبانو هم تطبیق کړي اوهغوئ دې هم پخپلو لوموکې هغسي ښکېل کړي، ولې دطالبانو (اسلامي امارت) سیاسي نظریه یوازې دخاوري ازادول ندي، بلکې ددې څخه وړاندې هغوئ دایمان اواسلام دفاع ته ژمن دي، دخاوري ازادي یې دویم هدف دی، هرچې الفتح دی دهغوئ لومړی بنسټیزه نظریه دفلسطین دخاوري ازادول دي نه داسلام او ایمان څخه دفاع! تردې پورې چې له اسلام اوایمان څخه ددفاع نظریه دهغوئ په منشور اومرام پاڼه کې هم نشته! دیته پرپام ویلای شو چې دهغې جعلی نسخي دلته ازمایل به دامریکایانو یوه بله تیروتنه او اشتباه وي.

بل هرڅومره چې دانخلاء موده رالنډیږي، په پوځي ډګر کې داسلامي امارت جنګي لاسته راوړني پراختیا مومي، مجاهدین دامریکا اوناټو په مهمو اهدافو دقیق عملیات ترسره کوي چې تازه بېلګه یې کابل کې دسی ای اې په مرکز (اریانا هوټل) او په ارګ د سي شنبې ورځې فدایي بریدونه دي،




که دغوبریدونو لړ نوروخت نیولی وای ،کرزي اومشاورینو یې له ارګه کډې بارولوته ملاوي تړلي وي! ! ښکاري چې داسلامي امارت نظامي ځواکونه دنویو جنګي تاکتیکونو اوتجربو سره ښه اشنا شوي او کولی شي چې دډیروکلکو امنیتي کمبربندونوڅخه په بري سره تیراو په مهمو نقاطوبریدونه و کړي داچې ددې ترڅنګ په سیاسي ډګر کې داسلامي امارت یوفعال سیاسي ټیم په قطر کې هم شتون لري ،هلته دامریکا په ګډون دمختلفو جهتونو سره پر افهام اوتفهیم بوخت دي ،دا په ګڼو محاذونو داسلامي امارت د توامندی او عالي حوصلي ښکارندوي کوي .

داسمه ده چې سیاسي جریان شاید ډیروخت واخلي اوپکې دمایوسی اوناهیلی ګڼ مناظر هم مخ ته راشي ، ډیر ځلي ددواړو لوریو ترمنځ بې باوري اوج ته ورسي ، څوځله دخبرو اومذاکرو بهیر ټکان وخوري دتعطل ، ځنډ او توقف ښکارشي خو داخبره د"نوشته دیوار" په مصداق ده :چې بالاخر به د غه له ستونزو ډک سفر یوه منطقي انجام اوپړاو ته رسي او په نتیجه کې به یې دامریکااوناټو عسکر له افغانستانه ووځي ،افغانستان به بیا دازادی او استقلال څښتن شي ...

چې په دې لړ کې رښتیاهم داسلامي امارت دسیاسي استازو او مرکچیانو دقوي ذهانت اوفراست لویه ازموینه پیلیدونکی ده ،چې هغوئ دپوځي ډګر په څیر له سیاسي میدانه د ابرومندانه بري په بدرګه وتلی شي کنه ؟،نړیوال ! افغانان !اوتاریخ ! درېواړه په ډیره ورخطائي دهغوئ کردار ته انتظار لري اوپه څیر ؛څیر یې څاري !! چې دروان خونړي ګرداب له څپو هغوئ خپل هیواد او ولس ته دنجات ورکولو په غرض ،زمکنیو حقایقو اوواقعیتونو ته پرپام څه پریکړي او څه تصمیمونه نیسي ؟!

ولي څرګنده ده امریکا غواړي چې له افغانستانه خپل یواځي ۷۵فیصده پوځیان وباسي ، باقي ۲۵فیصده پاتې کړي! اود۲۰۱۴زتر پایه دهغوئ دپاتې کېدو لپاره لار هواروول په پام کې لري له دې وجې اړتیا ده چې امارت یې دمخنیوي لپاره پر دواړو محاذونو (سیاسي اوجهادي ) دمؤثر کردار ترسره کولو لپاره آماده ګي په پام کې ونیسي ، په ځانګړي توګه دجګړي تشدید ولو لور ته زیاته پاملرنه وکړي ،ځکه د مذاکراتو په پلمه شونی ده چې امریکا دا سلامي امارت په مصروفولو سره دکومي ستري دسیسي اوتوطئي پلان ولري او جوته ده چې ډیرځلي جعلي جریانونه رامنځته کول دپایلو په اعتبار اودعواقبو له لحاظه دلوی جنګ نه هم لوی (جنګ )ثابت شوي ...!

ددې باوجود بیاهم ډیری کتونکي باور لري که دواړه لوري په واقعبینانه توګه دیو اوبل موقف ،دریځ اوغوښتنوته غوږشي دیو اوبل په ترجیحاتو ځانونه خبر کړي نودتفاهم لپاره ډیري امکاني لاري راوتلی شي ، اسلامي امارت پخپله اعلامیه کې هغو ټولو ته اندیښنوته دځواب ویلو هڅه کړې چې نړیوال یې داسلامي امارت په اړه لري او په



څرګندوتوریو کې یې دا روښانه کړي چې دخپلي خاوري دازادی اوخپلواکی په اړه تضمین غواړي! او دنړی دهیڅ هیواد دننه دپراختیا غوښتني اراده

نلري،هم دا رازد هیخ بهرني هېواد
پر ضد چا ته دخپلي خاوري کارولو
اجازه نه ورکوي او نه ورته دبل
کوم هېواد لخوا په افغانستان تیری
اویرغل دزغم وړ دی ... له دې
وروسته نورمسؤلیت د نړیوالو په
غاړه دی ، باید هغوئ په اخلاص
او ښه نیت راوړاندي شي او اسلامي
امارت دیوه زمکني واقعیت په توګه
او مني هم له افغانستانه دناروا
اشغال په پای ته رسولو کې له افغان
مظلوم ولس سره مرسته اوهمکاري
وکړي!

# یا ناجیه فرقه

لومړۍ برخه

مفتي شاهد حقاني

دانسانیت لاربنود اود مسلمانو سترقاید حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم لاڅوارلس پیړۍ دمخه ویلې و، چې بنی اسرائیل په (۷۲) فرقوباندې ویشل شوي وو او زما امت به په (۷۳) فرقویا لویوډلو وویشل شي، ټولې به دوزخ ته ځي، یوازې یوه فرقه به جنت ته ځي، صحابوو له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وپوښتل، چې دا ناجیه فرقه به څوک وي؟ یعني کوم صفات او خصوصیات یا نښې به لري؟ نو ده ص ورته وویل (ما أنا علیه واصحابی) یعني هغوئ به په هغه لارې یا طریقې باندې خپل ژوند کوي، چې زه او زما ملګري پرې یو، په دې باب کې مختلف روایات راغلي، په ځینو کې یې داسې دي، چې بنی اسرائیل (۷۱) فرقې وي، په ځینو کې روایاتو کې وایي چې بني اسرائیل (۷۲) فرقې وي، دنصاراوو په هکله هم همداسې روایات راغلي چې دیهودو په اندازه ډلې پکې جوړې شوي وي، چې مختصرا به یې دلته ځینې روایات رانقل کړو خو د مضمون د حوصلې د کمښت له امله یې له ټولې ژباړې صرف نظر کوو یوازې د حوالو په راوړلو به بسنه کوو، چې کله ناکله به یې د ضرورت په پام کې نیولو سره خلص مطلب هم لیکو او ژباړه هم.

(حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ عَنْ خَالِد عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو عَنْ أَبِى سَلَمَةَ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « افْتَرَقَتِ الْيَهُودُ عَلَى إِحْدَى أَوْ ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً وَتَفَرَّقَتِ النَّصَارَى عَلَى إِحْدَى أَوْ ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِى عَلَى ثَلاَثٍ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً ». سنن ابی داود ۴ جزء ص ۳۲۳/ پورتني روایت کې د یهودو د اختلاف ته اشاره وشوه، چې دوئ (۷۱) یا (۷۲) ډلې وي، خو رسول الله صلی علیه وسلم فرمایي چې زما امت به (۷۳) فرقوباندې وویشل شي، چې وروستنیو روایاتو کې به ذکر شي، چې ټولې به دوزخ ته ځي صرف یوه به جنت ته ځي، هغې ته ناجیه فرقه وي او هغه به، هغه وي چې زه او زما صحابه پرې دي.

دې بل روایت کې د راوي د شک په بناء داسې بیهقي رانقل کړي دي چې: ۲۱۴۲۹- وَقَدْ أَخْبَرَنَا أَبُو عَلِىٍّ الْحُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الرُّوذْبَارِىُّ فِى كِتَابِ السُّنَنِ أَنْبَأَنَا أَبُو بَكْرٍ: مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ عَنْ خَالِدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو عَنْ أَبِى سَلَمَةَ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-: « افْتَرَقَتِ الْيَهُودُ عَلَى إِحْدَى أَوْ ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً وَتَفَرَّقَتِ النَّصَارَى عَلَى إِحْدَى أَوْ ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِى عَلَى ثَلاَثٍ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً ».

{ق} قَالَ أَبُو سُلَيْمَانَ الْخَطَّابِىُّ رَحِمَهُ اللَّهُ فِيمَا بَلَغَنِى عَنْهُ قَوْلُهُ: « سَتَفْتَرِقُ أُمَّتِى عَلَى ثَلاَثٍ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً ». فِيهِ دَلاَلَةٌ عَلَى أَنَّ هَذِهِ الْفِرَقَ كُلَّهَا غَيْرُ خَارِجِينَ مِنَ الدِّينِ إِذِ

اهل سنت والجماعت

جماعت

النَّبِىُّ -صلی الله علیه وسلم- جَعَلَهُمْ كُلَّهُمْ مِنْ أُمَّتِهِ وَفِيهِ أَنَّ الْمُتَأَوِّلَ لاَ يَخْرُجُ مِنَ الْمِلَّةِ وَإِنْ أَخْطَأَ فِى تَأْوِيلِهِ قَالَ الشَّيْخُ رَحِمَهُ اللَّهُ وَمَنْ كَفَّرَ مُسْلِمًا عَلَى الإِطْلاَقِ بِتَأْوِيلٍ لَمْ يَخْرُجْ بِتَكْفِيرِهِ إِيَّاهُ بِالتَّأْوِيلِ عَنِ الْمِلَّةِ فَقَدْ مَضَى فِى كِتَابِ الصَّلاَةِ فِى حَدِيثِ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ فِى قِصَّةِ الرَّجُلِ الَّذِى خَرَجَ مِنْ صَلاَةِ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ فَبَلَغَ ذَلِكَ مُعَاذًا فَقَالَ مُنَافِقٌ ثُمَّ إِنَّ الرَّجُلَ ذَكَرَ ذَلِكَ لِلنَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- وَالنَّبِىُّ -صلى الله عليه وسلم- لَمْ يَزِدْ مُعَاذًا عَلَى أَنْ أَمَرَهُ بِتَخْفِيفِ الصَّلاَةِ وَقَالَ أَفَتَّانٌ أَنْتَ لِتَطْوِيلِهِ الصَّلاَةَ وَرُوِّينَا فِى قِصَّةِ حَاطِبِ بْنِ أَبِى بَلْتَعَةَ حَيْثُ كَتَبَ إِلَى قُرَيْشٍ بِمَسِيرِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- إِلَيْهِمْ عَامَ الْفَتْحِ أَنَّ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ دَعْنِى أَضْرِبْ عُنُقَ هَذَا الْمُنَافِقِ فَقَالَ النَّبِىُّ -صلى الله عليه وسلم- : « إِنَّهُ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا ».

وَلَمْ يُنْكِرْ عَلَى عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ تَسْمِيَتَهُ بِذَلِكَ إِذْ كَانَ مَا فَعَلَ عَلاَمَةً ظَاهِرَةً عَلَى النِّفَاقِ وَإِنَّمَا يَكْفُرُ مَنْ كَفَّرَ مُسْلِمًا بِغَيْرِ تَأْوِيلٍ.(سنن بیهقي لابی بکر بیهقي جزء ص۱۱۰

دې لاندیني حدیث شریف کې هم رسول الله صلی علیه وسلم ددې امت اختلاف او تفرقه له بني اسرائیلو سره مشابه کړې ده، چې دتشبیه دغښتلتیا لپاره یې ددوو پښو سره شباهت ورکړی ،لکه څنګه چې دوه پښې سره برابرې په یوه کت اېښې وي او مخکې وروسته پکې نوي ،دارنګه ددې وروستي امت اختلافات به هم لکه دیهودوغوندې له هغوئ سره موازي وي اوښه ډیر به وي ،خودې امت کې به یوه یوه فرقه یا ډله خپله بیړۍ دنجات ساحل ته رسوي اودا ډله به ددوزخ نه په امن وامان کې وي، هغوئ به هغه سنت پرځای کوي ،چې هغه حضرت پیغمبرص او اصحابو پر ځای کړې دي ، وروستنیو مباحثوکې به انشاءالله تعالی راشي چې هغه ناجیه ډله به (اهل السنت والجماعت) وي ،چې دډیرو محققینو اوپیاوړیو علماوو په نزد نن سبا ددې (ناجیه) فرقې یا اهل سنت والجماعت مصداق دمذاهبو اربعه وو پیروان اوهغه څوک دي چې اسلافوته درناوی لري ،دمتقدمینو اوسلفوصالحینو اقوال اومعمولات دځان لپاره دهدایت اونجات لاره بولي اودهغوئ افعال او اعمال لدې املـه سنت بولي چې پـه بـاب یې جوت ارشادات شتون لري ،په حقیقت کې دصحابوو اعمال اودهغوئ آثاروباندې عمل کوي ، دپورته موضوع په باب داحدیث ترمذي روایت کړی چې فرمایي: حدثنا محمود بن غیلان

أخبرنا أبو داود الحفرى ، عن سفيان عن عبد الرحمن بن زياد بن أنعم الافريقى ، عن عبد الله بن يزيد عن عبد الله بن عمرو قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "ليأتين على أمتى ما أتى على بنى إسرائيل حذو النعل بالنعل حتى إن كان منهم من أتى أمه علانية لكان في أمتى من يصنع ذلك. وإن بنى إسرائيل تفرقت على ثنتين وسبعين ملة، وتفترق أمتى على ثلاث وسبعين ملة كلهم في النار إلا ملة واحدة ، قال من هي يا رسول الله ؟ قال: ما أنا عليه وأصحابي ". هذا حديث حسن غريب مفسر ، لا نعرفه مثل هذا إلا من هذا الوجه.رواه الترمذى الجزء ۴ص ۱۲۴

لـه بـده مرغـه چـې مسـلمان امـت نـن سـبا دفتنو او اختلافاتو پـه ګرداب کې ولاړدی اوپرځینوهغوئ یې هم دتعصب اوحسد غبار پروت دی، چې دپوهې اوعلمیت لوېې لوېې دعوې هم کوي ،دخبروپروخت به یې وموميي چې کله به مفسر شي ،کله محدث ،کله فقیه اوکله هم دعصرلوی مفتي وي ! ! خوچې راویې سپړې او لږیې علمي ارزونه وکړې ،په خبروکې به درته داسې یو څوک ښکاره شي چې دعوی به یې له حقیقت سره اړخ نه لګوي ،دلویو لویو علماوو سره به دعوې دنګلې کوي اودهغه دعلمیت او روحانیت ددرناوي پرځای به ترې خبروکې ډیره بې احترامې کیږي ،له بده مرغه مسلمانان نن سبا فروعي اختلافاتوکې دومره ورننوتې دي ،چې دهغه چا دښمني ترې پاتې ده، چې هغوئ ددوئ ددین او ایمان دښمنان دي اودا اسلام سره له ازله پرعداوت روږدي دي ،دعقایدوپه برخه کې هم دمسلمانوتر منځ ظاهرا ډیر اختلافات کتل کیږي ،یوبل ته دبحث او مناقشې پروخت کله دمشرک کله دمبتدع نسبت کوي ،بل طرف بیا دمؤحد اومتبع سنت دعوی کوي ،ځیني خلک دحنفیت دعوی کوي خو داحنافو او حنفیت له بشپړو مذهبي مسئلو او اقتضاأتو نه هم ناخبره وي ،آن دمتقدمینو اومتأخرینو له فتواوونه چې

دځينو مسائلو په باب يې هغه وخت ورکړي اوبيا ترې دوخت وزمان په تيريدوصرف نظرشوي هم ناخبره دي ،ځيني خلک له مذهبه داسې ويريږي ،لکه يو څوک چې له سخت دښمن نه په ډاركې وي، نوربيا دمذهب له پاكي كلمې نه غلطه ګټه اخلي او دخپل ځان په ګټه يې استعمالوي ،چې ددواړولوريو نه داعتدال اوحقې لارې موندل ورک شوي او دافراط او تفريط په ناروغۍ اخته دي ،ځيني نوربيا لكه دخوارجو په معاصيواوګناهونو مسلمان ته كافراو مباح الدم وايي ،په يوه كوچنۍ ګناه يې هم داسلام له ارتې دايرې نه وباسي، دتكفيرپر عقيده ځان ته نجات او نورخلكوته هلاكت غواړي ،پداسې حال كې چې ايمان تصديق بالقلب او اقراربالسان ورته شرط دی، اعمال په ايمان كې ندي داخل بلكې دايمان په تكميل او تنقيص كې خارجي رول لري ،په (عقيدة الطحاويه) كې داسې راغلي چې: وَالْإِيمَانُ: هُوَ الْإِقْرَارُ بِاللِّسَانِ، وَالتَّصْدِيقُ بِالْجَنَانِ. .......وتعريف الطحاوي للإيمان بقوله (هُوَ الْإِقْرَارُ بِاللِّسَانِ، وَالتَّصْدِيقُ بِالْجَنَانِ) هذا تعريفٌ بالمقارنة مع ما سبق فيه قصور، وهو موافقٌ لما عليه الإمام أبو حنيفة رحمه الله وأصحابُه، فإنهم لم يجعلوا العمل من مُسَمّى الإيمان، وجعلوا الإيمان تصديق القلب وإقرار اللسان، وجعلوا الأعمال زائدة عن مُسَمّى الإيمان مع كونها لابد منها ولازمة للإيمان.(شرح العقيدة الطحاويه صالح آل شيخ۱/۴۰۲ص ).

په كتاب (مسئلة الايمان للشبل) كې د(ماتريده وو )نظرداسې رانقل كړی: (قول الماتريدية ورواية عن أبي حنيفة: بأن الإيمان تصديق القلب، أما الإقرار باللسان فركن زائد فيه ليس بأصلي، حيث يسقط بالإكراه ونحوه. (مسئلة الايمان للشبل)جزء ۹ص ).

په (شرح كتاب غاية البيان شرح ارسلان )كې داسې ليكلي چې: (والنطق بالشهادتين اعتبرا أي أن النطق بالشهادتين معتبر لصحة الإيمان للخروج من عهده التكليف به ممن قدرا أي من القادر عليه إن صدق القلب إذ الإيمان تصديق القلب بما علم ضرورة مجيء الرسول به من عند الله كالتوحيد والنبوة والبعث والجزاء وافتراض الصلوات الخمس والزكاة والصوم والحج والمراد بتصديق القلب إذعانه وقبوله ولما كان تصديق القلب أمرا باطنا لا اطلاع لنا عليه جعله الشارع منوطا بالشهادتين وهل النطق بالشهادتين شرط لإجراء أحكام المؤمنين في الدنيا من الصلاة عليه والتوارث والمناكحة وغيرها داخل في مسمى الإيمان أو جزء منه داخل في مسماه قولان ذهب جمهور المحققين إلى أولهما وعليه من صدق بقلبه ولم يقر بلسانه مع تمكنه من الإقرار فهو مؤمن عند الله وهذا أوفق باللغة والعرف وذهب كثير من الفقهاء إلى ثانيهما وألزمهم الأولون بأن من صدق بقلبه فاخترمه المنية قبل اتساع وقت الإقرار بلسانه يكون كافرا وهو خلاف الإجماع على ما نقله الرازي وغيره لكن يعارض دعواه قول الشفاء الصحيح أنه مؤمن مستوجب للجنة حيث أثبت فيه خلافا وخرج بقوله ممن قدرا العاجز لخرس أو سكتة أو إخترام منية قبل التمكن منه فيصح إيمانه وأما الإسلام فهو أعمال الجوارح من الطاعات كالتلفظ بالشهادتين والصلاة والزكاة وغير ذلک، (شرح كتاب غاية البيان شرح ارسلان جزء۱ص۸.

) ددې پورتني عبارت نه څوخبرې په ډاګه شوي يوداچې جمهورعلماءوايې چې ايمان تصديق بالقلب دی او اقرارباللسان ورته شرط او شئ زائد دی ،اواسلام عمل بالجوارح دی لكه صلوة صوم وغيره ......

همدارانګه دې باب كې چې :اعمال د(اشاعرووا و ماتريديه وو )په عقيده ، ايمان كې ندي داخل ،بلكې دايمان مكملات بلل كيږي، دامام ابوحنيفه رح اونورو په وينا( صاحب المسايرة على المسايرة) داسې نقل كړی: ... ۴-ويقول صاحب المسايرة على المسامرة في ذكر الخلاف في الإيمان: ۴- "أن الإيمان: تصديق بالقلب واللسان ...، وهو منقول عن أبي حنيفة ومشهور عن أصحابه وعن بعض المحققين من الأشاعرة ".

____________.... وذكر أنهم فرقوا بين التصديق والإقرار بأن: " التصديق ركن لا يحتمل السقوط أصلاً ، والإقرار قد يحتمله, وذلک في حق العاجز عن النطق و المكره "(۱)

ثم ذكر لهم دليلين:

أ-أن هذا "هو الاحتياط بالنسبة إلى جعله شرطاً خارجاً عن حقيقة الإيمان".

ب-أن النصوص الدالة عليه من نحو قوله عليه الصلاة والسلام: "أمرت أن أقاتل الناس حتى يقولوا: لا إله إلا الله فمن قال: لا إله إلا الله فقد عصم مني نفسه وماله إلا بحقها وحسابه على الله" أخرجه الشيخان.

قال: "ويجاب من طرف جمهور الأشاعرة عن الحديث بأن معناه أن قول لا إله إلا الله شرط لإجراء أحكام الإسلام، حيث رتب فيه على القول الكف عن الدم والمال، لا النجاة في الآخرة الذي هو محل النزاع "(٢) .(ظاهرة الارجاءفى الفكر الاسلامى جزء /٩٧ص).

ددې ټولوعباراتونه معلوميږي چې ايمان تصديق قلبي دی او اقرارباللسان ورته شرط دی ،اعمال دايمان په ركن اصلي كې ندي داخل، البته داسې هم نده لكه دمرجئوعقيده چې اعمال بيخي معطل پريږدي، بلكې داهل السنت والجماعت اشاعره اوماتريده ووكې به هيڅوك داسې نوې چې اعمال دايمان په ركن كې داخل كړي، اوداسې به هم څوك نوي ،چې اعمال مهمل پريږدي، بلكې اعمال كه دايمان ركن يا شرط نه شميري ،نودايمان دمكملاتونه يې ضرورشميري، خوچې دحقيقت ژوروته وركتبته شو اوداهل سنت والجماعت داامامانولكه امام ابوحنيفه رح ، امام شافعي رح اوعاموعلماووعقايدپـدې برخه كـې رانقل كړنووبه ګوروچې داسلام دايره پراخه ده او له امله به يې بيا هيڅوك په مسلمانانوكي نه مشرك او نه كافر وي، ځكه دوئ اكابر(اهله قبله)ووته كافر نه وايې اواسلامي فقهاء خوبيا كوشش كوي چې ديوه مسلمان دغلطوخبرواوزيانمنونكيواقوالوته يو محمل صحيحه وموومي ، يعنې داهل سنت والجماعت علماء پر(اهل قبله وو )دكفر فتوى نه وركوي او تر ممكن حده يې داسلام په دايره كې ساتل غواړي، ځكه داسې وعيدونه او منصوصي لاربنوونې شته، چې دمسلمان له تكفيره ممنوعيت ثابتوي ،لكه همدا مسئله داسې په (اشباه والنظائر) كې راغلې ده: -

الإيمان تصديق محمد صلى الله عليه و سلم في جميع ما جاء به من الدين ضرورة والكفر تكذيب محمد صلى الله عليه و سلم في شيء مما جاء من الدين ضرورة ولا يكفر أحد من أهل القبلة إلا بجحود ما أدخله فيه

و حاصل ما ذكره أصحابنا في الفتاوى من ألفاظ التكفير يرجع إلى ذلک وفيه بعض اختلاف لكن لا يفتى بما فيه خلاف

- سب الشيخين ولعنهما: كفر و إن فضل عليا عليهما فمبتدع كذا في الخلاصة الى ان قال: وقوله: لا يتعرض له إنما هو في مرتد تقبل توبته في الدنيا أما من لا تقبل توبته فإنه يقتل كالردة بسب النبي صلى الله عليه و سلم والشيخين كما قدمناه

- واختلفوا في تكفير معتقد قطع المسافة البعيدة في زمن يسير للولي - ولا يكفر بقوله: لا أصلي إلا جحودا ،الاشباه والنظائرجزء١ص٢١٥ )

داشباه والنظائردعبارت مطلب دادی چې اهل قبله ووته اهل سنت والجماعت كافر نه وايې مګركله كه يې داسلام له اوامرونه جحود او انكار وكړبيا ورته كافر ويلی شي ،يعني تكفير يې له ارتداداو جحود سره تړاو لري په نوروتاويلي او اختلافي مسائلوكې پر بحث كفر نشته.

دامام ابومنصورماتريدي رح اوامام ابوالحسن اشعرى رح تر منځ دهغو مسائلونه چې پكې يې اختلاف نظر درلود يوه داهل قبله وو دتكفيرمسئله وه ،چې اشعري پرې قائل او ماتريدي رح ترې انكاركاوه، چې دلانديني عبارت به څرګنده شي چې دعمر په پای كې امام اشعري رح له خپل قول نه رجوع كړې او پراهل قبله وو يې دتكفيرحكم نا سم وباله لكه داسې :

وقال الشيخ أبو محمد بن عبد السلام: قد رجع الأشعري ـ رحمه الله ـ عند موته عن تكفير أهل القبلة؛ لأن الجهل بالصفات ليس جهلا بالموصوفات، وقال اختلفنا في عبارات والمشار إليه واحد، وقد مثل ذلک بمن كتب إلى عبيده فأمرهم ونهاهم فاختلفوا في صفاته هل هو أبيض أو

أسود أو أحمر أو أسمر ، فلا يجوز أن يقال: إن اختلافهم في صفته اختلاف في كونه سيدهم المستحق لطاعتهم وعبادتهم ، فكذلك اختلاف المسلمين في صفات الإله ليس اختلافا في كونه سبحانه وتعالى في جهة كونه خالقهم وسيدهم المستحق لطاعتهم. أهـ [المنثور فى القواعد للزركشى حـ٣ صـ٩٠].

وقال الإمام أبو الحسن السبكي: ما دام الإنسان يعتقد شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله ، فتكفيره صعب. أهـ [المنثور فى القواعد للزركشى حـ٣ صـ٩٣].

وقال الغزالي: ذهبت طائفة إلى تكفير عوام المسلمين لعدم معرفتهم أصول العقائد بأدلتها ، وهو بعيد عقلا ونقلا ، وليس الإيمان عبارة عما اصطلح عليه النظار ، بل هو نور يقذفه الله في القلب ، فلا يمكن التعبير عنه ، كما قال الله تعالى [فمن يرد الله أن يهديه يشرح صدره للإسلام] [الأنعام ـ١٢٥] وقد حكم النبي ـ صلى الله عليه وسلم ـ أن من تكلم بلفظة التوحيد أجرى عليه أحكام المسلمين.

وثبت بهذا أن مأخذ التكفير من الشرع لا من العقل إذا الحكم بإباحة الدم والخلود في النار شرعي لا عقلي خلافا لما ظنه بعض الناس. أهـ [المنثور فى القواعد للزركشى حـ٣ صـ٩٤] جامع لطائف التفسير لعبد الرحمن القماشج١ص١٥٠.

وذكر الإمام العلامة الفخر الرازي - رحمه الله - في تفسيره حـ٢ صـ ٤٨ هذه القصة قال: ويحكي أن الإمام أبا القاسم الأنصاري سئل عن تكفير المعتزلة في هذه المسألة (١) فقال لا لأنهم نزهوه فسئل عن أهل السنة فقال لا لأنهم عظموه والمعني أن كلا الفريقين ما طلب إلا إثبات جلال الله وعل وكبريائه إلا أن أهل السنة وقع نظرهم على العظمة فقالوا ينبغي أن يكون هو الموجد ولا موجود سواه والمعتزلة وقع نظرهم على الحكمة فقالوا لا يليق بجلال حضرته هذه القبائح. أهـ

وقال القاضى عياض فى هذا الشأن بعد كلام مطول ما نصه: وقال غيرهما [أب والمعالى وأبو محمد عبد الحق] من المحققين: الذي يجب الاحتراز عن التكفير في أهل التأويل فإن استبحاة الموحدين خطأ والخطأ في ترك ألف كافر أهون من الخطأ في سفك محجمة من دم مسلم واحد وقد قال صلى الله عليه وسلم: [فإذا قالوها ـ يعني الشهادة ـ عصموا مني دماءهم وأموالهم إلا بحقها وحسابهم على الله]

فالعصمة مقطوع بها من الشهادة ولا ترتفع ويستباح خلافها إلا بقاطع ولا قاطع من شرع ولا قياس عليه]. أهـ [الشفا للقاضى عياض حـ٢ص٢٣٢]

فـائـدة

أخبرنا عبد الرزاق عن معمر عمن سمع الحسن قال لما قتل علي رضي الله عنه الحرورية قالوا من هؤلاء يا أمير المؤمنين أكفار هم ؟ قال: من الكفر فروا قيل فمنافقين قال: إن المنافقين لا يذكرون الله إلا قليلا وهؤلاء يذكرون الله كثيرا قيل فما هم ؟ قال: قوم أصابتهم فتنة فعموا فيها أو صموا] أخرجه عبد الرزاق [١٨٦٥٦].

(جامع لطائف التفسير لعبد الرحمن القماش ١/١٥٠)

وقال الإمام الغزالي في كتاب التفرقة بين الإسلام والزندقة: والذي ينبغي الاحتراز عن التكفير ما وجد إليه سبيلا فان استباحة الدماء والأموال من المصلين إلى القبلة المصرحين بالتوحيد خطأ والخطأ في ترك ألف كافر في الحياة أهون من الخطأ في سفك دم مسلم.

قال: وقد وقع التكفير لطوائف من المسلمين يكفر بعضها بعضا ، فالأشعري يكفر المعتزلي زاعما أنه كذب الرسول في رؤية الله تعالى وفي إثبات العلم والقدرة والصفات ، وفي القول بخلق القرآن ، والمعتزلي يكفر الأشعري زاعما أنه كذب الرسول في التوحيد فإن إثبات الصفات يستلزم تعدد القدماء.

وقد حكى الروياني في البحر عن الإمام الشافعي ـ رضي الله تعالى عنه ـ قال: لا يكفر من أهل القبلة إلا واحدا وهو من نفى علم الله عن الأشياء قبل كونها فهو كافر. أهـ [المنثور فى القواعد للزركشى حـ٣ صـ٨٧]. (جامع لطائف القرآن لعبد الرحمن القماش).

په پورتني تفسيركې دالاما م ابوالحسن اشعري الإمام أبو الحسن السبكي ، الإمام العلامة الفخر الرازي، القاضی عياض ،امام غزالي رح او امام الشافعي اقوال وليكل شول چې تولوپدې تاييد كاوه چې مسلمان ته كافرويل ناروا دي اوڅوک چې اهل قبله وي دکفر حکم پرې نا جايزدی ځكه دوئ تاويل كوي خو كه چيرته يې جحود يا انكاركاوه نو بيا ورته كافرويلې شي.

علامه الوسي په خپل تفسيركې ددې آيت له راوړلو سره داسې ليكلي: فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَنُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ (١١) وبها استدل على تحريم دماء أهل القبلة ، وروي ذلك عن ابن عباس رضي الله تعالى عنهما ، وجاء في رواية ابن جرير. وأبي الشيخ عنه أنها حرمت قتال أو دماء أهل الصلاة والمآل واحد ،تفسيرالالوسى جزء ٧ص١٢٩)ددې آيت په تفسيركې له ابن عباس رض نه ثابت شول چې داهل قبله ووينې تويول حرام دي اودتكفيرعقيده خوبې لا ددې نه هم اكبرالكبايرده.

په تفسيرابن تيميه للحرانى داسې ليكلي چې: وروى هشام، عن محمد ، عن أبي حنيفة وأبي يوسف - وهو قول محمد - قالوا : السنة التي عليها أمر الناس ألا يكفر أحدًا من أهل القبلة بذنب، ويخرج من الإسلام، ولا يشك في الدين - يقول الرجل: لا أدري أمؤمن أنا أو كافر، ولا يقول بالقدر، ولا يخرج / على المسلمين بالسيف، ويقدم من يقدم من أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم ويفضل من فضل.

وذكروا عن أبي يوسف أنه قال: مذهب أهل الجماعة عندنا ، وما أدركنا عليه جماعة أهل الفقه ممن لم يأخذ من البدع والأهواء، ألا يشتم أحدًا من أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم، ولا يذكر فيهم عيبا ، ولا يذكر ما شجر بينهم فيحرف القلوب عنهم، وألا يشك بأنهم مؤمنون، وألا يكفر أحدًا من أهل القبلة ممن يقر بالإسلام ويؤمن بالقرآن، ولا يخرجه من الإيمان بمعصية إن كانت فيه، ولا يقول بقول أهل القدر، ولا يخاصم في الدين، فإنها من أعظم البدع .التفسيرللحرانى.

دې تحقيق كې هم داهل سنتو مستند و مشرانولخوا داهل قبله وودتكفيرنه كلك ممانعت شوى اودا پدې باب كې ديوې پياوړې وثيقي په شكل وړاندې كولاى شو.

په بحرالرائق كې بيا داسې دمسلمان دعدم تكفيرپه باب تشريح وركوي چې: وفي جمع الجوامع وشرحه: ولا نكفر أحدا من أهل القبلة ببدعة كمنكري صفات الله تعالى وخلقه أفعال عباده وجواز رؤيته يوم القيامة، ومنا من كفرهم. أما من خرج ببدعته من أهل القبلة كمنكري حدوث العالم والبعث والحشر للاجسام والعلم بالجزئيات فلا نزاع في كفرهم لانكارهم بعض ما علم مجئ الرسول به ضرورة اه. البحرالرائق جزء٢ص٢٤١

والثامن

لا يكفر أحدا من أهل القبلة بذنب. والتاسع يصلي على من مات من أهل القبلة. البحرالرائق جزء١٧ص١٥٦

علامه زين ابن نجيم رح الله فرمايې چې مسلمان ته څوک كافر نشي ويلی ،دامام ابوحنيفه او امام شافعی رح هم دانظردی ،خوچې چاته ويل شوي هغه الفاظ دكفر دي، كوشش به كيږي چې دمسلمان دناسمې خبرې لپاره محمل صحيحه وموندل شي ،لكه چې خپل تصنيف بحرالرائق كې داسې وايي: وَاعْلَمْ أَنَّ الْحُكْمَ بِكُفْرِ مَنْ ذَكَرْنَا مِنْ أَهْلِ الْأَهْوَاءِ وَنَحْوِهِمْ مَعَ مَا ثَبَتَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَالشَّافِعِيِّ مِنْ عَدَمِ تَكْفِيرِ أَهْلِ الْقِبْلَةِ مِنْ الْمُبْتَدِعَةِ كُلِّهِمْ مَحْمَلُهُ أَنَّ ذَلِكَ الْمُعْتَقَدَ نَفْسَهُ كُفْرٌ فَالْقَائِلُ بِهِ قَائِلٌ بِمَا هُوَ كُفْرٌ وَإِنْ لَمْ يَكْفُرْ بِنَاءً عَلَى كَوْنِ قَوْلِهِ ذَلِكَ عَنْ اسْتِفْرَاغِ وُسْعِهِ مُجْتَهِدًا فِي طَلَبِ الْحَقِّ لَكِنَّ جَزْمَهُمْ بِبُطْلَانِ الصَّلَاةِ خَلْفَهُمْ لَا يُصَحِّحُ هَذَا الْجَمْعَ اللَّهُمَّ إلَّا أَنْ يُرَادَ بِعَدَمِ الْجَوَازِ عَدَمُ الْحِلِّ مَعَ الصِّحَّةِ وَإِلَّا فَهُوَ مُشْكِلٌ هَكَذَا ذَكَرَهُ الشَّيْخُ كَمَالُ الدِّينِ بْنُ الْهُمَامِ وَعَلَى هَذَا يَجِبُ أَنْ يُحْمَلَ البحرالرئق جزء١٤ص٥٢

بل ځاى كې امام ابن نجيم رح فرمايې چې: فَقَالَ الْمَشَايِخُ: إنَّ مِنْ شَرَائِطِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ أَنْ لَا يُكَفِّرَ أَحَدًا مِنْ أَهْلِ الْقِبْلَةِ وَسُئِلَ بَعْضُهُمْ عَنْ الْفَاجِرِ وَالْبَرِّ فَقَالَ: الْفَاجِرُ هُوَ الْفَاسِقُ مِنْ أَهْلِ الْإِسْلَامِ ، وَالْبَرُّ هُوَ الْعَدْلُ مِنْ أَهْلِ

الْإِسْلَامِ وَقَدْ جَاءَ مُفَسَّرًا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَخْرُجُ أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ الْإِسْلَامِ بِذَنْبٍ ،البحر الرائق جزء۳ص۵۰

په الدر المختار للحصفکی کې دمسلمان په عدم تکفیر داسې لیکلې چې : وفي النهر: تجوز مناكحة المعتزلة، لانا لا نكفر أحدا من أهل القبلة إن وقع (الدر المختار جزء ۳ ص۵۰

امام ابوحنیفه خو په ځرګنده داهل قبله وله تکفیره چورلټ انکار کوي ،لکه چې فرمايي صاحب الشرح الميسر للفقهين الابسط و الاكبر چې فرمايي : (من أصول أهل السنة والجماعة) :سألت أبا حنيفة النعمان بن ثابت رضي الله تعالى عنه وعنهم الفقه الأكبر فقال الا تكفر احدا من اهل القبلة بذنب ولا تنفي احدا من الإيمان (الشرح الميسر للفقهين الابسط والاكبر جزء۱ص۷۲) /

مشهور محقق علامه شامي رح وايي چې:

وَأَمَّا الْمُعْتَزِلَةُ فَمُقْتَضَى الْوَجْهِ حِلُّ مُنَاكَحَتِهِمْ ؛ لِأَنَّ الْحَقَّ عَدَمُ تَكْفِيرِ أَهْلِ الْقِبْلَةِ ، وَإِنْ وَقَعَ إلْزَامًا فِي الْمَبَاحِثِ ، بِخِلَافِ مَنْ خَالَفَ الْقَوَاطِعَ الْمَعْلُومَةَ بِالضَّرُورَةِ مِنْ الدِّينِ مِثْلُ الْقَائِلِ بِقِدَمِ الْعَالَمِ وَنَفْيِ الْعِلْمِ بِالْجُزْئِيَّاتِ عَلَى مَا صَرَّحَ بِهِ الْمُحَقِّقُونَ وَأَقُولُ : وَكَذَا الْقَوْلُ بِالْإِيجَابِ بِالذَّاتِ وَنَفْيِ الِاخْتِيَارِ . رد المحتار/

۳۱۱/۹ (وَ) حَرُمَ نِكَاحُ (الْوَثَنِيَّةِ) بِالْإِجْمَاعِ (وَصَحَّ نِكَاحُ كِتَابِيَّةٍ) ، وَإِنْ كُرِهَ تَنْزِيهًا (مُؤْمِنَةٍ بِنَبِيٍّ) مُرْسَلٍ (مُقِرَّةٍ بِكِتَابٍ) مُنَزَّلٍ ، وَإِنْ اعْتَقَدُوا الْمَسِيحَ إلَهًا ، وَكَذَا حِلُّ ذَبِيحَتِهِمْ عَلَى الْمَذْهَبِ بَحْرٌ.

وَفِي النَّهْرِ مُنَاكَحَةُ الْمُعْتَزِلَةِ لِأَنَّا لَا نُكَفِّرُ أَحَدًا مِنْ أَهْلِ الْقِبْلَةِ إنْ وَقَعَ إلْزَامًا فِي الْمَبَاحِثِ .رد المحتار جزء ۳۰۸/۹

چې ددې نصوصو او دعلماوو له اقوالونه په ډاګه دا نتيجه اخستلای شو ،چې مسلمان ته دګناه په وجه کافرويل ناروا کار دی او کوښښ به کوو چې ديوه مؤمن غلطۍ ته صحيح محمل پيدا کړو او ترممکن حده يې له کفرنه وژغورو ،چې داهغه نظريه ده ،چې داهل السنت والجماعت اکابرعلماء يې لري اوداافتاء په اصولوکې هم ورته مسئله شته ،چې تر ممکن ځايه به يو مفتي کوښښ کوي ،چې دمومن له تکفيره وساتي او غلطوخبرته يې صحيح محمل ومومي ،لکه چې علامه ابن نجيم وايي: والحاصل أن من تكلم بكلمة الكفر هازلا أو لاعبا كفر عند الكل

ولا اعتبار باعتقاده كما صرح به قاضيخان في فتاواه، ومن تكلم بها مخطأ أو مكرها لا يكفر عند الكل، ومن تكلم بها عالما عامدا كفر عند الكل، ومن تكلم بها اختيارا جاهلا بأنها كفر ففيه اختلاف، والذي تحرر أنه لا يفتي بتكفير مسلم أمكن حمل كلامه على محمل حسن أو كان في كفره اختلاف ولو رواية ضعيفة، فعلى هذا فأكثر ألفاظ التكفير المذكورة لا يفتى بالتكفير بها ولقد ألزمت نفسي أن لا أفتي بشئ منها. وأما مسألة تكفير أهل البدع المذكورة في الفتاوي فقد تركتها عمدا لان محلها أصول الدين وقد أوضحها المحقق في المسايرة /البحر الرائق ۲۴۲/۱۱

همدا مطلب په الدر المختار کې داسې ليکل شوی: وفي رهن فتاوى قارئ الهداية: كذا أفتى علماؤنا.

والذي أفتى به صحته بالشهادتين بلا تبري، لان التلفظ بها صار علامة على الاسلام فيقتل إن رجع ما لم يعد (و) اعلم أنه (لا يفتي بكفر مسلم أمكن حمل كلامه على محمل حسن أو كان في كفره خلاف /الدر المختار جزء ۴۱۴/۴.

دبحرالرائق او الدرالمختارله عباراتونه ځرګنده شوه ،چې ديوه مؤمن وينا چې غلطه هم وي اوددې امکان يې وي چې مفتي ورته يو صحيح محمل موندلای شي ،يا تاويل يې کړې وي او دا په يوه ضعيف روايت هم بناءوي ،نونده پکار، چې دکفر په جرم ملزم وبلل شي ،ددې پورتنو عباراتونه دانګيرنه کولای شو ،چې داسلام دايره ډيره پراخه او سيع ده، په باب يې بايد له تنګ نظرۍ نه ګټه وانه خستل شي او تر ممکن وسه کوشش وشي ،چې يو څوک داسلام په دايره کې پاتې شي .لکه مخکې مو چې وويل ،داسلامي نړۍ ولسونه نن سبا په فروعاتو کې دځلورګونو مذاهبو او په عقايدو کې دماتريده وويا اشاعروو پيروي کوي او همدغه مدرسې يې

دځان دعقيدې اوفروعاتولپاره ټاکلې داددې نښه ده، چې امت به نورد اتفاق پرلورځي او له خرافاتونه به بچ کيږي ،زمونږپه باورچې داڅلورګونې مذاهب اودماتريديه يا اشاعره وو دمسلک انتخاب دامت مسلمه دوحدت او دنن سبا په له فتنوډک دورکې داتفاق ضمانت ورکوي، څلورګونې مذاهب چې داسلامي امت دجمهوروعلماووپه اتفاق سره موثوق شوي اووثيقه يې له قرآن او سنت نه ترلاسه کړي ،اجماع اوقياس يې هم له نصوصوبعد دلايل دي اوددې څلوروماخذونونه فقهي مسايل مستنبط دي ،دامت له دتاييد وړ کرځيدلي دي ،نن سباچې په نړۍ کې دمطلق اجتهاد ضوابط او شروط چاکې نه ليدل کيږي ،نوځکه امت پر څلورائمه وو راغونډ دی اودهغوئ استنباطات او فقهي قواعددجزئياتو داستجراج سرچينه بولي ،ددې وجه خو څه باندې دوه نيمې پيړۍ مخکې دستر محقق علامه شامي رح داګوتڅنډنه ده چې (ماپدې پيرکې چې زه پکې ژوندکوم داسې څوک ندي ليدلې چې داجتهاد استعداد دې ولري اودا دې مجتهد شي )هغه جوت پيغام دې ،چې اجتهاد کوم معمولي اوسرسري کار ندی او نه کومه وړه مسئله ده، بلکې دپيغمبرص دځای ناستي په توګه يې له زړه او دماغودهغو مسائلواستنباط دی ،چې له کتاب اوسنتو نه په دقيق النظراوعميق تبحرسره له خپلو ضوابطوله مخې صورت نيسي ، داسې به وي ،چې دشريعت منل شوي فرع شي او له نصوصوسره په تضادکې نوي، اجتهاددا سې اصول لري چې نن سبا په چا کې نه موندل کيږي.

همداسې په عقيدوي مسايلوکې دبرصغيرپه شمول دافغانستان او ماوراءالنهرمسلمانان دامام ابومنصور ماتريدي رح د نظرياتوپيروي کوي اوپرعقايدويې ګروهمند دي ،(اشاعره اوماتريديه) چې په خپلومنځونو کې په ډيروکمومسايلوکې اختلاف نظر لري اوهغه هم اختلاف صوري يا نزاع لفظي ده ،نوهمداد (اشاعرويا ماتريديه وو )په متن او حاشيو کې داهل سنت والجماعت تر بيرغ لاندې دخلکو راغونډيدل هم دامت داتفاق يوبل مظهر دی ،چې ځيني مسلمانان له اشاعرواوځينې دامام ماتريدي رح په بڼ کې راټول دي اوله فرقو باطلودفتنونه يې ځانونه ساتلي دي.

وروسته به بحثونوکې هم په تفصيل سره راشي، چې متاخرين اومعاصر علماء عام پدې ترکيزکوي، چې دفتنونه دخلاصون لاره همدا ده، چې فروعاتوکې مذاهب اربعه انتخاب کړای شي اودتقليد په خپلولو سره دفتنومخه بنده کړای شي.

ددې لپاره چې داهل سنت والجماعت په حقيقي مفهوم باندې ځان پوه کړوداهل قبله وو ،دعدم تکفير موضوع خوموپه مقدماتي مباحثوکې په منصوصي اوفقهي دلايلوثابته کړه ،همداسې به راتلونکيو څيړنوکې انشاءالله تعالی لاندېني عنونانونه تر تحقيق لاندې ونيسو:اهل سنت والجماعت څه معنی ؟اهل سنت والجماعت يا ناجيه فرقه/نن سبا اهل سنت والجماعت څوک دي ؟/د ما انا عليه واصحابی تشريح /داهل سنت والجماعت اصطلاح کله رامنځ ته شوه ؟تاريخي قدامت يې /داهل سنت والجماعت نوم ولې اودچاپه مقابل کې رامنځته شو ؟/اشاعره او ماتريديه څوک دي ؟/امام ابوحنيفه رح دعلم کلام دلومړنی مدون په حيث/داهل سنت والجماعت عقايداونظريات ....داسې نوراړين موضوعات به ددې تحقيقاتي مقالي په صدد کې پرله پسې دڅرک مجلې له لارې دخپلو لوستونکيوپه خدمت کې وړاندې کړو،چې البته ددې مقالې په اوډون او چمتوکولوکې مو دتفاسيرو، داحاديثو دمتونو ،شروحوسربيره ،دمشهورو فتاوو فتاوي ،دمتاخرينو او برصغيردلويو منل شويوعلماوو له اثاروا و تاليفاتواعظمي استفاده شوي ، چې دمقالې په پای کې ټول ماخذونه دسند په توګه وليکوانشاءالله تعالی !



# ستاسو په کلي کې د امريکايي عسکر پښه ورکه ده !!؟

*لطیف الله ـ ع*

لکه دهيواددنوروسيمواوولايتونوپه څېرلوګرولايت هم هغه سيمه اوولايت دی چې دتيرو ۱۳ کلونوپه اوږدوکې دخارجي يرغلګرواوداخلي ګوډاګيانو زرګونه ککړې هلته خاورې ، سوونوټانګونه اونقليه محاربوي وسايط يې درې ورې اوپه درځنوچورلکې اوالوتکې دمجاهدينوله لوري راوغورځول شوي .

داخبره له هيچاپټه نده چې دلوګرله ۹۰فيصده زياته ځمکه دمجاهدينوترداسې ولکې اوسلطې لاندې ده چې هلته عملاداسلامي امارت لوايح اوفرامين پلي اوتطبيق دي ، دقضاءپه ګډون دامارت بيلابيلې اداري اودتصميم نيونې مراجع فعالي دي او مجاهدين علني جلسي اوله ولس سره ناستې ولاړې لري اوماته ډيرجالب ټکی دادی چې کله ديرغلګرواوددوی دګوډاګيانوله لوري په يوې سيمه کې کوم مجاهددشهادت جام نوش کړي ؛ په خلکوکې يولويه جذبه ګډيږي ، خپل ټول کارونه اوروزګارمعطلوي اودنازولي شهيدپه جنازه کې ګډون اوبرخه اخلي ،کله چې دشهيدجسددجنازي لپاره وړل کيږي په بامونو تورسري اوسپين سري ناستې وي په غمجنواواوښکلنوسترګوورته ګوري لپي لپي اوښکي تويوي دعاوي کوي اودشهادت مبارکی ورته وايي .

کله چې ځوانان چې په هغوکې ډيرلوستي اودعصري علوموشاګردان اومحصلين هم شامل دي دشهيد دجنازي اعزازي مراسم ، سپينه اوګلګون کفنه څيره ووينې اودخلکوهجوم ، ولولې اودتکبيرملکوتي نعري مشاهده کړي نوهرځوان په همدې ځای کې له شهيداوپاکوارمانونوسره يې کلک عهدکوي چې شهيده ستالاراومسيربه تعقيبوم او له اشغالګرونه به دې اورمرو انتقام اوغچ اخلم

دولس له جهاد ، دين اومجاهدينوسره همدغه اخلاص اودزړه دتل مينه وه اودی چې ديوه شهيدپه جنازه کې لسګونه دهغه همځولي جهاداوقرباني تياريږي اود مجاهدينوګروپونواوټوليوته ځانونه رسوي .

ماتــه خــوداخبره هــم معلومــه ده چــې ددينــي علومودطالبانوترڅنګ په روان جهادکې دعصري علومو شاګردان څومره ونډه اوبرخه لري ، دلوګرپه ټولوليسوکې هرډريم اوڅلورم شاګرد مجاهداويااورسره دومره ډرګنده مينــه لــري چــې د موبايلونو حــافظې يــې دمجاهدينولــه ترانواوجهادي ويډيوګانوڅخه ډکې دي اوددې پرځای چې سندري اونـاولي ووينـي جهادي ترانـې اوري اوجهادي صحنې ګوري .

داسې نـده چې اسلامي امـارت ددغوشـاګردانو پـه ذهنونوځانګړی کارکړی اويايي ماديات ورکړی ، بلکې الله تعالی يې خپله له جهادسره مينه پيداکړې هغوی په دې سخت خوشالېږي چې داشغالګروکوم ټانګ والوزي اودوی يې کنډرکنډرټوټې په خپلوسترګووويني !!

يوه مجاهدورراته خبره کوله چې دلوګرولايت مرکز مربـوط دخـدرکمپـاين تـه نيـږدې (دحامـدکرزي ) پـه نـوم ديوې ليسې غالبادلسم اويايولسم ټولګي يوزدکونکی د( نـاظر ) پـه نامـه ووچې يوزوړبايسکل يـې لاره اوجسـمي جوړښت يې هم کمزوری وو ، ددرس په وخت کې به يې تل دکمپاين په لارې اوعمومي دروازې سترګې خښې کړې وې چې ديرغلګرودټانګونوکتاربه کوم لوري ته مخه کوي ، کله به چې يوه شـو چې کتـار دده ترهدف لاندې مسير باندې روان شو نوپرته له دې چې له استادنه اجازه واخلي په ډيرې چټکتيا به يې په زاړه بايسکل پښه واړوله اوهغه ځای ته به يـې ځـان ورسـولوچې نومـوړي ميړنـي اتـل بـه مخکـې لـه مخکې ماين دلارې په يوې برخې کې ځای پرځای کړی وو پـه ډيرلـږوخـت کـې بـه يـې مـاين هـدف اوګوزارتـه چمتوکړاوهغه به لږ په فاصله کې له ريموټ سره ورته ناست وواوله چاودنې به يې په خپلوسترګولذت اخيسته ،څوشپې ورسته بـه ديرغلګروپـه کتـار لويـه چاودنـه ترسـره شـوه اودخدای دلارې دغـه بې رياوسرمست ځوان بـه بيرتـه لـه غزانه فاتح ليسې ته راستون شواوپه درسوويلوبه يې شروع وکړه ، دمجاهدناظردايوځل نه وو، بلکې لسګونه ټانګونه الله تعـالی دهغـه اونوروڅوتنومحدودوملګروپـه واسـطه دماينونودخاص تکتيک په مرسته له منځه وړل شوي وي ، چې بالاخره داسلام دلارې دغه خاموش مجاهد څومياشتې وړانـدې خپلـې ابـدي هيلـې ( شـهادت ) تـه هغـه مهـال ورسيدچې امريکايي چورلکودماين خښولوپه وخت کشف اوله يوبل نامتومجاهدملاخواني سره يوځای داشغالګرو دچورلکې هدف وګرځيد ، ملاخواني په داسې حال کې چې ټپـي وژونـدی دامريکايانولاسـته ورغـی او کلـه چــې امريکايانو يوه شول چې نوموړی هغه څوک ده چې لسګونه ټانګونــه يــې ويجــاړاودوی تــه انتهــايي مطلــوب دی نودکمپاين په روغتون کې يې په ډيروحشت په برچوسوری سوري اوبياشهيدکړ، داهسې زمونږ دتنکيواتلانوقربانيواو ميړانويومشت نمونه خورواريادونه ده چې روان جهادڅومره سپېڅلي اوپه څومره تنکيواوپاکوارادومخ په وړاندې روان دي .

همدارنګه په روان جهادکې دپتمنومجاهدوښځوونډه بلکل له نارينه ووڅخه کمه اولږه نده ، په دې سربيره چې مجاهدينوتـه ډوډوي برابـروي ، جامې ورتـه وينځـي ، اکثـره مجاهدين وايي چې کله مونږ له عملياتو راستانه شواوسخت ستړی اوستومانه هم يو ، خوچې کله مودکوم مخلص عـام مســـلمان وروردروازه ورټکـــولې اودحالاتولـــه وجـــې معمولاددراوزې شاته کومه موراوخورراغلې اوپوښتنه يې کړې چې څـوک يـی اومـونږ ورتـه ويلي وي چې (طالبـان ) نوهيڅکله داسې نده پيښه شوي چې منفي ځواب راکړی ، بلکې ويلي چې ښـه ده زه سـړي راخبروم دروازه بـه درتـه خلاصه کړي

مجاهدين داهم وايي چې مونږ تـه په کراتومراتوثابتـه شـــوي چـــې ترســـهاره دغومجاهدوميندواوخويندوپـــه بـامونوپيره کـړي چـې مباداديرغلګروچاپـه ونـه لـويږي اومجاهدين ژوندی لاسته ورنشي .

يوه مجاهدکيسه راته کوله چې تيرکال دلوګرپه مرکزي سـيمه (دعيسـی خيلوخـوړکې) لـه هغـه ورسـته چـې لـه

ځوتنو ملګروسره موپه امریکایي کتار بریدوکړاودرون زیان مووروا ړاه ، له بره امریکایي چورلکې وي اوپه ځمکه لسګونه امریکایي عسکرپیاده شول اوزمونږ لټه یې شروع کړه ، مجاهدین مجبورشول چې کلي ته پناییوسي ، له ماسره پیکاه وه په هغې مې هم زړه نه کیده چې په پټیوکې یې وغورځوم اوامریکا یان یې واخلي له بلې خوا درنه هم وه اوچورلکوهم سخت غوبل پیل کړی وو ، دیوه کورمخې ته یوه حیاناکه اومجاهدخورګرځیدله کله یې چې زماورخطایی ولیده پلویې مخ ته ونیوه اوراته وي ویل چې طالب یې ، ماورته وویل چې هوطالب یم اوامریکایان راپسي دي څه وکړم ؟غیرتمنې خورووېل چې پیکادې ماته را کړه نور دې په مخ ښه چې له پیکاسره دې یوځای ونه نیسي نوربه الله خیرکړي ، هماغه ووچې پیکامې هغې ته په ځمکه کیښوده خوردسترګوپه رپ کې پیکاپه غیږکې په ټکري پټه اوپه یوه منډه یې کورته ننه ویستله ، هماغه ووچې له زه کلي نه ووتم اوالله تعالی دهغې میړنی خورپه وجه له یرغلګروخلاص اوژوندیې راوباښه ، مجاهدویل هملته مې وویل چې وګوره زمونږ خویندي څومره له فداکاریواوجهادي احساس څخه مالامالې دي چې لوی خطریې په ځان قبلوي اوپه سترګووینې چې امریکایان په طالب پسي راروان دي اوله بره یې چورلکې ویني خوبیاهم مجاهدته له مرګه پناه ورکوي اوآن وسله یې ورته ساتي .

درنولوستونکووګورئ ! زمونږولس ، زمونږ ځوانان ، زمونږه خویندي اومیندي څومره جهاد ، طالب اودین ته رغبت ،اخلاص اومحبت ورسره لري ، الله تعالی دي مونږته هم توفیق راکړي چې ددغه غیورولس همداسې قدرونه اوعزت وکړو ، مایوس یې نکړو ، مشورې ورسره ولرواوپه زخمونویې ملهمونه کیږدو .

اصلي موضوع رانه پاتې شوه ،تیره میاشت دلوګردمرکز اړوند دمشهورکلي (پادخواب شانه ) چې دجهاداوعلم لوی مرکزدي دیوې غونډې په سرجوړې شوي پوستې ته یوه ډله امریکایي ځناورپیاده راپورته کیدل چې دمجاهدینو دیوه ښخ کړل شوي ماین په نتیجه دلسو په شاوخواکې عسکرمړه اوګوډومات شول ، نومونږ چاودنه دومره قوي اوموثره وه چې دډیروامریکایي عسکرودوجودبرخې اوټوټې دغونډې شاوخوادانګورو باغونوته غورځیدلې وي چې دهغوپه جمله کې دیوه امریکایي عسکرټوله پښه هم یوځای پرته وه ، دکلي ماشومانوهغه پښه پیدااوبیایې مجاهدینوته وسپارله ، مجاهدینوهغه خبیثه پښه دپادخواب شانه دجامع جومات مخ ته دخلکودننداري لپاره په ونه راوځړوله ، دپیښې په سبا دګوډاګې اداري والي دپادخواب شانه سپین ژیري ولایت ته وغوښتل اوورته یې وویل چې په پرونی چاودنې کې دڅوامریکایانوپښې ورکې دي تاسې باغونه ولټوي ترڅوپښې پیدااومونږته یې وسپاری ، سپین ژیروورته وویل چې له نوروپښونه یو خبرالبته یوه دانه دپادخواب دمزارجامع جومات مخ ته طالبانوراځړولې ده ،که یې غواړی مونږته مکتوب ولیکي ځکه چې طالبانوته زمونږ دلیل جوړشي ، هماغه ووچې والي مکتوب دپادخواب دخلکواوسپین ژیروپه نامه ولیکه چې په پلاني تاریخ دیوې چاودنې په وخت دیوه امریکایی پښه نادرکه شوې ده اوداسې راپورونه دي چې هغه اوس دپادخواب دجامع جومات مخ ته راځوړنده ده تاسې بایدد امریکایي پښې په راسپارلو کې مرسته وکړی ځکه چې ایتلافي قواوو پرمونږ سخت فشاراچولی !

سپین ژیرو هغه مکتوب طالبانوته راوړ طالبانوهم دسپین ژیروغوښتنه ومنله اواجازه یې ورکړه چې دامریکایي پښه له ونې خلاصه او ولایت ته وسپاري!

# ترهتولوخطرناکه نشه اوپر ضديې نړيوالومبارزه

حسن مومند

وايې: چا دیو هوښیار نه وپوښتل
چې
جو
یو
ا
شمېره مرصونه وي ،،

دا خبره ډېره د کار خبره ده اود سیګرټولویو تاوانونو ته په پام سره ددې وړ ده چې د سرو زرو په اوبو ولیکل شي .

زموږ ټولنې کې په سیګرټو دروګدوتنانو شمېره ډېره زیاته اوښه په بې باکی په لوړه پیمانه تماکو کارول کېږي خو متأسفانه چې دضررونوپه اړه یې په ټولنې کې معلومات ډېر کم دي اوپه دې اړه په خلکوکې دآګاهۍ لپاره هیڅ پروګرام نشته .

چلم زموږ د دېرې او حجرې نه جداکېدونکې برخه وه د افغان په حجره کې به چې چلم نه و خلکو به پرې بد ویل او داسې به یې ګڼل لکه چې حجره وي خو پکې چا ته چای او ډوډۍ نه ورکول کېږي ، دهجرت سره سم په مهاجرو افغانانو کې د چلم کلتور بیخي له منځه ولاړ ، او د سیګرټو سکل ډېر راکم شول ، سیګرټ خلکو د لوچ کانو عادت ګڼلو نو ځکه به ترې شریفو مهاجرینو ځان لرې ساتلو او ډېری کمپونه خو داسې وو چې پکې د سیګرټو په سکلو او خرڅلاو بندیز و ، خو دلته پـّه هېواد کې خبره بېخي برعکس وه ، دلته چې فاسد کمونستي دولت مسلط وو نو په ځوانانو کې د اخلاقي نوروفسادونو د زیاتوالي تر څنګ د سیګرټو سکل هم ډېر زیات شوي وو

اوخبره تر بې سوادوخلکونه وه محدوده بلکې ددوزیرانو ، فوځي جنرالانو اوپوهنتون دا ستاذانونه نیولې دفتر ترماموراودمکتب ترمعلمه به په باسواده خلکوکې هم دسیګرټو سکل داسې عادي خبره وه چې هیڅ دعیب په سترګه به ورته نه کتل کېدل .

تردې چې د متوسطو او ثانویو په تنکیو ځوانانوکې به ترې هم ډېر کم خوندي پاتې وو ځکه چې په مکتبونوکې به درسونه نه وو چې له امله یې داخلاقي فساد دخپرېدا په مرکزونو بدل شوي وو چې زموږ ټولنې ته همدې ډېرسترتاوانونه د دتاوانونه ورسول .

داسلامي امارت د قیام پر مهال دسیګرټو کارولوکې ډېر کموالی راغلی و خو له بده مرغه چې د اشغالګرو د قبضې نه پس په ځوانانوکې د نورو اخلاقي فسادونو د ډېروالی تر څنګ د سیګرټو سکلو کې هم ډېروالی راغلی خو پر ضد یې هیڅ ډول مبارزه نشته ، نه یې هم په مقابل کې اوازپورته کېږي او نه یې عام وګړي له تاوانونو خبره ولای شي .

د طب پوهان وایي چې د سیګرټ دلګېدلو سره سم د ۴ زرونه زیات کیمیاوي اجزاء تولېدېږي چې پکې ۲سوه اجزاء د انسان صحت ته ډېر زیات تاوان رسوي چې دهمدې تاوان رسوونکو څخه یې ۴۷ داسې دي چې مخامخ د سرطان سبب ګرځي او یا د سرطان په رامنځته کوونکو اسبابو کې مرسته کوونکې ثابتېږي .

دسیګرټ د یو کش نه ایله ۶ثانې پس پدې کې دنیکوټین په نوم مواد د سګو نه دتېرېدونه پس په وینه کې جذبېږي

چې له امله یې اعصاب مړه شي او سیګرټ سکونکی د تسکین احساس کوي نو ځکه یې بیا سکلو ته اشتهاء کېږي .

سیګرټ یواځې د تماکو ، کاغذ اودپلاستیکي پشم نه جوړ فلټر مجموعه نه ده بلکې په جوړښت کې یې په لاندې ډول دذکرشویو لسګونو نوروهغو موادونه هم کار اخستل کېږي کوم چې صحت ته سترتاوانونه اړوي مثلاً بینزین چې د وینی د سرطان سبب ګرځي

فارمیلډي هاید :دابې رنګه کیمیاوي موااددي چې د مړو قسمونو د خوندي ساتلو لپاره استعمالېږي د ساه او دهضم له مرضونو پرته د سرطان سبب هم ګرځي .

ایمونیا : نورکیمیاوي مواد دي چې درنګ صافوالی او تازه والی لپاره په سیګرټو کې استعمالېږي .

ټار دسیګرټو دلوګي سره یوځای سګو ته ننوځي چې ۷۰ سلنه یې په سګو کې دننه پاتی کېږي .

نیکوټین : په تماکو کې موجود نشه راوستونکي کیمیاوي مواد دي چې له امله یې انسان د سګرټو عادي ګرځي .

کاری مونو اکسایډ : د موټرو د لوګي نه چې انسانانو ته کوم ضرر رسونکی غاز تولیدېږي د سیګرټو دکیمیاوي موادو نه هم هماغه غاز تولیدېږي .

ویریناکلین : د سیګرټو بل مهم جز دی چې د ډپریشن ، خپل ځان ته د ضرر رسولو ،ځان وژنې، دزړه د مرضونو او د شیریانونو د بندوالی سبب ګرځي .

لیډ :په وینې کې هیموګلوبین سره یوځای کېږي چې داکسیجن رسولو کې کموالی راولی .

ټسینس : سیګرټو کې استعمالېدونکي کېمیاوي مواد دي چې د سګو د سرطان سبب ګرځي .

آرسینک : د اهغه کیمیاوي مواد دي چې د بوټواوفصلونو د حشراتو د وژلو لپاره پاشل کېږي ، دا مواد د تماکو په بوټی کې یوځای کېږي او خپل زهرجن اثرات د انسان په بدن کې خپروي .

کیډمیم : دا هغه کېمیاوي مواد دي چې په بیټریو کې کارول کېږي او دسګرټ مهمه برخه هم ده ، د سیګرټ سکونکو په بدن کې ددې مقدار څو چنده زیاتېږي .

(( P ۲۱۰ )) او (( L ۲۱۰ )) نومي موادچې سیګرټ یې تولېدوي په انساني تولنې یې بد اثرات داتوم داستعمال نه پس بدواغیزوته نېږدې دي .دهر ځل سیګرټ سکلو له لارې دانسان بدن ته ۸ملي ګرامه نکوټین ننوځی دا دومره خطرناک مواد دي چې دطب پوهان یې په اړه وایې: په یوځل ۴۵ ملی ګرامه نکوټین خوړل د انسان دمرګ سبب ګرځی .

دسیګرټ یا چلم سکل نه یواځې دا چې انسان دنشې عادي ګرځوي او په اعصابو بدې اغېزې کوي بلکې نورې ډېرې بدې اغېزې پر بدن پرې باسي خو ترټولو زیات تاوان سګو ته رسوي ، سګو کې دننه د ساه لارې تنګوي ، دساه په اخستلو کې مشکلات راولاړوي ، د اکسیجن د جمع کولو په صلاحیت کې کموالی راځي او د سګو د سرطان سبب ګرځی . سیګرټ د قلبي امراضو سبب هم ګرځی، د غاښونو او کلمو مرضونه ترې هم پېداکېږي په نظر هم بدې اغېزې کوي ، او په سږو او مېرمنو کې د شنډتوب یولوی لامل هم د سیګرټو سکل دي ، حاملو مېرمنو ته سیګرټ ډېر زیات تاواني دی پّه حمل باندې یې بدې اغېزې کېږي لکه دحمل ضایع کېدل ، د وزن کموالی یې ، د بدن وړو کی کېدل د پېداکېدونه وړاندې مړه کېدل یاپه غبرګونو کې د یو مړه کېدل ، د وخت نه وړاندې د کوچني ولادت او داسی نور.

د سیګرټو بد اثرات د پې ورکوونکو میندو نه ډېر ژر کوچنیانوته انتقالېږي

C.O.P.D د سګو دهوا په لاروکې د دائمې موانعو ایجادونکی د یوډول مریضتیا نوم دی ، دامرض سګو ته دهوا

د داخلېدو لارې ورو ورو تنګوي تردې چې داسې وخت راورسېږي چې بيا تنفس اخستل ډېر مشکل شي ، د توخى سره د بلغمو راوتل ددې مرض لويه نښه ده ، په نړۍ کې د ۵ سلنې مړينې لامل همدا مرض دى يانې په ټوله نړۍ کې ددې مرض په سبب هره ورځ ۶زره انسانان خپل ژوند له لاسه ورکوي چې داشمېره د سګو او سينې په سرطان د مړو له شمېرې زياته ده ، ککړ چاپېريال هم ددې مرض په عواملو کې شمېرل کېږي خو سيګرټ سکل يې تر ټولو ستر عامل دى .

دا مرض په امريکا کې د معذوروالى تر ټولو لوى او د مړينو ۳ يم سبب دى ، د روغتيا د نړيوالى ادارې له لورې په نويو خپرو شويو راپورونوکې راغلي دي چې په نړۍ کې د۲۱۰ ميليونو نه زيات انسانان په دې مرض اخته دي ، که دامرض په همدې رفتار خپرېږي نو تر ۱۲۲۰ م پورې به دامرض په ټولې نړۍ کې د مړينو ۳يم تر ټولو ستر سبب او دمعذوروالى پنځم تر ټولو ستر لامل وي ، دا مرض ورو ورو خپرېږي ، د وخت په تېرېدو يې علامې ډېرېږي او د هرې ورځې نه بلې ته سړى دومره کمزورى کېږي چې د خپل ورځني ژوند په کوچنوکارونو کې هم سړى ځان ډېر ستړى محسوسوي ، ډاکټرانو تر اوسه ددې مرض علاج نه دى معلوم کړى اونه پدې پوهېږي چې د ساه لارو او سګو ته چې کوم تاوان رسېدلى دى دا څرنګه ورغول شي ؟ خو مسلسل علاج او دځاى په بدلون مرض کمېداى شي .

د روغتيا دنړيوالى ادارې د راپور له مخې د تماکو روګدي وګړو کې کابو نيم يې دهمدې نشې له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي ، هرکال په نړۍ کې ۶ ميليونه انسانان د تماکو د کارولو له امله مړه کېږي ، په دوئ کې ۶ سوه زره هغه تنان دي چې تماکو پخپله نه سکي خو مخامخ يې له لوګي څخه اغېزمن کېږي ،که د تماکو کارول همداسې جريان ومومي نو داخطره شته چې تر ۱۲۳۰ م پورې به يې له امله هر کال ۸ ميليونه انسانان خپل ژوند له لاسه ورکوي .

په هرې دقيقې کې په ټولې نړۍ کې کابو ۱۰ميليونه سيګرټ خرڅېږي ، يواځې په چين کې په هرې دقيقې کې دوه نيم ميلونه انسانان سيګرټ سکي ، په ټولې نړۍ کې دسيګرټو روګدي تنانو کې ۷۰سلنه هغه دي چې ۱۸ کلونو ته له رسېدويې وړاندې سيګرټ پيل کړي وي ، د تماکو داستعمالونکو د ۸۰سلنه وګړو تړاو د وروسته پاتې هېوادونو سره دى خو داسې هم نده چې په پرمختللو هېوادونو کې يې استعمال کم دى ، د بي بي سي راديو نه په يو خپور شوي راپور کې راغلي دي چې په برتانيه کې هره ورځ ۵۷۰ کوچنيان د سيګرټو سکل پيلوي اود ۱۶ کلونو نه د کم عمر لرونکو کوچنيانو څخه ۲۷ سلنه کوچنيانو خامخا يو ځل سيګرټ سکلي وي چې بيا پرې ورو ورو روګدي شوي هم وي .

د طب پوهان وايي چې نړۍ تر اوسه د صحت په باره کې د څومره خطرونو سره مخامخ شويده د تماکو کارول پکې تر ټولو لوى سترخطر دى او د تماکو معتاد توب د هېروينو په پرتله ۴۰ چنده زيات طاقتور دى .

تماکو چې د انسانانو صحت ته ډېر زيات ضرر رسونکى شى دى پکار ده چې اوس يې په نړۍ کې نوم او نښه هم نه واى خو متأسفانه چې نه يواځې دا چې نړۍ کې يې دختمولوهڅې نه دي شوي بلکې ورځ تر بلې په کې زياتوالى راځي ځکه چې تجارت يې د ملټي نيشنل لويو شرکتونو په لاس کې دى له دې لارې داشرکتونه په ملياردونوډالر لاسته راوړي اوداخوڅرګنده ده چې د کوم شي سره دملټي نيشنل شرکتونو ګټې تړلې وي که له هغې انسانانو ته ډېر لوى زيانونه اوړي پرهغې بنديز ډېر ګران وي .

په نړۍ کې هر ځل د مئ په ۳۱ مې نېټې د تماکو پر ضد د مبارزى ورځ لمانځل کېږي په سترو هوټلونو کې پروګرامونه کېږي ، شه ډېر مصرفونه پرې ګېږي ، د طب پوهان مقالى وړاندې کوي د سيګرټو ضررونه بيانېږي د

دولتونو له لوري د تماکو د کارولو د له منځه وړلو يا راکمولو ژمنې رامخی ته کېږي خو په عمل کې هيڅ هم نه ښکاري .

موږ مسلمانان بايد پدې اړه غفلت پر پرېږدو د تماکو د خورا ډېرو بدو اغېزو نه د ټولنې د ژغورنې په موخه بايد ددې پر ضد اجتماعی او انفرادي اواز پورته کړو او د له منځه وړلو لپاره يې دممبر او محراب پورې هره د ابلاغ وسيله په کار واچوو ترڅو مو د روغتيا په اړه ټولنه د لا زياتو مشکلاتو سره مخامخ نه شي او د مال ډېره برخه مو پر يو ضرر رسونکي شي ونه لګېږي .

پوهان وايي چې د سيګرټو د پرېښودلو اسانه طريقه کلک عزم دی له کلک عزم پرته بله يوه کاميابه لار هم نه لري .

چې کله پرېښودل شي نو ضررونه يې هم مخ په کمېدو شي د پر ېښودو نه ۱۲ ساعته پس په وينه کې د کاربن موټو اکسايډ مقدار بېرته راکم شي کوم چې د سيګرټو له امله زيات شوی و .

د۲نه تر ۱۲ اونيو پورې دسګو فعاليت بېرته خپل ځای ته راځی ، د۴نه تر ۲۰ اونيوو پورې د ټوخي او ساه تکليفونه له منځه ځي ، د ۵کلونونه پس دفالج خطرد نورو نورمال انسانانو په څېر کمېږی

او که په سرطان اخته نه وي نو د ۶ نه تر ۸ کلونو پورې په سرطان د سګود اخته کېدو خطره هم له منځه ځي .

دخدای نه مو دعا ده چې پرې داخته ټولومسلمانانو زړونه ترې واوړي . آمين .

# ابعاد یک رسوایی

دولتمردان آمریکا که همواره مدعی حمایت از حقوق بشر هستند و با این ادعا نیز به دخالت در امور کشورها می پردازند این روزها با رسوایی افشای جاسوسی دولتمردان از زندگی شخصی مردم مواجه شده اند. اسناد افشا شده از سوی «ادوارد اسنودن» مأمور سابق ۲۹ ساله «سیا» نشان می‌دهد که دستگاه‌های اطلاعاتی آمریکا با مجوز رسمی از سوی مقامات به جاسوسی از زندگی شخصی مردم مبادرت ورزیده‌اند. این مسئله نشان این امر است که ادعای اوباما مبنی بر کنار نهادن سیاست‌های دوران بوش ادعایی واهی است و وی نیز با ادعای قانون میهن پرستی بر طبل نقض حقوق شهروندان می کبد. رسوایی‌های اخیر را می توان ادامه خلف وعده‌های اوباما برای تعطیل ساختن زندان گوانتانامو، عدم تجاوز به حریم خصوصی شهروندان دانست که البته با افزودن اصرار وی بر استفاده از هواپیماهای بدون سرنشین برای کشتار در سراسر جهان پرونده‌ای قطور از نقض حقوق بشر توسط اوباما را به نمایش می‌گذارد. نکته قابل توجه در رسوایی شنود مکالمات شهروندان آمریکایی آنکه تمام جامعه آمریکا تحت پوشش این طرح قرار داشته‌اند که نشانگر دیکتاتوری و نقض سیستماتیک حقوق بشر اعمال شده از سوی دولتمردان آمریکا می باشد.

این روند بار دیگر این سوال را در ذهن افکار عمومی جهان ایجاد می‌کند که اگر آمریکا واقعا به دنبال تحقق حقوق بشر در جهان است و با این ادعا به پرونده سازی علیه کشورها می پردازد و حتی نسخه جنگ علیه کشورها را تجویز می‌کند چگونه در داخل چنین خفقانی را ایجاد کرده است. فضای داخلی آمریکا نشانه‌ای دیگر بر واهی بودن ادعاهای حقوق بشری سران آمریکا است.

نکته قابل توجه آنکه سران آمریکا برآنند تا از این رسوایی به عنوان مولفه‌ای برای رسیدن به اهداف خود بهره برداری کنند چنانکه آنها با ادعای اینکه فضای اطلاعاتی و سایبری آمریکا فاقد ایمنی لازم به حفظ اطلاعات محرمانه است از یک فضای امنیتی کشور را تشدید کرده‌اند و از سوی دیگر به دنبال توجیه ورود به جنگ سایبری با مردم آمریکا و جهان می‌باشند. سیاست های آمریکا نشان می‌دهد که آنها برآنند تا ابعاد جدیدی از جنگ را در صحنه جهانی ایجاد نمایند که محور آن را ورود به حوزه سایبری تشکیل می‌دهد چنانکه ناتو نیز در آخرین نشست خود این ورود به این عرصه را مورد تاکید قرار داد. با تمام این تفاسیر می‌توان گفت که رسوایی جاسوسی از شهروندان نشانه ای دیگر بر واهی بودن ادعاهای حقوق بشری دولتمردان آمریکاست که همواره تلاش کرده‌اند تا از مقوله حقوق بشر برای رسیدن به اهداف جهانی بهره برداری نمایند. رسوایی که می‌توان از آن با نام تروریسم دولتی یاد کرد که نه تنها سایر کشورها بلکه ملت آمریکا را نیز قربانی منافع خویش یا همان اصل حفظ نظام سرمایه‌داری به قیمت نابودسازی تمام جهان ساخته‌اند.


# خلجي

# مد بختيار

قاري محمود غزنوي

سلطان شهاب الدين غوري رحمه‌الله پراخه امپراتوري(۵۵۰-۶۰۲هـ) را منځته کړې وه، چې د موجوده افغانستان له ماوراءالنهر څخه د تر بنګاله پورې يې موقعيت درلود، د نوموړې د امپراتوري مرکز غزنی وو، د هغه د سترو او فاتحو سپه سالارانو له جملې څخه يو محمد بختيار خلجي دی، چا چې له سلطان شهاب الدين غوري سره په ګڼو جهادونو کې برخه اخسته وه، په اخير کې د شرقي هند د فتحې قومندان وټاکل شو، نوموړي د سلطان شهاب الدين غوري له امر سره سم د شرقي هند په فتحې لاس پورې کړو، د هند تر وروستي بريد بنګال پورې يې د خپلو فتوحاتو لمن پراخه کړه او د اسلام بيرغ يې هلته او په پای کې يې د چين په مشهور ښار تبت د حملې لپاره ځان چمتو کړو، خو پايلې يې منفي وې.

د طبقات ناصري مؤلف منهاج سراج جوزجاني، چې اصلاً د افغانستان د غرجستان (ميمني) دی او د غور په سيمو کې لوی شوی او د سلطان غياث الدين محمد سام غوري همعصره دی، نو ځکه د هغه د عصر پېښې او اشخاص ټول ورته ښه معلوميدی.




د محمد بختيار خلجي پيژندنه:

جوزجاني د سپه سالار محمد بختيار خلجي ((د خلجي کلمه چې اول توري يې (خ) ده د پښتنو د يو ټبر د پاره استعمال شوی او د هغه قوم نوم ؤ. چې د سلطان شهاب الدين غوري په لښکرو کې هندوستان ته تللی وو او د هند ختيځې سيمې هم د همدغو پښتنو فتح کړې او بل وخت يې په ډيلي کې پر ټول هندوستان حکومت کړی دی او د خلجي نوم په هند کې د دغو پښتنو د پاره استعمال شوی د. د پيښور په (جمهوريت) نومې مجله کې دا پښتانه چې په هند کې يې حکومتونه کړي. او د (خليجو) په نامه بلل کيدل د (غلجيو) په نوم ذکر او ليکلې دې او ليکې چې دا طايفه د پښتنو خورا لويه طايفه ده يعنې وايي

چې هغه پښتانه چې په هند کې د خلجیو په نامه بلل شوي دي همدا غلجي پښتانه دي چې په افغانستان کې بې د غلجیو په نامه د (غ) په حرف بولې. او په پښتنو کې همدا د غلجیو طایفه ډیره لویه طایفه وه بل دا چې له غلجیو څخه پرته د خلجیو په نامه هچیرې څوک نشته چې څوک وو ایې چې خلجیان دا دي.

ځینې مستشرقین لکه توماشک، وایي (غر) پخوانۍ اریایې کلمه ده چې د غرج، خرج او غرش کلمې له دغې کلمې څخه ما خوذي دي چې وروسته خلج شوې او په ځینو ځایو کې یې غلج وایي او غلزي غرزي او غلجي یه نامه مشهورې شوې دي. بار تولد وایي: میرویس (د خلجیانو مشر) په (۱۷۰۹ع) کال کې پر کندهار بر شو او خبره یې دې حد ته ورسوله چې د ده زوی محمود شاه په ۱۷۲۲ کې ایران ونیو او د ایران ټولواک هم شو (کابل مجله (۱۳۳۸-۳ گڼه). یعنې ښاغلي توماشک، واضح کړې ده چې د غرج – خلج او غلج کلمې سره یو دي او مصداق یې هم یو دي چې کله غرج کله خلج او کله غلج ویل شوي دي او ښاغلي بارتولد، هم د میرویس طایفه غلجیان د (خلجیانو) په نامه یاد کړې دی گواکې خلجي او غلجي یې سره یو بللې دي. د تاریخ فرشته مؤلف هم د جلال الدین خوارزمشاه او ناصر الدین قباچه او شمس الدین التمش د احوالو د یادونې په ترخ کې دوه، درې ځایه د غزنې غلجي پښتانه د (خلجیانو) په نوم یاد او لیکلې دي د (غ) په عوض یې د (خ) توري لیکلی دی نو څرگندیږي چې همدا پښتانه چې په پښتونخوا کې د غلجیو په نوم یادیږي، په هغه عصر کې په هند کې د (خلجیو) په نامه یادیدل) په باب کې داسې لیکلې دي:

محمد بختیار خلجي اصلاً د غور او گرم سیر د خلجیو څخه ؤ. او نوموړی د شجاعت او میړانې خاوند، پیاوړی او په کارپوه سړی ؤ.

او وایي: هغه وخت چې سلطان شهاب الدین غوري په غزنې کې پاچا ؤ، محمد بختیار خلجي له خپل ځای څخه غزنې ته راغی، په (دیوان عرض) کې یې د خپلې مقررې او وظیفې اجرا کولو غوښتنه وکړه، خو د دیوان عرض د آمر له خوا د ده دا غوښتنه ونه منله شوه نو دې د غزنې څخه هندوستان ولاړ. (طبقات ناصري د کابل چاپ ۴۹۷ مخ ۲۹۲ مخ)

د طبقات اکبري مؤلف چې اصلاً د افغانستان د هرات د سیمې دی خو په هند کې زیږیدلی او په هند کې لوی شوی دی، نوموړی مؤرخ په خپل کتاب کې د هندوستان د پښتنو پاچهانو او نوموتو اشخاصو په باره کې خورا ښه تحقیقات او ښې څیړنې لري. نوموړی مؤلف د محمد بختیار خلجي په باب کې داسې لیکي:

محمد بختیار خلجي (د غور او گرم سیر د خلجیو له اکابرو او مشرانو څخه و) او لیکي: محمد بختیار خلجي ډیر شجاع، توریالی، سخي، ډیر هوښیار او د تدبیر او صائب فکر خاوند ؤ.

او وایي: چې محمد بختیار خلجي د سلطان شهاب الدین په وخت کې غزنې ته راغی بیا له هغه ځایه هندوستان ته ولاړ. (طبقات اکبري ۲۳ مخ)

د محمد بختیار خلجي سپه سالارې

د تاریخ هند مؤلف لیکي:

په ۱۱۹۴ میلادي کال غوري سلطان شهاب الدین له نویو قواو سره هند ته راغی او د (قنوج) پر ولایت یې حمله وکړه، د قنوج پاچا (جیچندرای) په جنگ کې مړ شو او مملکت یې د سلطان شهاب الدین په لاس کې ولوید.

محمد بختیار خلجي چې د سلطان شهاب الدین نامتو او غښتلی سپه سالار ؤ.

د قنوج حاکم یې مقرر کړ او د هغه ځای د انتظام او ادارې د پاره یې (سا اخلو یو اندازه عساکر) پریښودل او پخپله شهاب الدین بیرته افغانستان ته ستون شو. (طبقات اکبرې ۲۳ مخ)

په تاریخ فرشته کې لیکي:

په دغه کال چې سلطان شهاب الدین غوري د قنوج او بنارس ښارونه فتح کړل نوموړي سلطان زیاتې لښکرې د هندوستان ختیځو سیمو ته واستولې او د بنگال تر اخیرنۍ برخې پورې ټول وطنونه دغو لښکرو فتح کړې. (طبقات فرشته دوهم ټوک ۲۹۲ مخ)

د هندي تواريخو مورخين چې د مسلمانانو له خوا د هند فتوحات يې ليکلي دي ټول متفق دي چې د شرقي هند او بنګال فاتح محمد بختيار خلجی ؤ ، چې سلطان شهاب الدين غوري د همدې سيمو د فتحې لپاره سر لښکر ټاکلی وو.

ويل کيږي چې محمد بختيار خلجی له قنوج څخه د شرق خوا ته روان شو (اوده) ته ورسيد او ده کې (ملک حسام الدين اغلبک) والي ؤ په دغو سيمو کې محمد بختيار څو ځله د جنګ محاذ ته ولاړ او په جګړو کې يې ګډون وکړ.

محمد بختيار ښه سپور او د وسلې استعمال يې هم ښه زده ؤ، په حربي فنونو کې خورا ماهر و او سربيره پردې د فوق العاده شجاعت خاوند او ډير زړور سړی ؤ.

د اوده، نائب الحکومه حسام الدين اغلبک ته چې د محمد بختيار شجاعت او توره معلوم شول، نو يې د (سليتر، او سهولې) سيمې ده ته وسپارلې او په طبقات اکبرې کې ليکلي دي:

چې د (کنپله، او پټپالی سيمي اغلبک ده ته وسپارلې). (تاريخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۲ مخ طبقات اکبرې ۲۳ مخ)

محمد بختيار ته چې د هند د شرقي سيمو فتوحات سپارل شوې وو، نو له همدې امله يې دا سيمې د خپل فعاليتونه لپاره مرکز وټاکلې.

وايي: محمد بختيار له دغه ځايه څخه د (منبره او بهار) خوا ته مخه کړه او پر دغو سيمو يې يرغلونه شروع کړل څو په دغه وخت کې ډير اسونه او وسلې محمد بختيار ته په لاس ورغلی او پوره قوت ورته حاصل شو او په لږه موده کې د لوی قدرت خاوند شو. (تاريخ فرشته دوهم ۲۹۲ مخ)

کله چې د محمد بختيار د پياوړتوب او فتوحاتو اوازه په هند کې خپور شو، او هرې خوا ته دا انګازې ورسيدې چې محمد بختيار خلجي د هندوستان شرقي خوا ته مخ کړې ده او په ټولو جګړو کې بريالی دی.نو په هندوستان کې د خراسان، غور او غزنې خلک مخصوصاً د ده قوم خلجيان چې د ده له بهادری څخه خبر شول، د غزا په نيت يې د ده خوا ته مخه راونيوله، ډير زيات توريالې او جګړن محمد بختيار ته راغلل او د ده په لښکرو کې شامل شول.

د ډيلې والي سپه سالار قطب الدين ايبک محمد بختيار ته انعام او تحسين نامه واستوله

کله چې د سپه سالار محمد بختيار د بريالیتوب خبر د ډيلې والي قطب الدين ايبک ته ورسيد، نو قطب الدين محمد بختيار ته د ده د دلاوری او عالي همت له امله انعام او تحسين نامه واستوله.

محمد بختيار ته د نورو مجاهدينو راتلو او د ده په لښکرو کې د هغو ګډون او د ډيلې د والي قطب الدين انعامونه او تحسين نامې، د محمد بختيار د زړه قوت نور هم زيات کړ او د غزا او فتوحاتو هوس د ده په دماغ کې ښه ځای ونيو، نو يې د بهار خوا ته نوره هم توجه زياته او خپل يرغلونه يې قوی کړل او تقريباً تر دوو کالو پورې د محمد بختيار يرغلونو د بهار پر ولايت باندې دوام وکړ. (طبقات ناصري د کابل چاپ ۲۹۷ مخ تاريخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۲ مخ)

د بهار فتح

که څه هم د بهار ((بهار په هندي بنګالي ژبه مدرسې ته وايي. د هغه ښار اساس په اول کې مدرسه ؤ. او هغه ځای د علم معدن ؤ نو يې بهار نوم پر ايښی دی طبقات ناصري ۴۹۷ مخ تاريخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۲ مخ).) پر ښار د سپه سالار محمد بختيار يرغلونه ډير اوږده شول خو د ده په عزم او اراده کې سستې رانغله، هر وخت به يې خپلې لښکرې چمتو ساتلې او په جګړو بوخت ؤ چې څو يې په پای کې د بهار ښار محاصره او فتح کړ (۵۹۹ ق).

د طبقات ناصري مؤلف منهاج سراج جوزجاني وايي:

په (٦٤١) هجري قمري کال زه په هند کې د ګرزيدو (سياحت) په ضمن کې (لکهنوتې) ته ورغلم، هلته مې له (صمصام الدين) فرغانوي سره ملاقات راغی، نو موړی يو عالم او پوه سړی ؤ. زه يې خپل ځای ته بوتلم، له هوساينې او آرامی څخه وروسته ده ما ته د سپه سالار محمد بختيار غازي د جهاد او ماجراګانو نقل او قصه وکړه، په دې ډول:

ده وویل مونږ دوه ورونه وو، یو نظام الدین او بل صمصام الدین نومید، اصلاً موږ د ماوراء النهر د فرغاني یو. موږ دواړه د سلطان شهاب الدین غازي په مجاهدینو کې د اسلام له لښکرو سره هندوستان ته راغلو.

دلته دواړه ورونه د محمد بختیار په خدمت کې ودریدو، او د هغو مجاهدینو په جمله کې موږ دواړه ورونه په جنګ کې ښه لایق او پوره سربازان وو، کوم وخت چې د اسلام لښکرو د بهار حصار کلا بند کړ، محمد بختیار غازي چې ډیر زړور او د فوق العاده شجاعت خاوند ؤ. پخپله یې د هغه حصار پر دروازه حمله وروړه او د هغه ځای د شدیدې جګړې اور ته یې ځان وغورزاوه. له زیاتو خونړیو او شدیدو جګړو څخه وروسته مسلمانان بریالي شول، دغه حصار فتح شو (۵۹۹ هـ).

محمد بختیار خلجي پهلواني او دلاورې

د بهار له فتحې څخه وروسته محمد بختیار ډیلې ته راغی، د ډیلې والي قطب الدین ایبک د هغه تود هرکلی وکړ، وایي چې په ډیلې کې د محمد بختیار د دلاورۍ او شجاعت او پهلوانۍ خبرې کیدې او قطب الدین له خوا د هغه اعزاز او فوق العاده نمانځنې پر نورو امراوو، باندې تاثیر وکړ، چې پر هغو باندې د محمد بختیار تفرق څرګندیدو، د هغوي په زړونو کې له ده سره رخه پیدا شوه.

په دې وخت کې د قطب الدین په دربار کې د یو مست پیل یادونه وشوه چې هیڅ پیل د هغه د مقابلې تاب او طاقت نلرې.

محمد بختیار وویل: دا پیل زه ماتوم، نو یې خپل ګرز راواخیست هغه پیل ته ورغی مست پیلورباندې راغی، خو محمد بختیار چې یو ګرز د هغه پر خلتم ورکړ، خلتم یې ورته په یوه ګذار دوه شقه کړ، پیل په بغارو وتښتید.

د محمد بختیار د قوت او زړورتوب دا منظره چې ولیدلې شوه، قطب الدین او ټول خلک ورته حیران پاته شول، او د ده پر شجاعت او دلاورۍ یې افرینونه وویل او قطب الدین ته یې زیات انعامونه ورکړل.

د محمد بختیار دا دلاورۍ او د پیل ماتول هم په هغه ډول وو، لکه چې د بهرام شاه غزنوي او د سلطان علاء الدین حسین غوري تر منځ جګړو کې چې د نوموړي سلطان حسین غوري (خرمیل) نومې پهلوان، د بهرامشاه جنګې پیل وواژه او غلیم یې مات کړ (طبقات اکبرې ۲۳ مخ طبقات ناصري د کابل چاپ ۴۹۸ مخ، تاریخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۳ مخ).

محمد بختیار بیرته له ډیلې څخه راوګرزید بهار ته راغی.

د نودیه د ښار فتح

په دا بل کال (۶۰۰) هجرې کې محمد بختیار خپلې لښکرې تعبیه کړې او پر لکهنوتې باندې د یرغل په عزم د (نودیه یا نودیار) د ښار خوا ته وخوځید.

وایي: کله چې ښار ته نژدې شول، نو محمد بختیار له څو محدودو سپرو سره له خپلو لښکرو څخه جلا شو، او په عادي ډول ښار ته ورغلل، خلکو ګمان کاوه چې دا به د اسونو سوداګران وي، او په چټکۍ سره نورې لښکرې هم پسې ورغلې پر ښاریې حمله وکړه، ښاریې ونیو. او د هغه ځای راجا (رای لکهمینه) وتښتید، او په آسانۍ سره دا ښار د مسلمانانو په لاس کې ولوید. له دغې فتح څخه ډیرې شتمنۍ، خزانې او پیلان د محمد بختیار په لاس ورغلل، چې له دغې لیارې د ده اقتصادي وضعیت ډیر ښه او عسکرې قدرت یې ډیر زیات شو. (طبقات ناصري د کابل چاپ ۴۹۹ مخ، تاریخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۳ مخ)

لکهنوتي

د لکهنوتې ولایت چې د هندوستان په ختیځو سیمو کې پروت دی ځینې مورخین یې په دې ډول وایي: لکهنوتې د (کور) او (بنګال) له سیمو څخه د لوی سیند تر غاړې پورې سیمو څخه عبارت دی. او ځینې وایې: چې له کور څخه د بهار تر سرحد پورې لکهنوتې دی، او له کور څخه تر بنارس او د لوی سیند تر غاړې پورې بنګال دی او هغه ته بنګ هم وایې.

او وایي: چې محمد بختیار د لکهنوتې او بنګال د نیولو دپاره ډیر کوششونه وکړل. (تاریخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۳ مخ)

د محمد بختیار خلجي پادشاهي او د ده د پادشاهی مرکز:

په تاریخ اکبرې کې لیکې:

هغه وخت چې د سپه سالار محمد بختیار خلجي د تورې او فوق العاده شجاعت او د ده فتوحاتو خبر ډیلې ته ورسید،

نو قطب الدین ایبک محمد بختیار ته تحسین نامه او د (پاچاهۍ تشریف او د سلطنت لوا واستول). او له هغه وروسته محمد بختیار پر لکهنوتې حمله وکړه او د هغه ولایت ښاریې چې (نودیا ریا نودیه) نومید ونیو.

او په لکهنوتې کې یې نوی ښار ودان کړ او دا نوی ښار د (کور) په نامه مشهور دی، دا ښار یې د خپل ځان د پاره پایتخت وټاکه کوم چې اوس خراب شوی دی. او په لکهنوتې کې محمد بختیار خلجي پاچا شو او خطبه یې پر خپل نامه وویله او سکه یې هم پر خپل نامه وایسته. او په دغو سیمو کې یې مساجد او خانقاګانې او مدرسې تاسیس او ودانې کړې. (طبقات اکبري ۲۳ مخ)

په تاریخ فرشته کې لیکي:

محمد بختیار چې د لکهنوتې د ولایت پایتخت د (نودیه) ښار ونیو او د لکهنوتې د ولایت نورې سیمې او د بنګال اکثره برخه یې ونیوله، نو د هغه ولایت د پخوانی پایتخت د (نودیه) د ښار په عوض یې د بنګاله په سرحد کې د (رنګپور) (د رنګپور ښار هم د پښتنو د حکومت له یادګارونو څخه دی) په نامه بل ښار بنا او ودان کړ او دا نوی ښار یې د ځان د پاره دار الملک وټاکه او په دغه ښار او نورو ولایاتو کې نومو ړي محمد بختیار مساجد او خانقاګانې او مدرسې جوړې کړې او خطبه او سکه یې پر خپل نامه جارې کړه. (تاریخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۳ مخ، طبقات ناصري د کابل چاپ ۵۰۰ مخ)

پر لکهنوتې باندې د محمد بختیار حمله او د نودیه د ښار نیول په (۶۰۰) هجري قمري کال کې عملي شوی دی، نو له همدغه تاریخ څخه د محمد بختیار خلجي د پاچاهۍ تاریخ تعینیږي.

### د تبت خواته د محمد بختیار خلجي لښکرکشي

کله چې پښتانه امپراتور سلطان شهاب الدین غازي داسې ستر او مهم فتوحات وکړل او د هندوستان پراخ او ډیر لوی او زیات نفوس لرونکی هیواد یې فتح کړ او د پښتنې لښکرو د مټ په زور دا مهم کارونه انجام شول.

او محمد بختیار خلجي چې له هغو بهادرو پښتنو سپه سالارانو څخه ؤ، چې په هر میدان کې به بریالی او فاتح ؤ، د هندوستان ټولې ختیځې سیمې د هندوستان تر اخرنۍ کرښې پورې په یو اځې تن فتح کړلې او اسلامې حکومت یې په هغو وطنو کې تاسیس کړ او دا ډول اسلامي اساسونه یې هلته وضع کړل چې تر ننه ورځې پورې باقې پاته دي، د هغه سیمو انسانان یې له ناوړه عقائدو او توهماتو څخه وژغورل او په اسلام مشرف شول.

محمد بختیار چې په ذکر شوو سیمو کې زیات ځواک تر لاسه کړو، او د مقابلې یې څوک نه لیدل، تر لرې واټن پورې د هغه واک چلیدو، نو په ذهن کې یې د نور پر مختګ سودا پیدا شوه، د سلطان شهاب الدین غوري دا لښکري چې له غزنې څخه را وتلې وي، د بنګلدیش تر سمندر پورې یې چا مخه نه وه ډب کړې، نو یو لورې ته سمندر بل لورې ته د چین پراخه هیواد وو، چې د تبت مشهور ښار یې د نورو په نسبت په نزدې واټن کې پروت وو.

د خپل پایتخت او نورو ولایاتو له انتظام برابرولو څخه چې خلاص شو. نو یې (د طبقات ناصري په قول لس زره او د تاریخ فرشته په قول دوولس زره انتخابي پیاوړي سپاره) تیار کړل د تبت خواته وخوځید. (طبقات ناصري د کابل چاپ ۵۰۰ مخ تاریخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۴ مخ)

### د محمد بختیار لار ښوونکې

تاریخ فرشته لیکي:

د همالیې د غره په جنوبې خوا کې په دغو سیمو کې چې کومو خلکو استوګنه لرله دري لاندینۍ طایفي وي: (یوه یې منج بله یې کونج او دریمه یې تهار نومیدله)، د منج د طایفې مشر چې د هندوستان سرحد ته نژدې وو، محمد بختیار ته راغی او د اسلام دین یې قبول کړ. او د دغه سړې نوی اسلامې نوم یې (علي منج) کیښود او په همدغه نامه مشهور شو. محمد بختیار چې د تبت خواته لښکري رواني کړې همدغه علي منج نومې شخص په هغو غرو کې د دوی لار ښوونکی ؤ. (تاریخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۴ مخ)

د محمد بختیار لښکرې د دغه سرې په لار ښودنه د هندوستان او تبت تر منځ غرو کې ننوتلې او په دغو غرو او درو کې یو لوی سیند ته ورسیدل.
په طبقات ناصري کې د دغه سیند نوم (بنگمتي) لیکلی دی او تاریخ فرشته د دغه سیند نوم (تیمگری) لیکلی دی او طبقات اکبرې د هغه نوم (بتکمدې) وایي.
د دغه سیند لوی والی او سور او ژوروالی د هندوستان د مشهور سیند (گنک) څخه دري چنده زیات وو، او د لمر خاته خوا ته بهیدو. (طبقات ناصري ۵۰۲ مخ فرشته دوهم ټوک ۲۹٤ مخ طبقات اکبرې ۲٤ مخ).
محمد بختیار د نوموړې علي منج په رهنمایي د دغه سیند پر غاړه غاړه پورته روان وو، لس ورځې یې په دغو غرونو کې مزل وکړ، څو یو ځای ته ورسیدل چې پر دغه سیند باندې له تراشلو ډبرو څخه یو پوخ او محکم پول جوړ شوی ؤ. او داسې مشهوره وه چې دا پول په پخوا زمانو کې (گرشاپ) نومې پادشاه جوړ کړی دی.
محمد بختیار د دغه پول د محافظت د پاره دوه نفره عسکرې افسران چې یو ترک او بل یې خلجي وو، له یوې اندازې عساکرو سره پریښودل تر څو د دوی د بېرته ستنیدو پورې د پول حفاظت وکړي او خپله پرې واوښت.

د محمد بختیار ته د کامرود د پاچا پیغام

دا سیمې د کامرود وې او د دغو سیمو رای (پاچا) (طبقات اکبرې د کامرود د پاچا نوم (بتمکدې) لیکلی دې طبقات اکبرې ۲٤ مخ د کامرود د سیمې به دا د اوسني نیپال سیمې وې چې د تبت او شرقي هند تر منځ دې) چې د محمد بختیار نوم اوریدلی ؤ او د ده له شجاعت او فتوحاتو څخه خبر وه او د ده له دغه عزم څخه خبر شو، نو یې محمد بختیار ته استازی راواستاوه او دا ډول پیغام یې ورته راواستاوه:
دا عزم چې تا کړی دی او غواړې چې د تبت مملکت فتح کړې، دا کار ستا په موجوده عسکرو سرته نه رسیږي، ځکه هغه ځای زیاتي جنګې کلا ګانې او ګڼ فوځونه لري.
ښه داده، چې اوس بیرته وګرزې او پوره قوه برابره کړې په آینده کال کې به زه هم خپلې لښکرې تیارې کړم او ستا له لښکرو سره به یو ځای شم، او په دغه ډول سره به هغه وطنونه په لاس راولو، خو محمد بختیار د کامرود، د رای پیغام ونه مانه، د تبت خوا ته پسې روان شو (طبقات ناصر ۵۰۲ مخ تاریخ فرشته دوهم ټوک ۲۹٤ مخ طبقات اکبرې ۲٤ مخ)

منهاج سراج جوزجاني لیکې

په (٦٤١) هجرې کال زه بنګال ته ولاړم، په لکهنوتې کې د محمد بختیار خلجي د همرکاب (مقبل معتمد الدوله) ځای ته ورغلم. یوه شپه د هغه کره میلمه شوم. نوموړې مقبل داسې نقل راته وکړ:
محمد بختیار غازې چې د دغه لوی سیند څخه تیر شو زه ورسره وم، پنځلس ورځې مو د جګو جګو غرونو په منځ کې مزلونه وکړه، په لوړو او ژورو به خاتو لویدو و شپاړسمه ورځ یوې هوارې سیمې ته ورسیدو او دا مځکه خورا ودانه او معموره وه، ښه آباده کلي او کلاګانې یې لرلې، لومړی چې یوې کلا ته ورسیدو، په هغه ځای کې زموږ او د هغه ځای د خلکو تر منځ جګړه ونښته او د هغې کلا او خوا وشا خلک په ډیره چټکۍ سره مقابلې او جګ ته را ورسیدل نو جنګ شروع شو، له ګهیځ څخه تر ماز دیګره پورې جګړه جاري وه. او زموږ له لښکرو څخه ډیر نفر مړه او ټپیان شول او نور ډیر ستومانه او ستړي شول. د هغه ځای خلک ټول ښه جګړن او توریالي وو او د جنګ د پاره یې خورا ښې وسلې درلودلې.
چې شپه شوه، زموږ لښکرې خپلو ځایو ته راغلې. او کوم اشخاص چې زموږ لاس ته بندیان راغلي وو، محمد بختیار خپل حضور ته وروغوښتل پوښتنې یې ورڅخه وکړې هغو کسانو داسې بیان وکړ:
(له دې ځای څخه پنځه فرسنګه لیرې زموږ ښار دې چې هغه ته (کرمپتن) وایي او په دغه ښار کې هر وخت پنځوس زره جګړن موجود دي او په دغه مملکت کې په زرهاوو، بلکه په لکونو جګړماران او توریالي اوسیږي، کوم وخت چې ستاسې لښکرې دلته را ورسیدې په فریاد او په ډیره چټکۍ هغه ښار ته

سرې ولاړ چې هغوي خبر کړي او ګهيځ به هغوي سپاره دلته ځانونه راورسوي).

محمد بختيار چې د دغه ځای د خلکو او له جګړه وليده او نوره پو ښتنه يې وکړه او په ړومبۍ ورځ د ده له لښکرو څخه ډير نفر شهيدان او زخميان شول او نور عساکر هم ډير ستړي او خسته شوي وو.

نو يې له خپلو افسرانو سره مشوره وکړه او داسې پرېکړه يې وکړه: (موږ بايد اوس بيرته وګرزو او هلته پوره او مکمله او له هره حيثه کافي قوه برابره کړو بيا نو دې هيواد ته راشو).

نو محمد بختيار بيرته راکوچ شو. له تبت څخه د کامرود تر هيواد پورې پنځه ديرش غاشي (کوتلونه) او ډيرې ژورې او درې وې، په ليار او دغو لوړو ژورو کې چې زموږ لښکرې راتللې د دغو ټولو ليارو وابنه، بروږ او نور شيان چې زموږ او زموږ د حيواناتو د پاره په کار يدل، ټول تلف او سوځول شوي وو، او د دغو ليارو او درو او سيدونکي هم ټول ليږديدلي او له ليارې څخه وتلي وو.

او په دغو پنځلسو ورځو کې د اسونو او غاترو د پاره يو من خوراکه پيدا نه شوه او د خپل خوراک د پاره به مو اسونه حلال ول خوړل به مو، چې څو په زيات مشقت او کامرود د سيمې ته راورسيدو او هغه پول ته راغلو).

ناوړه پيښه

په دې وخت کې چې هغه لوی سيند ته راورسيدو، د هغه پول دوې موری نړولې شوې او خرابې شوې وې او هغه دوه نفره افسران چې د هغه پول د ساتنې د پاره محمد بختيار پرې ايښې وو، پخپل منځ کې سره وران او خپه شوي وو، پول يې پرې ايښی ؤ دوی تللي وو.

(او د خورا لويې ګناه او ستر خيانت مرتکب شوي وو) دا دوه نفره افسران او عسکران چې تللې دي د هغه ځای (کامرود) خلک راغلي دي دا پول يې خراب او نړولی دی.

محمد بختيار چې دغه ځای ته راغی ګوري چې پول خراب شوی دی او کومه بيړی او نه او بو څخه د پوريوتلو وسيله هم نشته، نو هک پک پاته شو.

محمد بختيار وويل: يو ځای به ميشت شو او د کومې کښتۍ او يا جالې تدبير به وکړو. په دغه حد کې نژدې يو معبد ؤ. چې يو ه لويه کلا يې لرله، د محمد بختيار لښکرې دغې کلا ته ورغلې په هغې کلا ننوتلې. په دې وخت کې د کامرود، رای خبر شوی دی چې د اسلام لښکرې ډيرې عاجزه او استومانه او زيله شوې دي، نو يې د هغه ځای ټولو بت پرستانو ته امر کړی دی چې د اسلام لښکرې عاجزې شوې دي ورشئ مقابله او مقاتله ورسره وکړئ.

نو د هغه ځای خلک ډله ډله راتلل په دغه معبد باندې راوګرزيدل او دا کلا يې محاصره کړه.

خو د محمد بختيار لښکرې په يوه وار راووتل سخته حمله يې پر هغو باندې وکړه، د کفارو محاصره يې ماته کړه او ټول هغه ځايه بيرته راووتل، د سيند غاړې ته راغلل د سيند پر غاړه يې واړول. دلته له اوبو څخه د پوريوتلو د وسائلو په پلټنه کې وو، چې ناڅاپه يو عسکر پر آس سپور شو، په اوبو کې يې آس کډ کړ او د غيشي داړناو په اندازه د سيند منځ ته ورسيد.

يوه پلا په لښکرو کې ناري شوې چې اوبه لږې دي آس نه ډوبوي. نو ټول عساکر پر اسانو سپاره شول اسان يې په سيند کې ګډ کړل. په دې حال کې د کامرود کافران د سيند غاړې ته راغلل د اوبو غاړه يې ونيوله.

زموږ عساکر چې د اوبو منځ ته ورسيدل دالته ګوړباهې (غرقاب) ؤ، ټول ډوب او غرق شول.

پخپله محمد بختيار او نور لږ نفر په ډير زحمت ووتل نور ټول هلاک او د هغه سيند شومه شول. محمد بختيار له خپلو پاته ملګرو سره د (ديو کوټ) ښار ته راغی په دغه ځای کې له زيات غم او خپګان څخه سخت مريض شو.

او په دغه ځای کې چې د نورو مسلمانانو کورونه وو، او د هغو عساکرو چې په دغه ليار کې تلف شوي وو، ښځې او اولادونه دلته وو، محمد بختيار ته به يې ښيرا او ښکنځلې کولې او د هغو د ښيراوو، او ښکنځلو له امله محمد بختيار د باندې نشو راوتلای د ننه به په بستر کې پروت ؤ. په دغو وختونو کې په محمد بختيار مکرر ويل:

(لکه چې سلطان غازي معز الدین محمد سام (شهاب الدین غوري) ته کومه پیښه او مصیبت رسیدلی دی، چې زما بخت وګرزید).

په طبقات اکبري کې لیکلي دي:
چې رښتیا هم په همدغه مهال سلطان معز الدین غازي په شهادت رسیدلی ؤ او محمد بختیار پسې ناجوړه او په بستر کې ولوید او وفات شو. (طبقات ناصري د کابل چاپ ٤-٥-٥-٥٠٦ مخونه)

تاریخ فرشته لیکي:
محمد بختیار خلجي چې وفات شو د ده جنازه یې له دیو کوټ څخه بهار ته نقل کړه او هلته یې مزار جوړ شو. (تاریخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۵ مخ)

ټول مورخین وايي چې محمد بختیار له څو محدودو نفرو سره د (بتکمندی) له سیند څخه نجات وموند، نو یو کوټ ته ولاړ، هلته له زیات غم او غصې څخه مریض شو.

او نوموړي به ویل: (لکه چې سلطان غازي معز الدین ته کومه پیښه رسیدلې ده چې زما طالع وګرزیدې).

او معز الدین غازي رښتیا هم په دغو ورځو کې شهید شوی ؤ (٦٠٢ هـ) او محمد بختیار هم په دغو ورځو کې د هغې مریضې په اثر په بستر کې وفات شو (٦٠٢)(طبقات اکبري ٢٤ مخ) که څه هم د سلطان شهاب الدین غازي پیاوړی او نامتو سپه سالار محمد بختیار په وروستیو وختونو کې ناکام او نیمه خوا شو، خو د نوموړي نورې کارنامې د مسلمانانو د پاره خورا لوړ افتخار ګڼل کیږي او د پښتنو په تاریخ کې یو غوره او د ویاړنې وړ باب دی!

د محمد بختیار ځینې خواص:
وايي: د محمد بختیار خلجي لاسونه ډیر اوږده وو، چې خپل لاسونه به یې کښته وغزول له ځنګنو څخه به یې کښته

## ثلوریزه

سیف مومند

هر یو باب مې
د ننګونو عبارت دی
لر مې ولوله د ستر
افغان تاریخ یم

هیڅ غاصب تر ستوني نه
یمه تېر کړی
سیف مومنده له زقومو نه
هم تریخ یم

تیریدل. نو موړی ډیر سخي او جواد سړی ؤ او هم د فوق العاده شجاعت او دلاورۍ خاوند او ډیر توریالی ؤ.

ویل کیږي، چې نوموړي به له بندیانو سره په زړه پوري چلند کول، شخصي دښمنان او د خپل حکومت باغیان به یې اکثر معاف کول، له جنګ څخه پرته د بندیانو په قتل کې به یې ډیر احتیاط کول، له خپل رعیت سره یې خورا زیاته مینه وه. تل به یې د هغوی د هوساینې فکر کول، نو ځکه یې د خلکو په زړونو کې ځای موندلی وو. محمد بختیار په دغو وختو کې خپله نیک خوی او حسن اعتقاد ټولو خلکو ته ښکاره کړل.(طبقات ناصري د هند چاپ ١٤٦ مخ تاریخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۳ مخ)

تاریخ فرشته لیکي:
محمد بختیار خلجي لومړی اسلامې پادشاه ؤ. چې په ختیځ هندوستان کې یې اسلامې شعائر جاري او نافذ کړل. (تاریخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۲ مخ)

# دآريانا فاتح

## قاري سعيد- په کابل کې دسي آی اي په مرکز دبريد په مناسبت

اسمايي تا خو ليدم
څنګه په هسکه غاړه
په موسکو سترګو په متينو
ګامو
او په قوي اراده
دتور صليب په مورچل وختمه
د اريانا په ميلمه پال
غولي مې
دنابللي اشغالګر وېره شړی
لمبه کړه
دا درانه افغان سنګين غولی
دسپکووركو اشغالګرو طبيله
خو نه ده
دلته چې څوک هم دي راغلي
داشغال په موخه
يا لته بند ترې نه مری پرېږ
کړي
يا په ميوند ترې بيرغونه
پاتې
يا د سپين غر وريو باښو
ترينه بوټی خوړلي
يا له خيبر يا له کوړک يې
سرلاټی خوړلي
دا د باعزمه با ايمانه
افغانيت ټاټوبی
څه د (ډوبينز ) رحم ته
پاته ميراثه خو نه ده
دکيوناري دمکناټن دهيلو دا
هديره
څه د CIA د يابوګانو طبيله
خو نه ده
داد اسيا په زړه کې شين ،
دا غرونه غرونه هيواد
څه داطلس بې نام نښانه
جزيره خو نه ده . . .
. . . . . . . . . . . . .
. . .
اسمايي تا خو ليدم
چې دايمان دلوړتابه بيرغ
مې
څنګه په نره ، په مړانه ،
په قوي اراده
داريانا په زړګي ورپاوو
څوک دي چې زما توغ ته په
ټيټه ګوري
ښايي لا زه يې پيژندلی نه
يم
دوی چې له مرګه څومره کرکه
لري
موږ په همدومره مينه ځغلو

# ګلځونه

## دزغم پيمانې

فدامحمد ''محسني''

ګورئ په هنر باندي خپل وار اخلي
خلک دلرګي نه داسي کار اخلي

تاسي د تاريخ فلسفه وګورئ
زوی چي کله لوی شي،نوم د پلار اخلي

دوی،د دوی راتګ ته ښه راغلی وايه
اوس به جنازه دهغه يار اخلي

زموږ چي پيمانې دزغم راډکې شي
صورت مو داسي اور، لکه چنار اخلي

څرک دډيره وخته وې ناهيلی شوې
وار د محسني دی،دا دی وار اخلي

## مجاهد وشمشير

حبيب الله يوسفزی

مجاهد وشمشير دوتا يار ديرينه اند
دران کوه و صحرا با سينه ايی پرکينه اند
نه مذموم باشد اين سينه های پر کينه
چو" شدت" و" غلظت" در قرآن ديده اند
پر از غيظ و خشم است هر ديده غازی
غم و سوز امت را چو هرجاشنيده اند
به دستان گرفتندشمشير های مسلول
نگردد کند سيفی که ايام فتح ديده اند
برو مرد غازی زنامت دشمن در فرياد
مبارک آن غباری را که پاهايت چيده اند
صد شب بيداربه ذکر و ناله تا اسحار
نيرزدآن دم غازی که دشمن راکوبيده اند

# غزل

سید احسان الله الهام

چا دظلم مخه ونیوه غازیان شول
چا ظالم ته مخه ورکړه غلامان شول
چاسرتیټ کړ حقیقي غني بادارته
چا شیطان ته سجدې وکړې بې ایمان شول
چا دسر په سودا خپل کړل ایمانونه
چا سودا کړل ایمانونه اربکیان شول
چا هسک سر یو وړ ترداره قرباني شو
څوک دکفرترجمان څوک جاسوسان شول
څوک ناحقه په ځواني کي وژل کیږي
څوک وړوکي په ځانګو کي شهیدان شول
چا په کلي چاپه ښارکي دین پلورلی
څوک په غروکي دین ساتي قهرمانان شول
څوک خوشحال دي یرغلګرته میلمه وایي
چا تباه کړل کمپائنونه فدایان شول
همیشه اوري رحمت په هغه قوم
چي طالب یا مجاهد یا مولویان شول
بیا نوبیل یې له ظالم څخه الهامه!
که په مرګ دي غم ځپلي مظلومان شول

## خړې پړې جزیرې

(عرفان الله عرفانی)

په وطن مو سیلۍ ګرزی شنې درې دي خړې پړې
دخزان ظالم دلاسه جزیرې دي خړې پړې
دعشق ګل بدرنګه ښکاري دښکلاکاروان ترې تللی
چې جانان مسافر شوی بس کوڅې دي خړې پړې
اوس دمینې مجلس نشته دغمونو سلسلې دي
چې یارانو کډې وکړې نن حجرې دي خړې پړې
ترینه پاتې شوه نیمګړی کتابونه لویه خدایه
طالبان دمینې لاړل مدرسې دي خړې پړې
دځوانانو جنازې دي دسروو ینو فوارې دي
شهیدان پکې ویده دی هدیرې دي خړې پړې
دلمړ وړانګې نه ښکاریږي توری وریځې راخوری دي
شین آسمان په ګردو پټ دی کنارې دی خړې پړې
څه دغم په نیلي سپور یم د بلتون په دښتو سریم
په ګریوان می ترمی اوښکې میلمنې دی خړې پړې
عرفانی نه غزل پاتې حیران ناست ده لاس ترزنې
دقلم څوکه یې ماته کتابچې دی خړې پړې

## ته دمنلو نه یې

مشفق حریتمل

هسې لګیا یې چې ولس ته مې
فایده کړې ده
تافایده ونکړه تالویه خساره
کړې ده

ته یې له خدایه یاغي تا بل
ته ځولی نیولې
تا خدای ته شا کړه اوبنده ته
دې سجده کړې ده

دلته دبل دفکر خلکو همیش سر
خوړلی
په غلامانو مونږ دسم مرګ
فیصله کړی ده

ددربار شیخه ته محکوم یې
دمنلو نه یې
تا ته لا چا دفتواګانو
اجازه کړې ده

څوک چې زما دمفکورې او
اسلامیت خلاف دي
هغوی ته خامخا خبره ما ترخه
کړې ده

که زړه یې چوي خدای دې همدغه
شیبه وچاودوي
کړې به واورې چې خبره چا کړه
کړې ده

نن مې کینه درسره نوره هم
څه زیاته شوله
نن مازیګر مې بیا دګران ورور
جنازه کړی ده

شهیده زار دې شم خفه نشې ګټم
به دې زه
ماستا په لاره د درتللو اراده
کړې ده

شعر ته مې مه وایه شعار دا
مې دي درد دوطن
ما همیشه دشعر په مټ مبارزه
ک

# پوځي ګوزارا او دیپلوماتیکه

خبیراحمدم

دافغانستان اسلامي امارت که په پوځي ډګرکې دمقتدررب جل جلاله په نصرت اودملت په مرسته امریکا اوناټوزنګون کیش اوراپریستله اوخبره له افغانستان څخه دیرغلګروقواووتیښتې اوپښوسپکولوتربریده ورسیده ، په سیاسي ډګرکې هم لله الحمددااسلامي امارت تحرک اومقام دپام وړاووړخ تربلې دحلول اوسرعت په چل کې ده

که یواځې دتیرې یوې اونۍ پوځي پیښو اوجهادي ګوزارونه وګورود احقیقت په ګوته کوي چې د اسلامي امارت پوځي اوجهادي تکتیکونه اوکارنده ګوزارونه هغه هم داشغالګرواوګوډاګیانوپه حساسوځایونوڅومره هیبتناکه اودښمن لړزونکي دي

په هلمندولایت دلسګونوګرجستانیوپوځیانومرګ ژوبله ، دکابل په بین المللي هوایي ډګربریالی اودښمن ځپونکی بریداوددې ترڅنګ دکابل رژیم دمفسدواوداړماروقضاتوهدف ګرځول اودپکتیکاولایت دخیرکوټ په ولسوالی کې داردودیوه متعهدسرتیري له لوري دګڼوامریکایي فوځیانوژنه هغه مهمې پیښې وي چې له شک پرته یې نړیوال اوداخلي غلیمان سخت وټکول اوداحقیقت ورته یوځل بیاروښانه شو چې ددوی د هرډول امنیتي تدابیرو اوپوځي لاپوشاپوباوجودڅنګه داسلام اوهیواداتلوسپاهیانووکولای شول چې ټول شیطاني اودجالي حصارونه مات اوځان خپل هدف اوپلان شوي نقطې ته ورسوي .

مونږ [...] باورلروچې دکابل رژیم دامنیتي کړیواوقواووله هرډول تجهیز اوچمتوالي سره سره چې داسلامي امارت اتلان په دې توانیږي د رژیم اودهغودباداړانو حساسواومهمو مراکزوته ځان ورسوي اودڅوساعتونولپاره درژیم اوبهرنیانوټول جنګي ماشین مصروف اوهک پک وګرځوي فکرکووچې دادلوی اوتوانالله جل جلاله له ښکاره نصرت اودخالدبن ولیدسرشارې توري له برکت ماسیوابل هیڅ عامل اوقوت ترشاشتون نلري . همدغه اثرووچې دګرجستان هیوادپه هلمندولایت کې څوپوځي اډې خالي کړي اوعسکریې دنوموي ولایت په یوې اډې کې سره راټول شوي ، ددغه هیواددفاع وزیراندیښنه څرګنده کړي چې کیدای شي دنوروبریدونوهدف هم وګرځي .

داسلامي امارت دپورته پوځي بریاووترڅنګ یولړ سیاسي پرمختیاوي هم دهیرولو ندي ، له هغه ورسته چې اسلامي امارت دنیک نیتی

مات اورسوادښمن که څه هم دخپلې تبلیغاتي نغارې په وسیله زیاروویست چې دګوزارونوترشادکوم ګاونډي هیوادلاس دخیل وشمیري ، خودلمرتلویزون په یوه تاوده بحث اوګردي میزکې رابلل شووسیاسي کارپوهانو په صراحت په دغوپیښوکې دکوم هیوادلاس لرل ردکړل اووي ویل چې امنیتي چاروکې ددې پرځای چې ګاونډیان ملوث کړي په ښکاره دې اعتراف وکړي چې دوی دطالبانوپه وړاندې کمزوري اوعاجزدي ، دکارپوهانوپه خبره دایولوی امتیازدی چې دهرې پیښې شاته یې رژیم دګاونډیانولاس دخیل بولي اوپه لوی لاس هغوی ته غرورورکوي ..

اودسیا سي تفاهم دغزو لو په هیله دترکیی هیوادځوتنه هغه نیول شوي اتباع چې تیره میاشت دلوګرولایت ازرې ولسوالی کې د چورلکې په شمول دیوشمیرهیوادونونیږدې یودرځن اتباع نیول شوي ووازاداوتر کي لوري ته وسپارل ، وړمه ورځ ددغواسیرانوله جملې څخه دقرغزستان هیوادیوتن وګړی هم دښه نیت په موخه خوشي اوقرغزي لوری ته وسپارل شو.

دکتونکوپه انداسلامي امارت له لوري دترکیي اوقرغزي اتباعوپه مسالمت امیزډول خوشي کول اوهغوی ته سپارل جوتوي چې په سیاسي اودیپلوماتیک میدان کې هم اسلامي امارت اوس دیوه مطرح اوځواکمن جهت په توګه تبارزکړی اوپه دې وسیله هڅه کوي چې دسیمې اوګاونډله هیوادونوسره اړیکي قايمي اودتفاهم لارپرانیزي ، چې له شک پرته اسلامي امارت لپاره دایوه مهمه لاسته راوړنه اودامریکااوکابل رژیم لپاره په پوځي اوسیاسي دواړو میدانونوکې ځرګندګوزاراوبرالا شکست بلل کیدای شي .

## داسلامي امارت دمالي چارو کميسيون

# له مشر سره ځانګړې مرکه

په افغانستان کې دغربي کفري يرغل په وړاندې روان جهاد که له يوې خوا دبشري ځواک دبوختيا او تلفاتو له اړخه يوه ستره جګړه ده له بله اړخه له اقتصادي نظره هم دا جګړه دنړۍ دسترو او کم ساريو جګړو له کتهګورۍ څخه شميرل کيږي.

په افغانستان دامريکا په مشرۍ لويديځوالو داسې مهال يرغل وکړ، چې غربي ښکيلاکګر هيوادونه دهرکله په پرتله داقتصادي عروج په اوج کې وو، په تيره امريکا چې دبل کلنټن په دوره کې يې اقتصاد بې سابقې وده کړې وه ، او جارج ډبليو بوش په همدې اقتصادي ځواک مغرور شو او په اسلامي نړۍ يې بريد پيل کړ.

معلومه خبره دچې دداسې جنګ په مقابل کې چې بې سارې اقتصاد يې ترشا ولاړ وي، مقاومت هم خورا ډير مصارف او مالي قرباني غواړي، دافغانستان اسلامي امارت دالله تعالى په مرسته او کومک په تيرويوولسو کلونو کې دنړۍ دخورا سترو اقتصادي زبرځواکونو په مقابل کې په جهاد بوخت دی ، په دې لاره کې که له يوې خوا اسلامي امت بې ساري ځاني قرباني ورکړې دي ، له بلې خوا يې مالي قرباني او جهاد هم خورا تاريخي او کارنامه سازبلل کيدای شي، دادافغان مسلمان ولس او

کارنامه ساز بلل کيدای شي ، د دافغان مسلمان اولس او درست اسلامي امت بې ساري مالي قرباني وې ، چې دنړۍ دلويو کفري اقتصادونو په مقابل کې پيل شوی جهاد يې دبريا تر منزله ورساوو.

ددې لپاره چې داسلامي امارت په مالي سيستم او اقتصادي برنامو او ضرورتونو ښه علم ولرو ، په دې ګڼه کې مو داسلامي امارت داقتصادي چارو دکميسيون له رئيس ښاغلي ملا ابواحمد سره مرکه کړې چې ستاسو پام ورته غواړو.

---

**پوښتنه :**

محترمه له هرڅه وړاندې درته ښه راغلاست وايو ، که لومړۍ داسلامي امارت داقتصادي چارو دکميسيون په اړه معلومات راکړئ ، او په تشکيلاتو يې رڼا واچوئ ؟

**ځواب :**

الحمد لله رب العلمين ، والصلوة والسلام على سيدالمرسلين محمد وعلى آله واصحابه اجمعين وبعد :

له هرڅه وړاندې له تاسو هم مننه کوم ، ستاسو دپوښتنې په ځواب کې باید ووایم چې داقتصادي چارو کمیسیون داسلامي امارت په رسمي تشکیلاتو کې دمالي او اقتصادي امورو په برخه کې مسؤل او وظیفه دار کمیسیون دی ، چې دامارت اړوند دټولو مالي چارو نظم او اداره یې په غاړه ده.

دا کمیسیون په مرکزي اداره سربیره دافغانستان په ټولو ولایاتو کې خپل نمایندګان او تشکیلات لري ، دغه راز دمرستو دجلبولو لپاره دافغانستان په ټولو ولایاتو ، په ګاونډیو هیوادونو ، عربي نړۍ او داسلامي نړۍ په ډیری هیوادونو کې نمایندګان او تشکیلات لري ، چې دهمدې نمایندګانو له لارې دعام مسلمان امت هغه مرستې چې له مجاهدینو سره یې کوي او په مالي جهاد کې برخه اخلي ، داسلامي امارت تراقتصادي کمیسیون پورې رسیږي ، چې اقتصادي کمیسیون بیا دیوه شفاف او منظم پروګرام له مخې دغه مرستې په ټولو جهادي ضرورتونو باندې مصرفوي.

## پوښتنه :

دمرستو دراټولولو په اړه که معلومات راکړئ ، مطلب دا چې عام خلک په هیواد یا دنړۍ په بله برخه کې څرنګه کولای شي له اسلامي امارت سره مرسته وکړي ؟

## ځواب :

لکه وړاندې مې چې وویل چې موږ په افغانستان ، ګاونډیو هیوادونو ، دخلیج هیوادونو او دنړۍ په نورو یو شمیر هیوادونو کې خپل نمایندګان لرو ، که هرڅوک هرځای وغواړي ، کولای شي له اسلامي امارت سره مرسته وکړي په دې برخه کې د اعتماد لپاره دوی کولای شي زموږ په مرکزي ایمیل ادرس ( Financecm.iea@gmail.com ) باندې رابطه وکړی ، خپل اعتماد حاصل کړي ، او خپل مرسته زموږ نمایندګانو ته وسپاري ، دغه راز دافغانستان دننه زموږ دوه تیلفون شمیرې ۰۰۹۳۷۷۲۷۸۴۳۷۲----- ۰۰۹۳۷۹۸۰۹۸۸۱۳ هم فعالې دي چې کولای شي له دې لارې هم رابطه وکړي او مرسته وکړي.

یوه خبره باید واضحه کړم ، هغه دا چې ددښمن لخوا په لوړه سطحه کله داسې تبلیغات کیږي ، چې دمجاهدینو دپیسو په لیږد رالیږد یې مراقبت سخت کړی دی ، او اوس مجاهدین نه شي کولای دنړۍ له مختلفو سیمو نه مرستې راټولې کړي یا پیسې انتقال کړي ، باید ووایم چې دا خبرې یوازې تبلیغات دي ، مجاهدینو دمرستو راجلبولو او دپیسو او دانتقال لپاره خورا محفوظې لارې کاروي ، چې له هغه لارې نه مرسته کوونکو ته خطر متوجه وي او نه هم هغه چاته چې مرسته کوي ، نو باید په زغرده ووایم ددښمن مراقبت زموږ په فعالیت هیڅ اغیز نه دی کړی او که دنړۍ په هره برخه کې څوک وغواړي ، خپلې مرستې اسلامي امارت ترمجاهدینو ورسوي له موږ سره درابطې په صورت کې یې په ډیره محفوظه توګه رسولی شي.

## پوښتنه :

تاسو داقتصادي کمیسیون د تشکیلاتو او دمرستو دجلبولو خبره وکړه ، که داقتصادي کمیسیون په مصرفي امورو او مراجعو هم رڼا واچوئ ، چې اقتصادي کمیسیون خپلې پانګې په کومو برخو کې څرنګه مصرفوي ؟

## ځواب :

اقتصادي کمیسیون چې داسلامي امارت دټولو مالي چارو مسؤله اداره ده ، دکار او دپیسو دمصرف ساحه یې خورا پراخه ده ، دبیلګې په توګه زموږ د کار عمده برخې دادي:

داسلامي امارت نظامي کمیسیون چې له دې لارې دافغانستان په لراوبر کې دجهاد په ټولو ضروریاتو باندې مالي مصارف کیږي.

داسلامي امارت ملکي کمیسیونونه - چې په دې کې فرهنګي کمیسیون ، معارف ، دعوت وارشاد اونورې

مختلفې اداري راځي ، چې دا ټولې برخې درانه مصارف لري.

دصحت کميسيون ، چې په دې برخه کې دروان جهاد په زخميانو باندې علاج کيږي ،او دپام وړ برخه پيسې وربانديې مصرف کيږي.

دغه راز د يتيمانو کفالت ، دجهاد دزخميانو تداوي ، دبنديانو سره مرسته او معالجه ، دمعيوبينو سره مرسته او کفالت او نورې هغه عمدي برخې دي چې دااقتصادي کميسيون لخوا يې مالي اکمال کيږي.

**پوښتنه :**

که داسلامي امارت دااقتصادي مسؤل په حيث دا راته ووايا ست چې داسلامي امارت اقتصاد په څه شي ولاړ دی ، يعني همدا اوس ستاسو مالي اکمال له کوم مدرک څخه کيږي ؟

**ځواب :**

داسلامي امارت اقتصاد دافغان مسلمان اولس او په عموم کې دنړيوال اسلامي امت په مخلصانه مالي ملاتړ باندې ولاړ دی ، لله الحمد اسلامي امارت دخپلې اوږدې ، شفافې او ثابت قدمه مبارزې په برکت په درسته اسلامي نړۍ کې دعامو مؤمنو پرګنو په زړه کې ځانګړی ځای موندلی ، نه يوازې افغانستان او ګاونډي هيوادونه ، بلکې دعربي هيوادونو په شمول دزياترو اسلامي هيوادونو عام مسلمان وګړي ، چې له کلونو راهيسې دسوچه اسلامي واکمنۍ تږي دي ، داسلامي شريعت نفاذ ، د طاغوت په وړاندې برحق جهاد او اسلامي نظام يې يو ارمان دی ، له اسلامي امارت سره داسلامي عقيدت په بنسټ ځانګړې علاقه لري.

ددې لپاره چې دامسئله ښه واضحه شي غواړم يوڅه نور هم په دې موضوع خبره وکړم.

تاسو به اوريدلي وي چې دښمن تبليغات کوي ، چې له اسلامي امارت سره ځانګړي حکومتونه او شبکې مالي کومک کوي ، او په همدې مالي کومک باندې مجاهدينو جهاد جاري ساتلی ، مګر که موږ وګورو دافغانستان روا ن جهاد دمالي مصرف له درکه بيساری درونډ مصرف لرونکی او اوږد جنګ دی ، تردې چې امريکايي اقتصاد يې له پاللو عاجز شو ، او دنړۍ نور له اقتصادي اړخه قوي حکومتونه يې کمزوري او مفلس کړل ، مګر لله الحمد دمجاهدينو په خوا کې دهيڅ افلاس او مالي کمزورۍ اثار نه ترسترګو کيږي ،ددې بنيادي وجه داده چې داسلامي امارت اقتصاد د کوم معلوم هيواد يا سيستم په مرستو ولاړ اقتصاد نه دی ، او نه دسيمې وروسته پاتې هيوادونو دومره مالي امکانات لري چې دومره لوی جنګ له اقتصادي اړخه وپالي ، بلکې داسلامي امارت اقتصاد ديونيم مليارد اسلامي امت دمخلصو مسلمانانو په هغو مرستو او اعانو ولاړ دی ، چې په ډير اخلاص متعهد مسلمانان ورونه خپله دخولې ډوډۍ نيموي ، او نيمه برخه يې له مجاهدينو سره شريکوي.

په افغانستان سربيره دنړۍ په مختلفو اسلامي هيوادونو کې موږ دمالي جهاد او قربانۍ داسې مثالونه لرو چې سړي ته دصدراسلام وقايع وريادوي ، همدا اوس په مختلفو اسلامي کې ګڼ شمير مسلمانان دخپلې سرمايې يوه برخه جهاد ته وقف کوي ، په ځانګړي توګه داسلامي امت ښځې په جهاد بالمال کې خورا مخکښ رول لري ، دلته به درته يودوه مثالونه ذکرکړم ترڅو تاسو وفهموئ چې مسلمانان په څومره اخلاص په جهاد بالمال کې برخه اخلي.

يو مسلمان ورور چې نه غواړم نوم يې واخلم ، له مجاهدينو سره ناڅاپه د ډيرو پيسو مرسته وکړه ، کله چې ملګرو تردې ددومره پيسو دمرستې پوښتنه وکړه ، ده وويل چې دمجاهدينو دمالي ضرورتونو او احتياجاتو په اړه چاراته بيان وکړ ، خو له ماسره دومره پيسې نه وې چې

مرسته مې ورسره کړې وای ، نو دمجاهدینو ضرورت او زما بې وسي سخت اغیز راباندې وکړ ، په همدې حالت کې کور ته لاړم کله مې چې میرمنې ولیدلم ، چې ولې مې طبیعت خراب دی ، نو ما ورته وویل چې مجاهدین داسې په سختو حالاتو کې او مالي تنګسیا کې دي ، چې زما فکر یې ډیر خراب کړ ، په دې وخت کې مې ښځه چې کله دمجاهدینو له دې حالت نه خبره شوه ، نو لاړه خپل دغاړې امیل چې له زرو جوړ شوی وو او له ډیره وخت یې په ډیر احترام ساتلی وو ، راوایې خیست ماته یې راکړ ، چې دغه امیل مې دالله تعالی په لاره کې ښنلی دی ، ورشه خرڅ یې کړه او پیسې یې مجاهدینو ته ورسوه ترڅو یې په خپلو ضروریاتو ولګوي .

دغه راز یوه بله پیښه زما دخپلو سترګو مشاهده ده ، په یوه لرې پرته سیمه کې موږ له څو تنو سرمایه دارو خلکو سره ناست وو ، او ددوی مرستې مو تسلیمولې ، په کوم ځای کې چې موږ ناست یو ، همدلته ددې ځای څښتن یوه څاه وباسي او مزدوران یې په کار اچولي دي ، په دوی کې یو سپین ږیری کارګر چې په ۲۰۰۰ روپۍ مزدور دی ، سترې ستومانه له څاه څخه راوخوت ، په داسې حال کې چې سخت ستومانه وو او خولې ورباندې راماتې وې ، زموږ په خوا راغی ، کله چې پوه شو ، چې دغه خلک دمجاهدینو دمالي کمیسیون غړي دي ، او د جهاد لپاره مرسته ټولوي ، نوموړي سپین ږیري مزدورکار خپل دکار څښتن ته وویل چې زما ۲۰۰۰ حق الزحمه زه دالله تعالی په لاره کې ښنم ، نو دغه پیسې دوی ته ورکړه چې په في سبیل الله جهاد کې یې مصرف کړي.

دغه مرستې چې زموږ مسلمان ورونو او خویندې یې په ډیر اخلاص ، په پټه او یوازې دالله تعالی دکلمې داعلاء لپاره ترسره کوي ، ډیرې له برکته ډکې وې ، چې الله تعالی ورباندې داسلامي امارت جهادي کار جاري ساتلی دی ، او دادی چې په برکت یې دنړۍ ترټولو مغرور اقتصاد د زوال حد ته رسیدلی دی.

## پوښتنه :

ځیني خلک چې غواړي دالله تعالی په لاره کې مال صدقه کړي ، نو زیاتره وخت په دې کې متردد وي ، چې په کومه برخه کې مال صدقه کړي ، مثلا له فقیرانو سره مرسته وکړي ، له مدارسو او مساجدو سره مرسته وکړي ، یا په نورو برخو کې ، خو دوی چې بیا علماء کرامو ته رجوع کوي هغه ورته وایي چې په هره برخه کې ډیر ضرورت وي او ډیر خیر پرې مرتب وي ، په هغه برخه کې مال صدقه کړئ ، په دې اړه تاسو څه وایاست ؟

## ځواب :

رښتیا هم ، نن سبا مسلمانان له خورابد حالت سره مخامخ دي ، او په هره برخه کې دمالي صدقې ضرورت محسوس دی ، زما په نظر مهمه داده چې مالي صدقه پرځای ولګیږي ، او دمظلومو او مستضعفو مسلمانانو حوائج ورباندې رفع شي .

موږ چې په کومو برخو کې راټولې کړي پیسې مصرفوو ، نو هغه دحق دلارې هغه بې بضاعته او مخلص مجاهدین دي ، چې خپل ژوند یې دالله تعالی ددین لارې ته وقف کړی دی ، دنړۍ دخورا ظالم جابر او دجالي زبرځواک په خلاف جنګیږي ، په مقابل کې یې دباطلو قوتونو خورا ستر اقتصادي ځواکونه ولاړ دي ، خومجاهدینو په ډیر اخلاص دالله تعالی ددین په رسۍ پنجې ښخې کړې دي او مقابله ورسره کوي ، دوی له اقتصادي نګاه په سختو حالاتو کې دغه مبارزه په مخ وړي ، تاسو فکر وکړئ همدا اوس د PKA ماشیندار یوه مرمۍ به ۳۰ روپۍ ده ، د آرپي جي راکټ یوه مرمۍ په ۵۰۰۰ روپۍ ده ، یو ثقیل ماشیندار په پنځه لکه روپۍ دی ، نو له دې نه تاسو مصارفو ته سوچ وکړئ چې مجاهدین به په جګړه کې هره ورځ څومره مرمۍ مصرفوي او بیا به دا پیسې له کومه پوره کوي.

دغه راز موږ دجهاد دزرګونو شهيدانو په لسګونو زره يتيمان را پاته دي ، دااقتصادي کميسيون ملګري چې دهيواد له مختلفو ساحو ، کليو او بانډو څخه يې ديتيمانو لستونه راټول کړي دي ، ددې ټولو يتيمانو کفالت او مرسته دااسلامي امارت په غاړه ده ، دغه يتيمان چې پلارونه يې په کومه شخصي نزاع کې نه ، بلکې يوازې دااسلام په ننګ شهيدان شوي دي ، يتيمان او کونډې يې بل هيڅ مدرک نه لري ، له دې پرته چې اسلامي امارت ورسره مرسته وکړي ، په دې سربيره زموږ لسګونه زره مجاهدين ددشمن په زندانونو کې بنديان دي ، له دې بنديانو سره موږ دبند په موده کې هم مرسته کوو ، چې راخلاص شي د شوي مصرف يوه معلومه فيصدي ورکوو او علاج هم ورباندې کوو ، ځکه اکثره بنديان دزندان دبدو شرايطو له امله په مختلفو ناروغيو مبتلا وي ، دغه رنګه دجهاد دلارې زخميان او معيوبين چې موږ ورباندې معالجه کوو ، او کوم معيوبين چې په داسې ډول معيوب وي ، چې کار نه شي کولای هم موږ ورسره د امرار معاش لپاره مرسته کوو ، په دې سربيره له ډيرو هغو مهاجرو مجاهدينو سره چې کوم مدرک نلري موږ ورسره دامکاناتو په صورت کې فوق العاده مرسته کوو .

که تاسو فکر وکړئ ، دغه کسان چې موږ ورسره مرسته کوو ، هغه که مجاهدين دي يا زخميان ، بنديان ، مهاجرين ، معيوبين ، يتيمان او کونډې ټول زموږ دااسلامي ټولنې هغه محتاج ، مستضعف او مستحق قشر دی ، دوی يوازې داعلاء کلمة الله لپاره خپل هوسا ژوند قرباني کړی ، دسر ، مال ، اعضاء او قريبانو قربانۍ يې ورکړې دي ، نو زما په فکر دغه خلک په ټولو مسلمانانو حق لري چې بايد مرسته ورسره وکړي ، او که مسلمانان وروڼه له دوی سره مرسته وکړي الله تعالی به په جهاد کې دشرکت کامل کامل اجرونه ورکړي.

**پوښتنه :**

په پای کې که دااسلامي امارت دااقتصادي چارو دکميسيون دمشر په حيث مسلمانانو ته څه پيغام لرئ ، هيله کوو چې راسره شريک يې کړئ.

**ځواب :**

تاسو له ماغوښتنه وکړه چې مسلمانانو وروڼو ته خپل پيغام ورسوم ، بايد ووايم چې زه کوم شخصي پيغام دوی ته نه لرم ، زه غواړم د يوداسې ادارې دمشر په صفت چې دلسګونو زرو مجاهدينو ، معيوبينو ، زخميانو ، بنديانو ، مهاجرينو ، يتيمانو ، کونډو او محتاجو خلکو کفالت او مالي اکمال ورله غاړې دی ، غواړم خپل مسلمان امت ته يوازې دالله تعالی او دهغه رسول صلی الله عليه وسلم پيغام ورپه زړه کړم ، چې الله تعالی دانفاق في سبيل الله په باره کې څه وايي او مسلمانان په داسې حالاتو کې په څه مأموروي.

الله تعالی په قرانکريم په بيا بيا د جهاد بالمال ذکر کړی دی ، او مسلمانان يې په دې مأمور کړي دي ، چې د ځان غوندې په خپل مال سره هم جهاد وکړي ، او حتی په اکثرو مواردو کې يې جهاد بالمال له جهاد بالنفس نه مقدم ذکر کړی دی ، لکه الله تعالی فرمايي (انْفِرُوا خِفَافاً وَثِقَالاً وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ) (التوبة:۴۱ ) تاسو که سپک ياست يا درانه ياست دالله تعالی په لاره کې ووزئ او جهاد وکړئ په خپلو مالونو او ځانونو سره.

علماء کرام فرمايي چې دجهاد بالمال دتقديم وجه په جهاد بالنفس باندې داده ، چې يو خو مال په اکثرو خلکو ډير ګران وي ، نو ډير ګران شی صدقه کول لوی اجر لري ، او بله داچې اکثره وخت مجاهدين مالي امکاناتو ته ډير ضرورت لري او ډير محتاج وي ، دهمدې ډيراحتياج له امله الله تعالی خلک لومړی په جهاد بالمال مأمور کړي دي ، لکه وړاندې چې وويل شول نن سبا دااسلامي امارت مجاهدين له مالي اړخه له ډيرو مشکلاتو ، موانعو او فشارونو سره مخامخ دي ، له همدې امله جهاد بالمال ته

ډیر ضرورت شته ، او په هر وس لرونکي مسلمان دا لازمه ده چې يوه برخه مال داعلاء کلمة الله په لاره کې مصرف کړي.

د جهاد بالمال او انفاق في سبيل الله دفضائلو په برخه کې دومره زيات ايتونه او احاديث راغلي دي ، چې د ټولو ذکر شايد دلته ممکن نه وي ، الله تعالی فرمايي:

يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ *تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ. الصف -۱۰-۱۱ آیتونه

اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړئ آيا تاسو ته داسې تجارت درو ښيم چې تاسو له دردناک عذاب څخه خلاص کړي ، په الله تعالی او دهغه په رسول صلی الله عليه وسلم ايمان راوړئ او دالله تعالی په لاره کې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد وکړئ ، دا ستاسو لپاره خير دی که پوهيږئ !

دغه راز دانفاق في سبيل الله په باره کې الله تعالی فرمايي چې الله تعالی به د صدقه شوي مال په عوض صدقه کوونکي ته څو برابره اجر ورکړي الله تعالی فرمايي (مَثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِائَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (۲۶۱)﴾ )البقرة.( هغه څوک چې دالله تعالی په لاره کې مال مصرفوي مثال يې داسې دی لکه يوه دانه چې اوه وږي راشنه کړي ، او په هر وږي کې سل دانې وي ، دالله تعالی چې چاته خوښه شي اجر يې زياتوي ، الله تعالی پراخوونکی داجر او عليم دی.

دغه راز رسول الله صلی الله عليه وسلم مسلمانان دجهاد بالنفس او جهاد باللسان غوندې په جهاد بالمال هم مأمور کړي دي ، او په يوه حديث شريف کې فرمايي ، چا چې يو مجاهد مجهز کړ ، يعني دجهاد اسباب يې ورته تيار کړل ، په حقيقت کې ده په خپله غزا وکړه.

اگر بمنطق وتجربه مراجعت نمایم پس منظر این سر وصدا ها از تقسیم وتفصیل این دو گروه بخوبی واضح وآشکار میگردد تودۀ اول چونکه در مکتب غربی ها بدرس لا مذهبیت وسیکولر یستی پرورش یافته اند و تمام عیار در خدمت غربی ها قرار دارند ودین وایمان شانرا صرف در لبخند فر عونیان غربی فروخته اند اینها میخواهند ملت مظلوم وستمدیدۀ افغان را بشکل دیگری فریب داده در سیطرۀ آوباشان غربی تداوم بخشند خون هزارا ن افغان را فدای منافع شوم وپالیسی نا پاک امریکایی ها نمایند ومیخواهند سر وکله چندتن خود فروخته گانرابا پر داخت مشتی از پول جمع نموده وهمان جملاتیکه در سر میز های قصر سفید قرار دارد بآنها تلقین نمایند وآنها نیز در برابر دالرسر های خود را خم نموده جملات معلمین شان

رابا حرکت دادن کله هایشان تایید مینمایند این ابتکار شانرادر محضر عام اجماع ملی عنوان میکنند در حقیقت اجماع ملی نیست بلکه اجماع طراحان قصر سفید است که علیه ملت مسلمان افغان شکل گرفته است وبا این گونه اجماع های عوام فریبانه میخواهند مواد یکه در موافقت نامه ایکه از جانب بادران شان تهیه شده بامضاءرسانیده وبرایجاد پایگاه های نظامی شان حق مشروعیت بدهند وهم از این قسم دسیسه ها در امتداد قدرت نمایشی شان بیفزایند چونکه هستی وبقای خودرا در وجود ناپاک وپلید نیرو های غربی میدانند و اینها متیقن هستند که در صورت عدم وجود اشغالگران تاب وطاقت مقابله با فداییان ومجاهدین امارت اسلامی راندارند پاسپورت های خارجی تیار در جیب هایشان منتظر پرواز بسمت خانه های اصلی شان میباشند .

بیایید در پیرامون هرزه سرایی های گروپ دوم که در حالت اضطرار وسراسیمگی گاه بیگاه نشست ها نموده شورا ها را تشکیل مینمایند نسبت ها وفتوا هایکه دیروز در مقابل یکدیگر میدادند ظاهرا فراموش کرده وهزاران فرزند افغان را درراستایی آرزو وهوس های نا پاک وشخصیشان طعمه مرگ نمودند بانگ از تفاهم ملی و.......... میزنند در اصل کلمه ملی در مقامی استعمال میشود که که درآن خواسته های مشروع ملت جای داده شده وخدمت در برابرملت پالیسی آنرا تشکیل بدهد این هیکل های ملت خور در حالیکه بر عکس خواسته های ملت همیشه دست های شان بخون ملت آلوده میباشد بکدام جرأت وبکدام روی دأب از ملی وخواسته های ملت سخن میزنند ایا آنهانبودندکه دریک مشت افغانستان نظام ملک الطوایفی وپاتک سالاری را ایجاد نموده بودند وخاک یکپارچه افغان را بچند پارچه تقسیم نموده بودندوملتیکه همه افغان ومسلمان بودند اینها بودند که نظریه قومیت وعصبیت را دامن زدند وقار وحیثیت یکفرد مسلمان هیچ ارزشی نداشت ودیگر بسان گرگان درنده در جان ومال وناموس هر فرد افغان حمله ور میشدند وهیچ فرد از ملت مسلمان افغان از مظالم آنها مصون باقی نمانده است پس ازاین تعریفات معلوم میشود که اینها میدانند که بزود ترین فرصت انشاء الله شعاع نظام اسلامی که یگانه خواسته وارمان شهدای میدان جهاد است در حال تابیدن است بهار روح افزای تنفیذ شریعت از دامنه های طبیعت درحال وزیدن است دراین هنگام اینها جای پایی نه در بین نظام دارند ونه در بین ملت جز اینکه در برابر عدل الهی بکیفر اعمال شان برسند (وقل جاءالحق وزهق الباطل)از این جهت تپ وتلاش میورزند با این گونه القاب فریب گرانه کتلهاز جوانان خام وساده را در حلقوم مکر وخدعه خود قرت نموده یک دیوار مزاحمت را در برابر مجریان نظام اسلامی که غایه ملت مظلوم افغان است ایجاد نمایند چنانچه بیانات اخیر فهیم که از آدرس وفرهنگ کوه برآمدن صحبت مینمود بصراحت دلالت به تحلیل فوق میکند .

لهذا القاب فوق این درباریان غرب ومکاران فرصت طلب به تداوم قدرت وبیغما بردن دارایی ها مردم وپیاده کردن اغراض ومقاصد شوم بیگانگان که به مثابه زهر قاتل وکشنده است خلاصه میشود وبس . ملت آزادۀ افغان از دراکت ،زراکت وهوشیاری کار گرفتند بار دیگر درتحت تمحلات افراد شناخته شده واقع نشده و متحد انه بامجاهدین امارت اسلامی افغانستان شانه بشانه همآهنگ گردیده جهت زدودن وپاک ساختن جراثیمیکه از طاغوت وطاغوتیان نشأت نموده همکاری نمودند چنانچه جوق جوق پیوستن جوانان باشعور افغان درصف مجاهدین وهدف قرار دادن نیرو های خارجی در صفوف مختلف وعملیات کفر شکن استشهادی فداییان اسلام نشانه بارزی است ملت هوشیار افغان از این قسم جملات در ظاهر زیبا اما در باطن مملو از مکر ،فریب وخدعه متأثر نگردیده در هر جاکه هستند مجاهدین را در آغوش خود بمانند مادر میپرورانند در راه خم وپیچ جهاد مقدس هم صدا وهم ندا با فرزندان اصیل کشوردر قربانی آماده هستند ..

# د ډیموکراسۍ تمثیل

سید سعید

په افغانستان کې تر بل هر وخت ډېر ډیموکراټان په غوره کې دي او په دې خوشحال دي چې نسبتاً پخوانیو ختونو ته ډیموکراسي او س ډېره پیاده شوې ده. د وی ډیموکراسي داسي تعریفوي چې عبارت ده: « پر خلگو د خلگو په خوښه د خلگو له حکومت څخه» ،خو چې هم دا پدیده په عملي یا تمثیلي ډگرکې گوروبیخي برعکس ده. مثلاً دلته د ډیموکراسۍ دراتګ او عمل څو عیني بېلگې درسره شریکوو :

ډیموکراسي ده ، چې د بې **۵۲** ،او ایف **۱۲** ډوله بم غورځونکوالوتکو او کروز توغندیو په مټ یې د افغانستان هوایي قلمرومات کړ، په لسهاوو زره ولسي وگړي یې شهیدان او د تور وزندانونو بندیوان کړل ،کلي او باغونه یې په بمونو او بلډوزرونو وران کړل ،میوه لرونکې ونې او ځنگلونه یې اره او لولپه کړل.

هو !ډیموکراسي ده ،چې هیواد مو په نړیواله سطحه اداري فساد کې لومړی مقام وگاټه .

ډیموکراسي ده ،چې د اخلاقي فساد په اوج کې ځلور کلن ماشومان هم د جنسي تېري ښکار شول.

ډیموکراسي ده ،چې لوړپوړي او عمرخوړلي قاضیان او حقوقپوهان له شواهدو سره د فساد ، اختطاف ،تهدید او جنسي ځورونو په تورونیول شول ،خو د ډیموکراسۍ له برکته بیرته ډېر ژر خوشي شول.

ډیموکراسي ده ،چې لاریون کونکي په پرله پسې توگه دوهلو ،بندي کولو او وژلو سره مخ کیږي .

ډیموکراسي ده ،چې د ژورنالیستانو وهل ،بندي کول ،وژل او آن پیرو پلورپکي دورځې د نرخ خبره ده.

ډیموکراسي ده ،چې صادره ونکي پوځیان یې په نیمه شپه کې د خلگو په کورنو ننوزي ،دعا مو خلگو د وهلو ،کړولو ،بې عزته کولو او وژلو او بیا یې د محاکمې څخه د برات حق لري .

ډیموکراسي ده ،چې ځورول شوي ،وهل شوي ،بندیان شوي ،ژوبل شوي او د شهیدانو وارثان د قاتلانو او ظالمانو پرضد خوله نشي چوله ولای ،کنه غوښتنه به یې په ستوني کې وچیږي او د مرگ سره به مخ کیږي .

ډیموکراسي ده ،چې وارد ونکي عسکریې ولسي خلگ دورسره شوي ظلم په غبرگون کې دلاریون پرمهال په ښکنځلو ،وهلو او وژلو بدرگه کوي ،بیا یې د مخالفینو په نوم نوموي او د وژلو جواز یې ترلاسه کوي.

ډیموکراسي ده ،چې دین پرېښودل ،په مقدساتو او ارزښتونو ملنډې وهل او سلفو پسې بدرد ویل د عقیدې او بیان ازادي گڼل کیږي.

ډیموکراسي ده ،چې د پیسو ترلاسه کول په هره بڼه او هره لاره چې وي ،ولو که د نورو د جنسي خواهشاتو په پوره کولو سره هم وي دا زاد بازار ښه بزنس بلل کیږي.

ډیموکراسي ده ،چې په ژبه او قلم ،نظم او نثر کې جنسي تمایلاتو ته هوا ورکول او اخلاقي فساد ته هڅول ازاد خیالي او ترقي بلل کیږي.

لنډه دا چې ډیموکراسي ده ،چې اسماني قوانینو ته پکې ځای نشته ،روا او ناروا ،حق او باطل په یوه تله پکې تلل کیږي او ترجیح ورکول یې یوازې او یوازې د افرادو ترشخصي او نفسي خواهشاتو ،تمایلاتو او احساساتو پورې حصر ده .

# ترانه اوشعر !!

ژباړه

دلغت پوهان ترانه دځوان ،تروتازه ، شکلي صورت اودجمال اوکمال د صاحب په معنا سره بولي ، ویل کیږي چې ترانه په عموم کې یوشعري قالب دی چې له شفاهي ادب څخه سرچینه اخلي
ترانه په اصل کې له شعرسره اړیکه اوریښه لري او ځانګړي یوشعري قوانین مراعتوي ، اوپه خپله ترانه بیاځانته تعریف اوځانګړتیاوي هم لري ، له همدې امله ترډیره ځایه له شعرسره شباهت لري ، ولې د شعر اوتراني عمده تفاوت داده چې ترانه له اهنګ اوترنم سره یوکورنی ربط اوپیوندلري سره لدې چې ځینې شعرونه هم له ترنم اوموزون غږ سره زمزمه کیږي ، خودانادراوکم پیښیږي .
ځینې بیاوایی چې شعر په کلاسیک اوازادوقالبونوکې چې واچول شي صرف یوادبي احساس ته ویل کیږي چې دخیال په وزروالوت کوي اودکلمو په وسیله لوستونکوته وړاندې کیږي ، ولې ترانه هغه سروداوزمزمې ته ویل کیږي چې له ترنم ، خواږه سوز اوزړه راښکونکي اهنګ سره دخلکو غوږونوته رسیږي.
دترانې مهمه ځانګړتیاداده چې دهغې مخاطب په عمومي ډول عام خلک وي اوترانه ویونکي بایدداخبره اورمروپه نظرکې ونیسي چې دترانې اوریدونکي صرف هغه طبقه نده چې له شعراوادبیاتوسره مینه اوعلاقه لري ، بلکې دترانې مینه وال هغه څوک دي چې دمعنی اومفهوم په ځای زیات اهمیت غږ ، اهنګ اوترنم ته ورکوي.
بله نکته داده چې په ترانه کې ترډیره بریده بایدهغه کلیمې اوتوري وکارول شوي چې هغه ولسي رنګ ولري اودخلکوپه منځ کې داستعمال وړوي ، یعنې دکلاسیکوکلموپه ځای بایدله فولکوریکي (رواني ) ژبې اواصطلاحاتوڅخه استفاده وشي
ترانه په عامیانه طرحه اواحساس مبني وي ، لکه فراق ، محبت ، هیواد، له ظلم اوستم سره مبارزه ، له الله جل جلاله نه ویره ، ولسي افتخارات اودحماسونغګه اوداسې نور.........

اوپوهان داهم وړزیاتوي چې هره وړوکې قطعه چې په ترنم اوخوږ لحن برابره اوویل شي ترانه بلل کیږي

**دترانې جوړښت :**

د مناسب وزن ترخوا ، داسې طرحه اوموضوع ولري،چې لیدلوری اوسرچینه یې په معنویت ، مینه ، ټولنه ( زمزمه اوبیان ) باندې وڅرخي
دترانه ویونکي لپاره څوخبرې
هرکله چې شاعراویاترانه ویونکي ته دشعر اوترانې حس پیداکیږي ضروري ده چې هغه دقلم په وسیله دکاغذپه مخ راټول اوویې لیکي ( څکه دغه شیبې ډیرې قیمتي لنډې اوکوتاه وي ) له هغه ورسته دې خپلې کرښې په خاص قالب اوسبک کې راونغاړي اولاندې اصول دې پکې پیاده کړي
۱ - دقلم اولیکنې صفایي اوښکلا څکه دغه کارحس اوشعرته درناوي ښې اودتشویق وړګرځي .
۲ - کوښښ دې وشي چې له هربندورسته لنډکی ساه موجوده وي اوفواصل د( ، ) کامي اویا( / )

ولاړي کړښي په واسطه ولیدکل شي په شکل سره لیکل شوي وي
۳ – دعنوان انتخاب باید دترانې دمفهوم په اساس وي نه دیوې خاصې مصرعی له امله .
۴ – قافیه بایدلږ ترلږه دوه حرفه وي
۵ – هغه بندچې دپای توری یې داوږدیدااوکش کولو غوښتنه کوي کسره یازیربایدورکړل شي
۶ – داهم بایدله یاده ونه غورځول شي چې ترڅوترانه دشعرپه لوراوسبک مزل وکړي بده نه بریښي ، بلکې هنري رنګ اوډول ورکوي اوپوهان وايي چې هرهغه ترانه چې صرف په محاوري بناوي وي اوادبي اسلوب پکې نه وي مراعات شوي قوت اواغیزمنتیایي له منځه وړي .

**مرجع** : ألحان طيبة

، اصول ترانه سرایی

لومړۍ برخه

لومړنی مفصله مرکه وړاندي کوو هیله ده خوښه مو شي ، دمرکې نورې برخې به په راتلوونکو ګڼو کې ولولئ .




## له ملافقیرمحمد درویش سره مرکه

د څرک درنو لوستوالو !

داخل دادب سنګر او سنګریانو په برخه کې کوم شاعر نه درپیژنو ، بلکې یوداسې څوک درپیژنو چې په خپل روحپال ترنم سره دشاعرانو مړو او بې غږه هنر پارو ته روح او بقاء ورکوي ، دشاعرانو له زړه راپورته شوی درد او بړاس دترنم په رنګ رنګوي ، او بیرته یې دپسرلني باران غوندې په تږیو او سوځیدلو زړونو باندې وروي .

هو کې ، الحاج ملافقیرمحمد درویش دریادوو ، چې په په خپل داودي ترنم یې تراوسه ډیر زړونه ګټلي دي ،هغه ترنم چې کله دخوست له یوې اولسي جلسې راپورته شوی ، کله یې دشوروي طیارو په شور کې دپکتیا او خوست په ځنګلزارو درو کې ازانګې کړې ، کله یې دهندوکش په لمنو کې دمینه والو زړونه لړزولي او کله یې هم د راډیو او انټرنیټ په کرښو خپل تږي شائقین سیرابه کړي دي .

څو موده وړاندې د څرک مجلې دوو همکارانو زبیر مسافر او عبدالرؤف حکمت له ملافقیرمحمد درویش سره اوږد بنډار درلود ، دهمدې بنډار په استناد درته دملافقیرمحمد درویش

ع ، حکمت

درویش صاحب که په پیل کې ځان راوپیژنئ ، دافغانستان په کومه سیمه کې زیږیدلي یاست ، دغه راز دخپل ماشومتوب په اړه که معلومات ورسره علاوه کړئ مهرباني به مو وي ؟

ملا فقیرمحمد درویش

بسم الله الرحمن الرحیم ، زما نوم فقیرمحمد دی دملا کاظم شاه زوی چې په ۱۳۴۴ هـ ش کال کې دخوست ولایت داسمعیل خېلو ولسوالۍ دحیدرخېلو په سیمه کې زیږیدلی یم ، زموږ کورنۍ ډیر پخوا، د وردګو ولایت د شنیز کچکالي دسیدانو له سیمې څخه دخوست ولایت اسمعیل خېلو ته راغلي ، دلته یې ځمکه اخیستې ، او خوست مو اوس پلرنی ټاټوبی او دپیدایښت ، خاپوړو او ماشومتوب وطن دی .

دماشومتوب او ابتدايي ژوند په اړه به درته ووایم ، چې لومړنی الفباء او قرانکریم مې په خپل کور کې له خپلو والدینو نه ولوست ، ورپسې دزدکړو لپاره دخپلو ماماخېلو کره لاړم ، څنګه چې دمور لخوا زما نیکه ( دوتلي نعت خوان شهید احمدغني مسکین یار پلار ) یو وتلی عالم وو، ددوی په کور کې مې له خپل

نیکه سبقونه شروع کړل ، هغه به په کور کې هم سبق راته وایه ، او وروسته به مو په ګډه د څرلپاره مال غره ته بوت ، هلته به یې هم سبق راته وایه ، چې په دې وخت کې مې ابتدایي دیني کتابونه ولوستل او ورسره مې دخط لیکل او لوستل هم زده کړل .

زبیرمسافر

په ماشومتوب کې مو له ترانه ویلو سره شوق وو؟

ملافقیرمحمد درویش

بلې کله چې زما دماشومتوب وخت وو ، نو دا غالبا دظاهرشاه وروستي او دداود اولني کلونه وو ، په دې وخت کې زموږ په سیمه کې په مکتبونو کې د کمونیزم تبلیغات ډیر ګرم روان وو ، او دمکتب ځینو هلکانو به دکور کالي ډوډۍ شعارونه او شعرونه بدرګه کول ، په دې وخت کې په خوست کې دسیمې علماء کرامو هم ددوی په خلاف مبارزه کوله ، غونډې او جلسې به یې جوړولې او خلک یې دکمونیستانو له دهري افکارو خبرول ، زما پلار او ماما احمدغني مسکینیار هم دکمونیستانو په ضد ددې غونډو او جلسو مهم فعالان وو ، زما ماما به په دې غونډو کې خپل لیکلي اشعار او ترانې په ډېر خواږه ترنم سره ویلې ، ماچې دهغه کتابچه کتلې نو له زیاتره شعرونو سره ۱۳۵۳ کال لیکل شوی ، په همدې کلونو کې به چې ما دشهید احمدغني مسکینیار ترانې اوریدې ، ډیرې ښې راباندې لګیدې ، او کله به مې چې ماما زموږ کورته راغی ، نو ما یا زما مور به هم ترې غوښتنه کوله ، چې یوه ترانه راته زمزمه کړي ، دده غږ په ما ډیر خوږ لګیده او له همدې وخته مې له ترانو سره مینه پیدا شوه ، دداود خان په وخت کې احمد غني مسکینیار عربو ته لاړ او داشعارو کتابچه یې ددوی په کور کې ماته په لاس راغله ، ده ډیر اشعار لیکلي وو خو یوشعر چې دموسی علیه السلام او یوه قصاب واقعه یې په کې منظومه کړې وه ، مایې طرز له ده څخه زده کړی وو او ډیر خوند یې راکاوه ، همدا شعر مې په یادو زده کړ ، څه وخت وروسته دثور کودتا وشوه ، دثور له انقلاب وروسته چې زه لادعمر په لحاظ کشر وم ، له خپل کور څخه لاړم او دخوست ښارجنوب ختیزته نږدې دشمل په مدرسه کې مې داخله واخیسته ، ددې مدرسې مهتمم ډاکټر شیرمحمد نومیده چې ډېرمتقي پرهېزګاره اومشفق انسان وو، په همدې مدرسه کې اوسیدم چې دهمدې کال په اوړي کې دمدرسې لپاره دڅنډې ټولولو پروګرام شروع شو، په دې لړ کې دخوست په متون سیمه کې دمدرسې لپاره دڅنډې ټولولو په وخت دهمدې سیمې په یوه کلي کې چې نوم اونقشه اوس زماپه یاد نه ده زه په لومړي ځل دمیکرافون مخته حاضرشوم او دخلکو په وړاندې مې ترانه وویله ، چې هماغه دموسی علیه السلام داستان وو ، ترددې وروسته مې څه موده دخوست په مندوزیو کې درس ووایه ، او بیا څنګه چې زموږ کورنۍ ډیره ترمراقبت لاندې وه او هره شیبه دکمونیستانو دحملې ویره وه ، نو په ۱۳۵۸ کال دجدي په میاشت کې دببرک کارمل دواک ته رسیدو نه څوورځې وروسته مو خپل کلی پریښود ، لومړی دخوست دګربزو سیمې ته لاړو همدلته د غلام خان نږدې د بنګیدار په سیمه کې مو څه وخت تېرکړ اووروسته مو بیا هنګو ته نږدې دعظیمې کلي اوخیساري سیمې ته هجرت وکړاو همدلته مودخساري په کیمپ کې دروسي ښکیلاک له وجې دهجرت ژوند غوره کړ چې تقریبادنجیب دحکومت ترسقوطه پورې دلته پاتې شوو اوکله چې په افغانستان کې کمونیستي حکومت نسکور اومجاهدین په قدرت ورسیدل نو مونږهم دهجرت له دیاره خپل ابایي وطن افغانستان خوست ولایت ته واپس ولاړواودروسي ښکیلاک له امله دهجرت دا لړۍ ختمه شوه.

زبیرمسافر

تاسو دخپلو ابتدائي زده کړو یادونه وکړه که دخپلي تعلیمي سلسلې په اړه معلومات راکړئ ، چې څومره زده کړې مو کړې دي ؟

ملافقیرمحمد درویش

ترهجرت وړاندې مې یوازې اولني ابتدايي کتابونه لوستي وو ، کله چې مو هجرت وکړ ، لومړی مې په کوهاټ کې دجنګل خېلو دکلي په یوه مسجدکې باقي پاتې ابتدايي کتابونه مکمل او بیامې په کوهاټ کې دپراچګانو په مدرسه کې داخله وکړه چې فکرکوم دا ۱۹۸۰میلادي کال وو نودلته مې یوکال سبق اوایه ورپسې دهنګو سیمې ته راغلم او دلته په سراج الاسلام کاهي ، مفتاح العلوم هنګو او د سروزیو په مدرسو کې مې زده کړې وکړې بیا پیښور ته لاړم هلته مې په دارالعلوم هاشمیه باړه کې یو کال سبق اویلو خو تقریباډیرې زده کړې مې په سراج الاسلام کاهي کې ترسره کړې چې فکرکوم فنون مې ټول دلته خلاص کړل، او وروسته مې ، په میرانشاه کې دسترجهادي شخصیت الحاج مولوي جلا ل الدین حقاني حفظه الله په مشهوره مدرسه الجامعه منبع العلوم کې شامل شوم او وړه دوره او لویه دوره مې همدلته ترسره کړې ، خو په ډیر تأسف چې ددستاربندۍ په مراسمو کې ګډون مې نصیب نه شو ، ځکه داهغه مهال وو ، چې دجهاد له بریالیتوب وروسته په کابل کې دتنظیمي مشرانو ترمنځ سخت جنګ روان وو ، زه چې دخپلو وروڼو مشر ورور وم نو دکورنۍ مسؤلیت را په غاړه وو او باید خپل کورته مې حلا له نفقه پیدا کړې وای ، په دې وخت کې چې ما لویه دوره کوله ، دسعودي عربستان ویزه مې واخیسته ، او دد ستاربندۍ مراسمو ته تقریبا ۱۵ ورځې پاته وې ، چې زه سعودي عربستان ته لاړم چې دا ۱۹۹۳/۲/۱۶ میلادي کال وو بیا څوکاله د روزي ګټلو لپاره همالته په مدینه منوره کې پاته شوم زمادسفر اخرنۍ کال وو چې دطالبانو اسلامي تحریک راڅرګند شوخومتاسفنه چې زه له هېواده بهروم بیاپه

۴/دجون /۱۹۹۶ م کې واپس وطن ته راغلم زه ډېرزیات خوشال وم ځکه چې په دې وخت کې دطالبانو اسلامي تحریک خوست ته هم را رسیدلی وو زه د څه وخت لپاره کور پاته شوم بیامې خپل اولنی اوتاریخي سفرکندهارته وکړ چې په دې سفرکې زماملګري مولوي صاحب نقیب الله دغزني دمقور اویوبل طالب وو چې نوم یې رانه هېر دی هلته په کندهار کې داطلاعات اوکلتورمسئولینو محترم امیرخان متقي ،عبدالحی مطمئن ، عبدالاحدجهانګیروال ، احمد الله وثیق اوسردارمحمد شکیب اونورو ملګرو لکه وکیل احمدمتوکل صاحب وغیره سره زماملاقاتونه وشول خوزماتر ټولو لوی سعادت دا وو چې دجناب عالیقدرامیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد حفظه الله سره زمااولنی ملاقات وشو اودهغه مبارک په لیدومشرف شوم داهغه وخت وو چې دکابل دفتحې غالبادوهمه ورځ وه په سباته مونږ بیاکابل ته راغلو اودسفرملګري مواوسنی دکیوبا اسیرمحترم خیرالله خیرخواه صاحب ( فک الله اسره ) اودده اندیوالان وو چې دا وخت نومونږ دکابل دوالي په توګه تعین شوی وو نومونږ دده سره په یوه خاص هلیکاپترکې راغلو چې مجاهدینوتازه په هېرات کې له تورن اسمعیل خان څخه نیولی وو په کابل کې ما ته دملګرو له خوا دریاست جمهوري په اداره ء امورکې دمطبوعاتي دفتر وظیفه راوسپارل شوه .

ع ، حکمت

تاسو وویل چې لومړني نعتونه مو دماشومتوب په مهال په خوست کې ویل ، له هجرت وروسته مو دترانه ویلو لاره څنګه پسې تعقیب کړه ؟

ملا فقیرمحمد درویش

له خوست نه چې کله مهاجر شوو ، نو دهنګو په سیمه کې داوسیدو په مهال ما درس وایه ، په دې وخت کې

زما ماما شهیداحمدغني مسکینیار هم له عربو راغی ، او دجهاد په خاطر یې دهغه خت قیمتي سرمایه دمسقط اوابوظبی دوه ویزې پریښودې ، هغه له جهاد سره سره دمهاجرینو اومجاهدینو په جلسو او غونډوکې شرکت کاوه اودجهاد لپاره به یې تشویقي تراني ویلې . پاتې دې نه وي چې دکمونستي ډلو په ضداشعار نوموړي له ۱۳۵۳ هـ ش کال راپه دې خوا ویل، نو یوه ورځ یې ماته وویل چې خبر شوی یم چې ته هم تراني وایې ، ته یوه ترانه راته زمزمه کړه ، ماچې کله ترانه ورته وویله نو زما غږ یې خوښ شو ، نو نور یې هم تشویق کړم ، په دې وختو کې موږ یو څو تنه ( زه )، اومرحوم شهیداحمد غني مسکین یار، مرحوم محمدرسول کاکا ، مرحوم شهیدحضرت زمان ، اوحاجي حلیم الله په نامه اوڅو تنه نور مجاهدین ) به دمهاجرینو په کمپونو او مهاجرو افغانانو باندې ګرځیدو او خلک به مو جهاد ته دعوت کول ددې دعوت په مهال به مونږ حماسي تراني هم په لوډاسپیکرو کې ویلې چې په خلکو یې خورا ژور اثر درلود ، نو په دې مهال دجهادي جلسو ، دشهیدانو دفاتحه خوانی یادمدارسو په جلسو کې له شهیداحمد غني مسکینیار سره یوځای ماهم ترانه خواني ته ادامه ورکړه ، یو وخت له دې امله چې ترانه خوانی له درس ویلو ایستلم تېدنګ هوډ مې وکړ چې ترانه خواني پریږدم خو بیا دهمدې سیمې ډیرو مشهورو علماء کرامو او استادانو چې په سرکې یې دپکتیاولایت ګردېزدتیرې کندو او سیدونکی مشهورعالم مولوي صاحب عبدالواحد حفظه الله وو تشویق کړم او راته ویې ویل چې ستا لپاره اوس تر هرڅه لوی خدمت همدغه ترانه خواني ده چې بایدادامه ورکړې ، په دې کلونو کې احمد غني مسکینیار په خوست کې دژوره غونډ په لوی جنګ کې په شهادت ورسید ، او مجاهدینو ملګرو یې ماته دیوه خلف په سترګه کتل ، نو په دې شکل مې ترانه ویلو ته ادامه ورکړه .

زبیرمسافر

تاسو دمجاهدینو دتشویق او تحریض په برخه کې دترانو د مؤثریت خبره وکړه ، که دهغه مهال کومه خاطره په یاد لرئ ، هیله ده راسره شریکه یې کړئ ؟

ملافقیرمحمد درویش

په دې وخت کې زه خپله له داسې تجربې سره مخامخ شوم ، چې جهاد ته ددعوت او تحریض په برخه کې یې د حماسي ترانو په اغیز لرلو متیقن کړم ، ځکه یوې حماسي تراني خپله په ما ډیر ژور اثر وکړ.

کیسه داسې وه چې په هغو شپو ورځو کې چې شورویانو په خوست کې دسترجهادي شخصیت حقاني صاحب حفظه الله دمجاهدینو دمحکم سنګر ( ژورې غونډ ) دنیولو لپاره خورا پراخ عملیات پیل کړي وو او په خوست کې سخت جنګ روان وو چې زما مرحوم پلار او ماما شهیداحمد غني مسکینیار هم ورغلي وو زه او ورور مې مرحوم ظاهرمحمد چې ترخپلو نورو ورونو مشران وو ، خپل داوسیدو په کمپ کې دیوې کوټې په جوړولو لګیا وو، سره له دې چې کار مو کاوو نوپه راډیو کې به مو دهغه مهال دمجاهدینو راډیو ( صدای افغانستان ) هم نیولې وه ، په دې وخت کې راډیو پله پسې دخوست دجګړې په اړه مطالب نشرول ، خو وروسته یې داحمدشاه کندهاري دا ترانه وروا چوله چې ویل یې ( ته ارام کوه خوبونه دبخملو په بستر کې ، ما په سرو وینو کې پریږده چې سلګی وهم سنګر کې ) ددې ترانې په اوریدو زما ورور خپله په لاس کې ډبره چې دیوال یې ترې جوړاوو وغورځوله ، او ویې ویل چې نور هرڅومره سخته شي هم والله که پاته شم ، څرنګه چې زه الحمدلله له مخکې نه متاثر وم اوهمدانیت او اراده مې وه نودده له خبرې سره یوځای ما هم دجهادلپاره ملا وتړله

او دواړه میرانشاه ته روان شوو، دا هغه جګړه وه چې زموږ ماما احمدغني مسکینیار هم په کې شهید شو ، په هر حال په دې وخت کې یوې جهادي ترانې په موږ دومره اغیز وکړ چې کور مو همداسې پرېښود او دجهاد قصد مو وکړ .

ع ، حکمت

سره له دې چې پخوا هم دوعظ او نصیحت په شکل ترانه خواني دود وه ، خو عمومي باور دادی چې پښتوجهادي ترانه خواني شهید مسکینیار او تاسو راوپنځوله او د یوې نوې جهادي تبلیغاتي پدیدې په توګه مو راژوندی کړه ، که دا راته ووایاست ، چې دتیرجهاد په پیل او وروستیو کلونو کې دجهادي ترانه لیکلو او ویلو بهیر څنګه وو؟

ملافقیرمحمد درویش

څومره چې زما معلومات او مشاهدات دي ، په پیل کې شهیدمسکینیار ترانې ویلې او ځینې کیسټې یې هم ډکولې ،او نشرولې ، ده اشعار خپله لیکل ، خو له ۱۳۶۰ لمریز کال څخه زه دملادرمحمد ګوهري صاحب له نوم سره بلد وم ، چې خورا په زړه پورې حماسي ترانې یې لیکلې ، دغه راز محترم مولوي صاحب بدرالدین هم ترانې لیکلې ، ما خپله ددوی اشعار ویل ، په وروستیو کلونو کې له نورو ملګرو لکه خیال بادشاه صادق ، مولوي محمدالدین شاه مخبت ،خلیل الرحمن ،اوملنګ جان منزرخیل اونوروملګرو سره هم شناخته شوم ، په جلسو کې به مو په شریکه ترانې سره ویلې وروسته د ترانه ویلو بهیر خورا پراخ شو او ډیر نوي نعت خوانان پسې راپیدا شول .


ع ، حکمت

په لومړي ځل کله د سټوډیو مایک ته کیناستئ ، دغه راز په کیسټو یا د راډیو له لارې مو دترانو دنشر بهیر کله پیل کړ ، او څنګه مو دوام ورکړ ؟

ملافقیرمحمد درویش

هغه مهال په پیل کې دمجاهدینو داتحاد یوه مشترکه راډیو د صدای افغانستان په نامه وه دې راډیو ګڼې محلي سټوډیوګانې او راډیویي ستیشنونه لرل ، یعنې په مختلفو سیمو کې یې وړې وړې دستګاوې درلودې ، له دې جملې دوه راډیو ستیشنونه دصدای افغانستان لخوا محترم حقاني صاحب ته هم ورکول شوي وو ، ما په لومړي ځل په میرانشاه او ژوره کې په همدې راډیو ګانو کې ترانې ثبت کړې ، بیاغالبا ۱۳ ۶۷ یا ۶۸ کال وو ، چې په پېښور کې داوو تنظیمونو داتحاد راډیوته چې دافغانستان دمجاهدینوپه نوم وه ددې راډیو مرکزي سټوډیو ته لاړم ، هلته مې یوه ترانه ثبت کړه چې دراډیو دکارکوونکو لخوا ډیر تشویق شوم ، او غوښتنه یې رانه وکړه چې بشپړه کیسټ ورته ډکه کړم ، په همدې سټوډیو کې مې خپله لومړنی بشپړه کیسټ ډکه کړه ، داکیسټ بیا خورا مشهوره شوه ، تاسو به شاید اوریدلي وي ځینې ترانې مثلا - نجیبه اول دې نه منل دخدای حکمونه په سلګو شولې اوس دې نه قبلیږي سوال زاري په ګونډو شولې - یاداچې - په زړونو کې چې وو هغه ارمان کې په ګونډو شو دګرمو اوبو پورې طرح پلان کې په ګونډو شو - دغه راز دا ترانه چې وایي - موږ په قراني زیور خپل وطن زیبا غواړو او داسې نورې ترانې ... دا کیسټ ډیره مشهوره شوه او خلکو یې خوره زیات هرکلی وکړ ، له دې وروسته کله چې په ۱۳ ۶۹ لمریز کال کې چې پخوانی راډیو صدای افغانستان منحل شوه ، نو دوه رادیو ستیشنونه یې له حقاني صاحب سره پاته شول حقاني صاحب له همدې دستګاوو نه په استفاده دخوست په ژوره کې د مجاهد غږ په نامه راډیو جوړه کړه ، په دې راډیو کې ما رسما دنده پیل کړه ، چې په ترانو سربیره مو نور مطالب هم وړاندې کول ، په دې وخت کې به

چې کله چیرې عملیات کیدل نو مجاهدینو به دنورو ورو دستګاوو نه په استفاده محلي خپروني هم کولې ، مثلا کله چې په ګردیز
عملیات شروع وو هلته موږ له یوې نیم کیلوواټه میډیم دستګاه څخه په استفاده خپروني پیل کړې وې او دمجاهد غږ ملګري به په نوبت ورتلل ، په دې ډول مې دمجاهد غږ له لارې ترانې خپرولې ترڅو چې اسلامي انقلاب بري ته ورسیده ، داسلامي انقلاب له بري څخه وکړه چې له راډیو ګردیز ته هلته یې خپروني پیل دانتقال په مهال د لارې له امله راډیو خراب شو چې بیا جوړ نه شو .




وروسته موږ ژورې نه نقل کړو او کړو ، خو نا هموار ستېشن دومره هیڅکله هم

وروسته کله چې په کابل کې تنظیمي جنګونه شروع شول ، او دافغانستان ګنو خیرخواو علماء کرامو دجګړه مارانو ترمنځ کابل ته سفرونه وکړل چې په هغوی کې الحاج مولوي جلال الدین حقاني صاحب هم وو نوموړي په دې لاره کې ډېرتکلیفونه وګالل، په دې سفر کې زه هم ورسره ملګری وم په کابل کې مو ډیرې هڅې وکړې خو جګړه مارانو له جګړې لاس نه اخیست دامهال موږ په خپلو سترګو لیدل چې دجهاد ثمره مو دڅو تنو دهوس قرباني کیږي ، ډیر بد حالت وو او ټول ملګري له سخت خفګان او باطني کړاو سره مخامخ وو په همدې وختونو کې زما کورني اقتصادي مشکلات هم ډیر شوي وو ، نو د سعودي ویزه مې پیدا کړه او غالبا ۱۹۹۳ کال وو چې سعودي ته لاړم ، بیا چې کله دطالبانو داسلامي تحریک له پاڅون څخه خبر شوم نو ۱۹۹۶ کې هغه مهال چې طالبان پکتیا او خوست ته رارسیدلي وو او په چاراسیاب باندې جنګونه شروع وو، زه له سعودي عرب نه واپس وطن ته راغلم دسعودي ویزه مې خرابه کړه ، او دلته مې په اسلامي تحریک کې خدمت پیل کړ ، کندهارته ولاړم او الحمدلله په دې وخت کې کابل فتحه شو ، نو په کابل کې دارګ دمطبوعاتي دفتردمسؤل په توګه دنده راوسپارل شوه او ورسره مې دشریعت غږ راډیو له لارې دحماسي ترانو ویل او نشرول هم پیل کړل . ( نوربیا )

# د پل خشتي مسجد

ټولونه: م-احساس

دغه مسجد د کابل د سیند په جنوبي خوا کي د خشتي پله له څنګه تقریباً د یو جریب ځمکي په احاطه کي د لومړی هجري پېړۍ په ساختماني موادو جوړ شوی و. د مسجد تهداب لومړی ځل د ډبرو په ټوکرو او خټو او بیا په ریګو (شګو) او اهاکو بنا شوی و، دیوالونه یې په اومو خښتو او بیا په پخو خښتو چي په هغه کي ریګ او اهاک استعمال شوي وو، جوړ شوی په سفیدي او ایراني خټې ښکلی شوی د خونو،کوټو او حجرو د پوښښ او مسطح کولو لپاره یې چې زلزله لږ تاثیر پر وکړي د چنار،عرعر او سفیدار د ونو د لرګیو څخه کار اخیستل شوی و او پر دستکو باندي یې بوریا،وسک،نلان او غوره ګل او کاه ګل لویدلی و.

د دغه مسجد جوړولو پلان د د تیمورشاه دراني د سلطنت په وخت کي د اسلامي معماری په طرز طرح شو او د شاه زمان د پاچاهی په دور کي په (۱۲۱۳ هـ،ل) کال کي بشپړ شو. په لومړي سر کي دغه مسجد یو پوړیځ جوړ شوی و، چې درې دالانونه، اوه رواقونه او یوویشت ګنبدي یې لرلې،د هرې ګنبدي په منځ کي یوه - یوه دانه لوی فانوس د کابل د حربي پوهنتون دمشیخاني ساخت ځړول شوی و، چې د د دوو خوا د لنګرونو په وسیله پورته او ښکته کېدل. دغو څراغونو په هغه وخت کي مخصوصه ځلا او عظمت درلود او د خاورو تیل به پکي سوځل کېده. د دغې مسجد جامع ګچکاري د هغې زمانې د معماری د شاهکاریو یوه په زړه پورې نمونه وه، صحن یې په عادي تخته سنګونو فرش شوی و او د مسجد د ځمکي مخ داسي صندل کاري شوی و چي د مرمر ډبرو سره یې سیالي کوله.

دغه مسجد د بازار خوا ته یوه لویه دروازه درلوده چي د دغې دروازې پر سر یوه جګه او پراخه اوه مخي ګنبده موجوده وه چي په رواقونو سره ښکلې شوې وه. د ګنبدي لاندي په

رواقونو کي به تسبيح جوړونکيو شکلي تسبيح ګاني او پوپنکان جوړول .

د مسجد آذان خونه د دروازې پر سر واقع وه، چي مرحوم سائين به په ډېر خواږه او لوړ غږ آذان پکي کاوه چي آواز به يې ورځېرمه ټولو ځايونو ته رسېده . د مسجد دوو طرفو بهر خوا کي يو لړ دکانونه جوړ شوي ول، چي موچيانو ،چاى او قند خرڅونکيو،بنجارګانو او سيمسارانو به په کرايه اخستي وو او کرايه يې مسجد ته وقف ګرځول شوې وه.

سراج الملة و الدين امير حبيب الله به د جمعي په ورځو کي هر کله په دغه مسجد جامع کي له خپلو درباريانو سره لمونځ ادا کاوه او څرنګه چي د کابل تاريخي او زوړ مسجد و؛نو ډېر بېر و بار به پکي وو او د لمانځه ځاى به په اسانى نشو پکي پيدا کېدلاى.

امير حبيب الله د دغه مشکل د رفع کولو لپاره امر وکړ چي په هر صورت چي امکان موجود وي،د دغي جامع د مسجد صحن دي پراخ کړل شي،د دغه امر په تعميلولو سره د دغي مسجد جامع جنوبي پلو ته چي د مسجد دباندي وو او هلته خاکروبه او ناپاک شيان را ټوليدل،د مسجد دننه وګرځول شو؛څو ددې سره بيا هم د لمونځ کوونکيو لپاره کافي ځاى و نه موندل شو؛څو امير حبيب الله بيا امر وکړ چي پر مسجد باندي دوهم پوړ د لرګو په سقف جوړ کړل شي،د دوهم پوړ معمارى يې استاد ولي محمد کندهاري سرته ورسوله.

لومړى چا چي دغه مسجد په غاليو (قالينو) فرش کړ،مرحوم حسين افندي ترک د کابل ګمرک مدير و او لومړى چا چي د دغه مسجد صحن ته اوبه را وستې مرحوم حاجي غلام حيدر نقشبندي د حاجي غلام نبي زوى په بخارا کي افغاني وکيل التجار و.

په (۱۳۴۹هـ،ل) کال د ثور په دومه اود (۱۹۷۰ع) کال د اپريل په دوه ويشتمه (۲۲) د کابل او د هيواد د شاوخوا قدرمنو علماوو او روحانيونو غونډې او مظاهرې د نوراحمد اعتمادي له حکومت څخه د اعتماد د رايي د اخيستلو او ړنګولو او ناروا دولتي نشراتو د غندلو او مخنيوي په هڅه د (۴۳) ورځو لپاره د دغي مسجد جامع له صحن څخه را پاڅيدلي وې.

استاد محمد ابراهيم خليل مرحوم په دې هکله داسي ليکي :

" تعمير اين مسجد در سال (۱۳۳۴هـ،ش) شروع گرديده است،اين مسجد مبارک که منار آن (۶۲) متر و گنبد سبزش از کرسی هژده متر ارتفاع داشته و گنجايش سه هزار نماز گذار را در يک وقت دارد،تمام ايوان و رواق ها طبقهء اول و دوم زينه های عريض و وسيع و دهليزها و ديوارها از سنگ مرمر کار شده و روی گنبد آن از کاشی ابی رنگ تزئين گرديده و يک حصه سقف آن که خارج گنبد است طبق نقشه عليحده برای جلوگيری از آب باران اهن پوش شد چراغ بزرگ قنديل وسط در مسجد در گنبد بلند و مرتفع آن اويزان گرديد.

زيرا نصب قنديل مذکور که (۱۶۰۰) کيلوگرام وزن دارد از طرف کمپنی زيمنس در جرمنی ساخته شده ، قنديل بزرگ و بيضوی آن حاوی (۳۰۰) گروپ برق به قوهء (۵۰۰) تا (۱۵۰۰) ولت ميبا شد،تعداد اويز ها بلوری بوده و شيتهای مقبول آن در زيبايی مسجد افزوده است و ضمناً وسايل نشر الصوت مسجد بسيار اساسی بوده و دارای مرکز گرمی و دستگاه تهويه ميباشد سقاخانه (وضو خانه) مسجد جامع پل خشتی مجهز با شبکه ابرسانی و شيردهن ها و تشنابهای متعدد ميباشد."

د دغه مسجد يو لوى امام او خطيب مير واعظ نومېد چي آر (اصلي) نوم يې مير احمد آقا (سيد احمد آقا) و.د زمان شاه،محمود شاه دراني او شاه شجاع د پاچاهي په وخت کي يې د کابل د پل خشتي په مسجد جامع کي د اسلامي تبليغ او د مسلمانانو د وحدت بيرغ پورته کړى و او پر چندولو د ير غل کولو او د محمودشاه دراني د پاچاهي په ړنګولو کي يې فعاله برخه درلوده.

مير واعظ صاحب د کابل او د کابل د شاوخوا د او سيدونکيو د مقتدائيت

او روحاني مشرتابه حيثيت درلود. نوای معارک د ده مریدان او پیروان لکونو تنو ته رسوي. هغه وخت چي شاه شجاع له کابل څخه د پېښور لوري ته وخوځېد میرواعظ د مختار الدوله مشیر محمدخان له خوا څخه د کابل د نائب الحکومه په حیث وټاکل شو. نوموړی د پارسي ژبي صوفي او سالک شاعر دی او په (۱۲۲۲ هـ،ق) کي په شهادت رسېدلی او د کابل د باراني په کوڅه کي د باباولي د قبر ترڅنګ خاورو ته سپارلی شوی دی.

د شعر نمونه يې :

من بسمل نگاه در مجروح به نیش خنجر
چشمان کیستم مژگانکیستم عاشق
ای سر و خوش خرام ز بنور خاور تابان
احوال من مپرس چون کیستم
ذره در هوائی که من من سرمه جوی ریگ
رقص میزنم مدعی بیابان کیستم
مسیح که سر پیچ من نونهال گلشن
میشوی احسان کیستم
خود گنده میشوی تو من سبزه دمیده
مکن فکرکندنم از زبستان کیستم
ذوالفقار حیدر شمشیر آبدار نمایان
کردار غافلی کیستم
تعلیم،علم و ادب از شاگرد طبع لعل
که بشنوم سخندان کیستم

جادارد آنکه فخر کند بر شهان دهر
(واعظ) تو خود ببین زغلامان کیستم

اخېستنه :

ځلمی،محمد ولي،د کندهار او کابل تاریخي مسجدونه،۱۳۷۶هـ ل، صحاف نشراتي مؤسسه،کوټه

نگارنده: مولوی رضا رخشانی

کسب منافع دنیوی و استثمار افراد با طرح دوستی و صمیمت منافات آشکاری دارد. گاهی خودپرستان بی حقیقت در زمینه معاشرت و دوستی با افراد هدف خاصی را دنبال می کنند؛ آنان همواره در پی یافتن دوستانی هستند که از آنها سودی عاید گردد. مثلا هرگز طرح دوستی با کسانی که دارای احساسات پاک و نیات صادقانه باشند ولی بر دوستی آنها فایده مادی مترتب نباشد نمی ریزند. بر اساس همین برنامه ها تا وقتی پیوندشان با دوستان استوار است که امید جلب منفعت باقی باشد، اما چنانچه از این راه به هدف دلخواه خود دست نیافتند و احساس کردند که چرخ دوستی بر محور هدفشان نمی چرخد یک نوع سردی خاص جای روابط گرم و پرحرارت دوستانه را می گیرد و رشته ارتباط ریاکارانه خود را می گسلند. این چنین افرادی که جز منافع شخصی به چیز دیگری فکر نمی کنند ارزش دوستی و رفاقت را ندارند.

شیخ سعدی– رحمه الله– درباره این نوع دوستان می گوید:

این دغل دوستانه که می بینی    مگسانند گرد شیرینی

تا طعامی هست می نوشند    همچو زنبور گرد تو جوشند

تا به روزی که ده خراب شود    کیسه چون کاسه رباب شود

بار دیگر که بخت باز آید    کامرانی ز در فراز آیند

دو غبایی بیز که از چپ و راست    در وی افتند چون مگس در ماست

راست گویم سگان بازارند    کاستخوان از تو دوست تر دارند

این گونه افراد به سود مادی ناچیزی دوست خود را می فروشند و اسرار دوستی را فاش می کنند و یا در موقع حاجت و نیاز مادی انسان را رها می کنند و به دنبال سودجویی مادی خود می روند.

گذشت و اغماض از لغزش های دوست

بعضی از افراد به علت فقدان بلوغ اجتماعی و نداشتن رشد لازم همزیستی به قدری حساس و زود رنج هستند و در عالم دوستی کم گذشت و سختگیرند که کوچکترین خلاف انتظاری را نمی بخشند و با دیدن یک غفلت و اشتباه از دوستان، به آسانی تسلیم احساسات خام و سوزان خویش می گردند و دست از تفاهم با آنها می شویند و با کدورت و رنجش خاطر عمیق پیوند مهر و علاقه خود را می برند و حال آن که در زندگی روشنایی و تاریکی، خار و گل، زشت و زیبا همواره در کنار یکدیگر قرار دارند. باید دانست که نبض حیات اجتماعی بر این پایه استوار است که در برابر استفاده از مزایایی چند، ضرورت دارد ناملایمات و خلاف انتظارها را تا حدودی تحمل کند و در عین حال از توقعات بی جا و تعقیب رؤیاهای بیهوده احتراز جوید و هنر زندگی همین است که بتوانیم حتی المقدور حالت انعطاف در برابر توقعات خویش به وجود آوریم. همه چیز را بر اساس تمایلات خویش ارزیابی کردن اشتباه است، ولی بسیارند کسانی که به طور شدیدی احساساتشان یک جانبه سیر می کند و در نهادشان حس خودخواهی و خودپرستی به قدری نیرومند است که واقع بینی را به کلی از دست می دهند و از سوی دیگر خود را نیز شکنجه و عذاب می کنند. در صورتی که واقع بینی و داشتن توقعات معقول و متناسب مایه آرامش درون است.

حزم و احتیاط در دوستی

دو فرد پاکدل که رفیق صمیمی و محرم یکدیگر شده اند در کمال خلوص و صفا با هم برخورد می کنند. اگر عاقل و مآل اندیش باشند باید از این نکته هرگز غفلت نورزند که پیوند

ی ز ـادان دوست

دوستی و رفاقت همیشه و در همه شرایط محکم و پایدار نمی ماند و ممکن است پیش آمدها و حوادثی رشته رفاقت را قطع کند و دوستی آن دو را به دشمنی مبدل سازد. بنابر این رفقای یک دل در ایام دوستی باید همواره از افراط و زیاده روی بپرهیزند. جوانان ساده دلی که در انتخاب دوست پیرو عواطف و احساسات آنی خود هستند و هرگز به فردای دوستی فکر نمی کنند و ارتباط امروز را یک پیوند ثابت و ناگسستنی می پندارند و به قدری در دوستی و یکرنگی افراط می کنند که گویی یک روحند در دو بدن؛ مثل هم لباس می پوشند، بر هر کوی و برزنی یکجا ایستاده اند، با هم از هر دری و سرّی سخن می گویند و هیچ رازی را از رفیق خود پنهان نمی کنند. باید بدانند ضرر این تندروی موقعی آشکار می شود که بر اثر یک پیش آمد نامطلوب با رنجش خاطر از هم قهر می کنند و دوستی آن دو به دشمنی مبدل می گردد. در این موقع است که برای انتقام‌جویی هر یک راز دیگری را فاش می کند تا بدین وسیله او را مفتضح و رسوا سازد.

حضرت رسول اکرم – صلی الله علیه وسلم – ارشاد می فرمایند: «أحبب حبیبک هونا ما، عسی أن یکون بغیضک یوما ما، و أبغض بغیضک هونا ما، عسی أن یکون حبیبک یوما ما» [ترمذی: ۱۹۹۷]

(در دوستی و دشمنی تندرویی نکنید، زیرا شاید روزی وضع تغییر کند و دوست، دشمن شود، و یا دشمن مورد علاقه تو واقع گردد و باب دوستی با او گشوده شود).

کتاب؛ دوستی با ارزش

هنگام فراغت و تنهایی نیز می توان دوستی باارزش برای خود برگزید. این دوست "کتاب" و اندیشیدن در اموری است که سبب رشد و تعالی فکری گردد. از راه دقت در نوشته های بزرگانی که هم اکنون سالهاست که جهان را وداع گفته و در آغوش خاک خفته اند با افکار و دانش و شخصیت واقعی آنها آگاه می شویم و از تعالیمشان بهره می گیریم. البته همان گونه که برای احتراز از خطر ناشی از تماس‌های نامتناسب می بایست در انتخاب دوست هوشیار بود، در برگزیدن کتاب نیز باید دقت فراوان مبذول داشت. هر کتابی قابل مطالعه نیست و ارزش صرف وقت را ندارد، زیرا نه تنها از چنین مطالعاتی سودی نمی توان برد بلکه افکار زهرآگینی که در صفحات برخی کتب نقش بسته روان‌های پاک را مسموم می سازد. پس مطالعه کتاب‌های سودمند کاری ارزنده است.

ثمرات معنوی دوستی مخلصانه

این گونه افراد در زیر سایه عرش الهی قرار می گیرند. آن حضرت – صلی الله علیه وسلم – می فرمایند: «سبعة یظلهم الله فی ظله یوم لا ظل إلاّ ظله ... منهم .... رجلان تحابا فی الله» [بخاری]

(خداوند هفت گروه را زیر سایه اش می گیرد آن روز که سایه ای جز سایه او نیست ..... از آن هفت گروه دو مردی که به خاطر خداوند با یکدیگر دوستی می کنند).

همه مردم در گرمای قیامت جمع شده اند و حرارت خورشید شدید است؛ عرق، خستگی، انتظار سالیان دراز، اما هفت گروه زیر سایه ایستاده اند نه زیر سایه درخت بلکه سایه عرش خداوند. از آن جمله دو نفری اند که به خاطر خداوند با هم دوست شده اند.

پس ای برادر! دوست کسی نیست که شرایط زمانه او را بر سر راهت قرار می دهد، بلکه کسی است که خودت او را انتخاب می کنی چرا که آن حضرت – صلی الله علیه وسلم – می فرمایند: «المرء مع من أحب» [متفق علیه]

انسان همراه کسی است که دوست می دارد

هر کس را دوست بداری روز قیامت همراه او خواهی بود. پس به نفست بگو که دوست داری همراه چه کسی باشی؟

دور باش از صحبت اهل فساد کآورد سستی بدین و اعتقاد
چون گل سوری حریف خار شد عاقبت دیدی جزایش نار شد
تا توانی صحبت نیکان گزین کآب را ناله بود از همنشین

(خواجه انصاری، مجموعه مسائل، ص: ۶۱۸)

# لـخـوا نـړۍ کـې د انــټـرنـېـټـې

رحیمي :......................................

**له استبداد نه دازادو خلکوژغورل ځما مسؤلیت دی**

**زه نه غواړم په داسي نړۍ کې اووسیږم چې زما هرقول اوفعل ثبت کیږي ...**

دادامریکا دڅارګري ادارې سي ای اې د هغه پخواني تخنیکر څرګندوني دي، چا چې په لومړي وار دامریکا یې حکومت له لوري دانټرنیټ اوتېلفونې څارنې په باب نړۍ ته حیرانونکي پټ معلومات افشا کړل....

دامریکا دڅارګرې ادارې (سي ای اې) دغه پخوانی مامور "ایدورډ سنوډن" نومیږي ، نوموړي پهـه لومړي ځل دبرتانوی ورځپاڼې ګارډین سره په یوه ځانګړې مرکه کې وویل :چې دامریکا حکومت په پراخه کچه دانټرنیټې اړیکو او دتیلفونې تماسونو څارنه کوي ، دګارډین له قوله :ایډورډو ویل:دامریکا څارګره اداره (سی ای اې) په امریکا اودامریکا څخه بیرون په پراخ لاس دانټرنیټ او اوتلیفون نیول کېدونکي تماسونه تعقیبوي ، دورځپاڼې په راپور څارګرې ادارې دپرزم(prism) نومي پروګرام له لارې دازادوخلکو ازادې شخصي اړیکې ، ویډیو ګانې ، انځورونه او بریښنایې لیکونه ګوري ،اویوشمیر خاص خلک تر نظر لاندې ساتي .هم داراز دامریکا حکومت دچین کمپیوټرونو ته ننوزي او له هغو نه معلومات هیک کوي ،

هغه داهم ویلي چې :په وروستیو کې دامریکا لوړپوړو حکومتي چارواکو له لورې دکانګرېس په وړاندې( ددروغجنو تورونو دیوه جال ) په لیدو اودهغه په وړاندې کولو مې دامریکا حکومت ددغو کړنو دافشاکولو پریکړه وکړه .

۲۹کلن ایډورډ سنوډن ویلي :ددې پروګرام دافشا کولو پریکړه ما نړۍ کې دازادو خلکو دژغورنې اودهغوئ دخوندیتوب په موخه کړي! ولې دازادو خلکو ژغورل اوخوندې کول مې مسؤلیت دی ، اونه غواړم چې په یوه داسې ټولنه کې ژوند وکړم چې پکې دغه ډول کارونه کیږي اونه دا راته دزغملو وه چې په یوه داسي نړۍ کې ژوندی پاتې شم په کومه کې چې ځما هر قول اوفعل ریکارډ ولی شي

دامریکا ترټولو دمنلي اومعتبري ورځپاڼې" واشنګټن پوسټ" له قوله:دامریکا څارګري ادارې سی ای اې دانټرنیټ دنهو لویو کمپنیو له سرورونو( servers)دهغو دټولو مشتریانو اړوند معلومات مخامخ اومستقیماً ترلاسه کوي چې په دې نهو کمپنیو کې یوټیوب ، ایپل ، یاهو ، ګوګل ، ټاک ، سکایپ ، مایکرو سافټ اوفېس بک هم راځي ...

کله چې دګارډین له خوا دغه راپورونه اومعلومات په لومړي ځل بیرون ته راغلل دامریکا دننه اوبیرون یې په اړه

مختلف غبرګونونه وښودل شول ،ډېرو خلکو ورسره له دې پلوه زياته علاقه مندي وښوده چې د "ويکي ليکس" څخه وروسته دامريکا په تاريخ کې دوهم لوی انکشاف دی چې دامريکا دملي امنيت مشر "جيمز کليپر" ومنله چې دامريکا حکومت له انټرنيټي خدمتونو وړاندې کونکو کمپنيو څخه دهغوئ دمشتريانو دخبرو اترو اوليکونو ريکارډونه ترلاسه کوي البته په دې لړ کې امريکايان مستثنی دي يوائې دبهرنيانو معلوماتو ترلاسه کول ددې پاليسۍ هدف دی.

دسنوډن له لورې دمعلوماتو په افشا کولو اوباما له سخت خجالت سره مخ شو ، هم دا وجه وه چې اوباما دهغه ددې کار په وړاندې پخپل غبرګون ښودو کې وويل: چې ددوئ ترهرڅه لومړۍ ترجيح دامريکا خوندي کول دي !دنړۍ دخلکو ايميلونه اوتيلفونونه ثبتول اودهغوکتل دترهګرۍ په ضد ددوئ وسله ده! دنورو امريکايې چارواکو په وينا : که په دغه پروګرام وړاندې عمل کېدای نوهيڅکله به ديوولسم ستمبر پېښه نه وه رامنځته شوي ،خوددې په مقابل کې دنړۍ دحقوق بشر تنظيمونه اوټولنې دامريکا دغه عمل غندي يونه ښنونکی جنايت يې بولي او دټول بشريت په ازادۍ مستقيم تيری اويرغل بولي ،هم يې دبشري اوښارې ازادۍ داصولو اومقرراتو څخه سرغړونه ګڼي.

دانټرنيټ په لويو کمپنيو کې فېس بک اومايکروسافټ هم اعتراف کړی دی چې ورنه په تېرو شپږو مياشتو کې امريکايانو دزرګونو مشتريانو په اړه دمعلوماتو ترلاسه کولو لپاره دوئ ته ليکونه ليږلي دي چې په هغو دوئ دقانون له مخې اجرآت کړي.

ښکاره ده چې دبوش په دوره کې منظور شوي قانون له مخې :دانټرنيت اوتېلفون په ټولو کمپنيو لازم ده چې دامريکا دملي امنيت اداري (سي ای اې )ته به دخپلو مشتريانو په اړه بشپړ معلومات ورسپارې، چې کوم مشترې په کوم وخت کې! له کوم ځايه غږيدلی! اوڅه يې وويلي …

دخبري راپورونو له مخې :ددغه پرزم( prism)نومي استخباراتي پروګرام ښکار نړۍ کې په ميليونو خلک دي ، خولومړی درجه زيات ښکارېږي ايرانيان ، دويمه درجه کې عربان ،پاکستانيان او افغانان دي ،اودا هغه هېوادونه دي چې دسي ای اې دهڅو لپاره دمرکزګريت په شکل غوره شوي له دې وجې نړۍ کې ډېر لوی شمېر خلک خپل انټرنيټي ادرسونه او تېلفوني شمېري خوندې نه احساسوي ، هم له امله يې په ټوله نړۍ کې دانټرنيټ اوتيلفوني خدمتونو وړاندې کونکې شرکتونه دخلکو لخوا دسختې بې باورۍ ښکاردي

بل پلو پخپله دامريکايانو په روحياتو ددغو انکشافاتو اومعلوماتو افشا کېدو دومره منفي اغيز کړی دی چې دهغوئ لوی شمېر اوس ځانونه اوخپل شخصي اکاونټونه خوندې نه ګڼي خو دامريکا حکومتي چارواکې دسي ای اې ددغه کار په کلکه ملاتړ کوي ، کله چې دامريکا دغه منافقت دسي ای اې دپخواني تخنيکر له خوافشا شو په غبرګون کې يې سملاسي دامريکا دکانګرېس وياندې "بوهنزلی" ايډورډ سنوډن" دغدار په نوم ياد کړ اودهغه له خوا ترسره شوی عمل يې محکوم کړ ، اودا کار يې دهغه له لورې دخلکو ژوندپه وړاندې ګواښ تعبير کړ ،هم يې د"ايډورډ سنوډن" په خلاف يې دتحقيقاتو غږوکړ

هغه وچې دنومورې په ضد تحقيقات پيل شول او دواشنګټن په يوه فدرالي محکمه کې تورن وپيژندل شو ، داچې سنوډن دمې به ۲۰مه نېټه هانګ کانګ ته لاړودی امريکا هڅه کوي چې له هانګ کانګ څخه يې امريکاته بوځي ، البته په وروستيو کې داسي راپورونه رسنيو خپاره کړل چې ايډورډ سنوډن هانګ کانګ کې له هغه هوټل نه بې درکه شوی په کوم چې استوګن و ،هم دامريکاپه فشار برتانوي دولت ددغه هېواد ټولو هوائي شرکتونوته لا وخت

په سر خبرداري وركړ چې دهيڅ يوه شركت الوتكه دې دسي ای اې دغه پخوانى تخنيكر مامور برتانيي ته نه ور ولي !

ددې راپوردخپريدو وروسته دورلډ وايډويب(www) پنځـونكي سـرټيم "برنـدز" پـه پـرزم پروګـرام خپـل سـخت خفګان اوناراضايت ښودلى دى اوڅرګنده كړې يې ده چې دامريكايې حكومت دغه ګام يې دټولوبشري حقونو څخه سرغړونه ګڼلي اوپه سختوټكيو كې يې محكوم كړى دى

ښكاره ده چې دپرزم پروګرام دامريكايانو ددوه مخي پاليسي څرګنده نمونه دى ، هغه امريكا چې تل نړۍ كې دبشرې حقونو ډنډوره غږوي دنړۍ ګڼ هېوادونه دحقوق بشـر پـه نقض تورنـوي اوځـان تـه دبشـري حقوقـو ددفـاع علمبـردار اومـدافع وايـي ، پـه عمـل كـې دادى پخپلـه دبشرحقونه په ښكاره ترپښولاندې كوي نړۍ دخلكو ازادي ګوابني ، دهغوئ په شخصي ژوندانه كې لاسوهنې كوي دا هغـو خلكـو لپـاره چې تـل يـې دامريكايـانو پـه ډېر صـفت شونډو پټري نيولي وي دپند اوعبرت ځاى دى چې ديوه امريكايې تبع سړي جرئت دامريكا يې منافقت كرغېړنه مجسمه نړۍ ته ښكاره كړه او دامريكا ظالمانه پاليسيو په ضد يې غږپورتـه كړ ښكارې چې دامريكا دننـه خلـك دامريكا دوحشيانه روش نه نور تنګ شوي كه امريكايې چـارواكې پوهـه اوعقـل لـري پـوهې شـي چـې داددوئ دپاليسيو په ضد دخپل كاله دننه دناراضايت لومړى څرك دى په راتلونكې كې شايد نور ځوانان هم ځانوته دغه لار غوره كړي اودامريكايې حكومت د نه ښښونكو جنايتونو په بربنډولو دامريكا دمكر اوفريب لـه شيطانې څېري پـرده پورته كړي!

## پـروژه جديـد پنتـاگـون : عساكـر قـربـانـى جنگ كـالـبد شكـافـى مـى شـونـد

نگرانـی در پنتـاگون از وضـعيت عسـاکر بازگشـته از جنگهـای عراق ،افغانستان و ديگر نقاط جهان روبه افزايش است.

آمـار افسـردگی و اختلالات روانـی در ميـان افسـران و سـربازان بازنشسته آمريكايی روند صعودی داشته و تعداد قابل توجهی از اين افسران و سربازان در سال‌های اخير دست به خودكشی، و ديگر جرايم خشن زده اندوزارت دفاع آمريكا در تازه‌ترين اظهارات خود اعلام كرده است كه يک تيم پزشكی مغز سربازان و افسران كشـته شـده را مـورد مطالعـه قـرار مـی‌دهـد تـا چرايـی و چگـونگی بـروز اخـتلالات جـدی عصـبی در ايـن قشـر از جامعـه را دريابـد. به نقل از فاكس نيوز، جاناتـان وودسون، معـاون وزير دفـاع آمريكا گفت: تيم پزشكی وزارت دفـاع آمريكـا تمام وسايل و امكانات لازم برای مطالعه مغز افسران كشته شده در جنگ را در اختيار دارد و اين كار بـه منظور حل مشكلات روحی و روانی افسـران و سـربازان بازنشسته امريكايی انجام می‌شود.

وودسـون تاكيـد كـرد: وزارت دفـاع امريكـا تـلاش دارد تـا بـه سـربازان و افسـران بازنشسـته امريكـا زنـدگی تـازه‌ای ببخشـد. دانيل پريل، رئيس بانک بافت سلول‌های مغزی تيم پزشكی وزارت دفاع آمريكا نيز گفت: ما از اين طريق می‌خواهيم بدانيم كه كدام عوامل باعث بروز مشكلات روحی و روانـی در سربازان و افسـران امريكايی شده است.

وی ادامه داد: وزارت دفاع امريكا بعد از چند سال تحقيق موفق به ايجاد يـک بانـک بافت سلول‌های مغزی شده و مركز ايـن بانـک تحت عنوان «علوم اعصاب و بافت‌های مغزی و احيای مغز پس از حادثه» در ايالت مريلند در نزديک واشنگتن است.

پريـل تصريح كرد: مـا بيش از يـک دهـه است كـه در جنگ قـرار داريم و زمانی كه سربازان ما به كشور برمی‌گردند با مشكلات زياد عصبی مواجه اند.

وی افـزود: ايـن مركـز در قـدم اول اخـتلال و مشـكلات عصـبی شماری از ورزشكاران بوكس و فوتبال امريكا را مـورد مطالعـه قـرار می‌دهـد و سـپس بـرای حل مشكلات عصبی سربازان امريكـايی بـه كار می‌رود.

مقـام‌هـای وزارت دفـاع امريكـا همچنـين اعـلام كردنـد: ايـن وزارتخانـه بـرای مطالعـه مغـز سربازان كشـته شـده از خـانواده آنهـا اجازه مى گيرد. منبع: گاردين

# دخپلواکۍ بدره!

*حلیمیار*

زه چې د وصل ښکلي باب د عشق
کتاب کې غواړم
بس لکه تږي مسافر چینې
سراب کې غواړم

خدایه! چې ستا لپاره تورو غروکې
شپې تېروي
هامسافر طالب مسجد او په
محراب کې غواړم

...اي د نایټ کلپ دفحاشۍ او
عریانۍ داعیانو!
زه مې دخپل وطن پېغلوټې په حجاب
کې غواړم

چې مستانه د الاهو په شور کې
وځنګېږم
ستاد توحیددترنم تار په
ربآب کې غواړم

چې له تورتم دغلامیو ځل

## غنا

د انس رضی الله عنه نه روایت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فریلي: چې د چا نیت د آخرت طلب وي الله تعالی به د هغه زړه د غنا نه ډک کړی) د زړه تسل او د مخلوق نه بې احتاجي به یې نصیب شي ( او د هغه پریشاني به لرې کړي او ذلیله شوې دنیا به ده ته راځي او د چا چې نیت د دنیا طلب وي نو الله تعالی به د هغه په تندې کې د احتیاج او پریشانی آثار پیدا کړي او حال به یې پریشانه وي) چه د هغه په وجه به ده ته تسلې او خاطر جمع هیڅ نه نصیب کیږي ( او د منډو ترړو سره سره به ده ته دومره قدرې پیدا کیږي څومره چې د ده دپاره مخکې لیکل شوې وي). ترمذی ۲۵۸۳ ، دارومي ۳۶۹۴ او احمد